علوموا کاډمي
ژبو او ادبیاتو مرکز

# کابل

ښځېنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله

دعلوموا کاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز میاشتنۍ علمي خپرونه، درېیمه دوره، ۱ ګڼه، وری، ۱۳۹۵ لمریز کال



په دې ګڼه کې لولئ


- مورنۍ ژبه، وده، پرمختګ، خنډونه، وړاندیزونه
- د دوست محمد خان کامل مومند لنډ ژوندلیک
- په افغان، افغاني او افاغنه کلمو پای ته رسېدلي کتابونه
- په پښتو ژبه او ادب کې د ادبي مطالعاتو تاریخي بهیر ته لنډه کتنه

او نور . . .


١

کابل مجله، دژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو انسټیټوټ علمي خپرونه



# Kabul

Monthly Journal

Academy of Sciences of Afghanistan (ASA)

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټیوت

د کابل مجلې مدیریت

# کابل

۱ ګڼه

**کابل: ژبنۍ، پوهنیزه- څېړنیزه، فولکلوري او ادبي میاشتنۍ**

## د کابل مجلې په دې ګڼه کې

## لیکلړ


| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| مورنۍ ژبه | حبیب الله رفیع | ۱ |
| د دوست محمد خان کامل | نصرالله ناصر | ۹ |
| په افغان، افغاني او افاغنه | پښتون آغا شېرزاد | ۱۹ |
| ناچاپ پښتو ګرامري | رفیع الله نیازی | ۲۷ |
| د محمد صدیق پسرلي د | م. امیري | ۴۴ |
| د مهدي شاه مهدی ژوند | ادم خان ملاتړ | ۶۰ |
| د حضرت عبدالرحمن بابا | احمدشاه زغم | ۶۹ |
| په پښتو ژبه او ادب کې | س. م. هاشمي | ۸۱ |
| د استاد عبدالروف بېنوا | جمیله سروري | ۸۷ |
| د فنا د زړه ټوټې | عادله ساپۍ | ۹۸ |
| د منشي احمد جان د | صحرا علیزۍ | ۱۰۸ |


## یادونه

- ✓ د کابل مجلې کتنپلاوی د رالېږل شوو مقالو په اوډون او سمون کې خپلواک دي.
- ✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده. لیکوال ته بويه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی په خپله وکړي.
- ✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.
- ✓ رالېږل شوې مقالې بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.


## مسوول مدير

څېړندوی سیدنظیم سیدي

## مهتممه

څېړنیاره شکیلا میاخېل

## کتنپلاوی

- ✓ څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي
- ✓ څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ
- ✓ څېړنپوه نصرالله ناصر
- ✓ څېړنپوه عبدالواجد واجد
- ✓ څېړندوی حبیب الله رفیع
- ✓ څېړندوی سیدنظیم سیدي

## کلنۍ ګډون بيې

- ✓ په کابل کې: «۳۰۰» افغانۍ
- ✓ په ولایاتو کې: «۳۶۰» افغانۍ
- ✓ په نورو هېوادونو کې: «۲۰» ډالره
- ✓ د زده کوونکو او محصلینو لپاره نیمه بیه
- ✓ د یوې ګڼې بیه: «۲۵» افغانۍ

کابل – د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت
اکاډمۍ څلور لارې
د پخوانۍ پښتو ټولنې ودانۍ



ټېلفون: ۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸
او: ۰۷۷۳۳۰۸۳۳۰
برېښلیک:
magazinekabul@gmail.com

څېړندوی حبيب الله رفيع

# مورنۍ ژبه

## وده، پرمختګ، خنډونه، وړاندېزونه

د انسانانو او نورو ژويو ترمنځ د بېلتون يوازينۍ کرښه ژبه او وينا ده او همدې نطق او وينا پر نورو حيوانانو بر کړی او لوړ کړی دی او همدې نطق او وينا د دې توان ور بخښلی، چې خپلې تجربې ورپسې نسلونو ته ولېږدوي او په ټولنيز ډول د پرمختګ او ارتقاء پر لور ګامونه واخلي، په داسې حال کې چې نور حيوانات دا توان نه لري، خپلې تجربې نه شي لېږدولی او کوم کارېې چې مور او پلار کړی وي اولادونه يې له سره پيلوي؛ نو ځکه يې ژوند پښه پر ځای او انفرادي دی او پرمختګ نه شي کولای، له دې سره چې انسان له پيدايښت نه تر اوسه د تجربې خښته پر خښته ږدي، د پرمختګ دې پوړۍ ته يې ځان رسولی دی او پرمخ ګامونه اخلي، مورنۍ ژبه د يوه اولس د بنيادي او بنسټيزه ژبه وي او ويونکي يې خپلې د زړه خبرې په بشپړ صراحت

او فصاحت پرې بیانولي او ځرګندولی شي او ورسره دا ژبه دې اولس د تشخص او پېژندګلوۍ وسیله هم وي.

د همدې مورنیو ژبو د اهمیت له امله د یونسکو نړیوال فرهنګي مرکز د هر کال د کب دوهمه نېټه د ژبو د نړیوالې ورځې په توګه وټاکله، څو اولسونه او ملتونه خپلې خپلې مورنۍ ژبې وپالي، پاملرنه ورته وکړي او دودې او پرمختګ لپاره یې لارې چارې ولټوي.

د نړۍ له زرهاو مورنیو ژبو نه یوه هم زموږ ملي ژبه پښتو ده، چې په لره او بره پښتونخوا او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د پنځوس، شپېته میلیونو نه زیات وګړي خبرې پرې کوي.

د نړۍ ملتونه د ژوند دوې دوې دورې لري، یوه تر تاریخ وړاندې او بله تاریخي دوره، خو د اریانا لرغوني افغانستان ژوند ملي مورخین په درېو دورو کې مطالعه کوي، یوه تر تاریخ وړاندې دوره.

بله د سرودونو دوره.

او درېیمه تاریخي دوره.

د سرودونو دوره کابو څلورنیم زره کاله عمر لري او په دې دوره کې ویدي او اوستایي سرودونه پنځېدلي او د لیک تر پیدایښت وړاندې خوله په خوله له یوه نسل نه بل نسل ته لېږدېدلي او د آریانا د ژوند د دې رڼې دورې استازیتوب کوي.

د پښتنو د قبیلو او قومونو ځایونو او سیندونو نومونه په همدې ویدي او اوستایي سرودونو کې راغلي او د دوی پر لرغونتوب ګواهي لي، د پښت یعنې پښتون، بریسا یعنې برېښ، اپاریتي یعنې اپریدي، اسپه زی یعنې یوسفزی او نورو ګڼو قومونو نومونه دې سرودونو خوندي کړي دي.

همدا راز دوی د سیمو او سیندونو نومونه لکه هیتومننه، هلمند، کرومو= کدرمه، چخره= ځرخ او نور ګڼ نومونه دي سرودونو ساتلي او را لېږدولي دي، دا روایات دا هم ښيي، چې پښتو یوه داسې کلتوري ټولنه رامنځ ته کړې، چې دا ټول قومونه په دې راټول دي او په یوه ژبه یې خبرې کولې، همدا راز د پښتو اولسي سندرې د همدې سرودونو لړۍ او ادامه ده.

د لیک تر پیدایښت وروسته دوه نیم زره کاله وړاندې د ایران د بیستون یو ډبرلیک کې د پښتو یوه منظومه راغلې او په همدې ډبرلیک کې د هغو پښتنو تصویرونه راغلي، چې له ګندهارا، اراکوزیا، هرات او باختر ته یې شاهي دربار ته سوغاتونه ور وړي دي.

دوه زره کاله وړاندې د سره کوتل په ډبرلیک کې چې په یونانو باختري لیکدود او آریو ژبه دی د پښتو کلمو د لیکدود لپاره د پښتو دیو خاص غږ توري ښيي یا ښین ته چې دا لوښان= اروابناد په کلمه کې راغلی دی، ځانګړې بڼه جوړه شوې، نیم زر کاله وړاندې د روزنان په کتیبه کې د پښتو شا هځوي لپاره په یونانو باختري لیک کې یو د Ž په بڼه یو ځانګړی توری جوړ شوی او همداسې پښتو اسلامي دورې ته را رسېدلې ده، غوریانو او سوریانو شاعري په کې کړې او خوندي کړې، حسن میوندي ځانګړې توري ورته جوړ کړي دي. بایزید روښان یو ځل بیا په لسمه هجري پېړۍ کې ځانګړې توري ورته جوړ کړي، اخوند درویزه هم بیل لیکدود ورته جوړ کړی، بیا خوشحال بابا د زنځیرۍ لیکدود په جوړولو سره پښتو ته یو بل د لیکدود مکتب جوړ کړی دی او ورسره د پښتو ادب زرین دور را پیل شوی دی.

د هوتکو په دوره کې پښتو رسمي ژبه شوه او شاه حسین هوتک د پښتو دورې او روزنې لپاره ادبي دربار جوړ کړ او ادبي کره کتنې یې پیل کړې، احمد شاه بابا پښتو د دفتر ژبه نه کړه، خو د پیر محمد کاکړ غونډې لوی ادبي شخصیت یې کندهار ته را

وغوښت او ده د پشتو ژبې د رسمي کېدلو لپاره معرفة الافغاني ولیکه، چې ټول رسمي اوامر او نواحي یې په کې ولیکل او شهزاده سلیمان ته یې وسپاره، چې پښتو عملاً د کار، سرکار او دربار ژبه کړي. فرمان ورکړه، فرمان واخله، فرمان به ورکړم او نور؛ خو د واک پر سر د ورونو اختلاف دا هیله نه هیله کړه او پښتو د فرمان تخت ته ونه ختله. امیر شیرعلیخان پښتو عسکري او رسمي ژبه کړه، د شلمې پېړۍ له را دبره کېدلو سره د حبیبې لیسې له لارې په هېواد کې عصري زده کړې پیل شوې او پښتو هم د دې لیسې یوه درسي ژبه وه، چې ارواښاد مولوي صالح محمد داسې کتاب ورته ولیکه، هلته په هند کې د لاهور په کالج کې پښتو درسي ژبه شوه او میراحمدشاه رضواني درسي کتابونه ورته ولیکل، محمود طرزي پښتو د اخبار ژبه کړه او انګریزان یې په هند کې ولړزول.

د خپلواکۍ تر ترلاسه کېدلو وروسته د هېواد لومړنۍ اساسي نظامنامه په پښتو ولیکل شوه او هم د «مرکه د پښتو» په نامه اکاډمي ورته جوړه شوه په ۱۳۱۶ کال پښتو د هېواد د ملي ژبې په حیث اعلان شوه او روزنې ته یې پښتو ټولنه جوړه شوه، د پوهنې درسونه لومړی په پښتو او بیا د پښتو ژبو او دري ژبو د سیمو د وېش په پښتو او دري شول.

د دیموکراسۍ په لسیزه کې اساسي قانون پښتو او دري رسمي ژبې وبللې او د پښتو ملي ژبه یې د پالنې توصیه یې حکومت ته وکړه، په همدې دوران کې څو څو ځلې د لرې او برې پښتونخوا پوهان سره کېناستل او د یوې واحدې معیاري ژبې لپاره یې پرېکړې وکړې. زموږ موجوده اساسي قانون ۴۳ مادې حکم وکړ، چې هر افغان دې له وړکتوب نه تر پوهنتون پورې په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي.

په دې ترتیب د مورنۍ ژبې پښتو د ودې پرمختګ او پالنې ټولنې حقوقي، قانوني، بشري او عملي لارې برابرې شوې، خو بیا هم پښتو لا پښه پر ځای ده او د

خپل قانوني حق د ترلاسه کولو لپاره یې خنډونه په مخه کې پراته دي. له یوې خوا خښتې کورني متعصبین نه پرېږدي، چې پښتو خپل ځای ولري، له بلې خوا ایران په وروستیو څو لسیزو کې کلتوري یرغل پیل کړی، ځینې چاپي، غږیزې او تصویري رسنۍ یې جوړې کړې تمویلوي یې او ورسره یې د مهاجرت په دوران کې ځینې کسان روزلي او رالېږلي چې د دوی د فرهنګي یرغل لپاره لاره هواره کړي، خصوصاً زموږ د ملي ترمینالوژۍ پر ځای د ایران ملي ترمینالوژي دلته راولي او خپله جوړه کړې ژبه پر موږ وتپي.

زه ایران ته تللی وم د دوی فرهنګستان اتیا زره لغتونه جوړ کړي او هڅه یې روانه کړې، چې دا ټول وار په وار را صادر کړي او زموږ د ملي ژبو د اصطلاحاتو ځای ونیسي.

بیا هم زه وایم که موږ په خپله جوړ وو د دښمنانو دښمني هېڅ هم نه شي کولای.

تر دې اوږدې سابقې وروسته زه یوه ډېر دردونکي بحث ته راځم، چې هغه زموږ خپله ګناه ده او هغه هم لهجو ته رجوع ده، د شرقي او غربي لهجې موضوع ده، د ننګرهارۍ او کندهارۍ ژبې موضوع ده. د ځینې لیکوالو شعوري هڅه ده چې لهجې لیکي او ژبه د نشت لوري ته بیايي او دا بحثونه یې را ولاړ کړي، چې ختیځه (شرقي) لهجه ښه ده یا لویدیځې (غربي) لهجه ښه ده او توصیه کوي، چې دا یا دا لهجه ولیکه. یو وخت یو کتاب راغی پرې لیکلي وو په کندهارۍ ژبه یا همداسې په شرقي لهجه ټینګار کېږي، زه چې داسې لیکنې ووینم په سترګو مې تیاره شي او وارخطا شم، چې اوس نو رښتیا پښتو ورکېږي، ځکه چې په خپله مو د مورنۍ ژبې د تاندې ونې څانګو پسې تبر را اخیستی دی.

زه نه شرقي يم نه غربي يوه ژبه پښتو پېژنم او د ټولو پښتنو واحده موريې ګڼم، له هغې ورځې مې چې قلم په لاس کې اخيستی خپله لهجه مې څنګ ته کړې ده په يوه پښتو ليکل کوم او حتی دنيا هم لهجوي نه کوم، بلکې په معياري ژبه يې کوم!

معياري ژبه کومه ده؟ اوس دا هم يوه پوښتنه ده، هر څوک خپله لهجه معياري ژبه بولي. ما شل کاله د شرق د لوی نابغه ارواښاد علامه عبدالحی حبيبي تر نظر لاندې کار کړی هغوی به راته ويل هغه ژبه ليکه، چې مور دې يې وايي. د دې معنا دا نه وه، چې لهجه وليکه د دې معنا دا وه، چې مسخ شوې ژبه مه ليکه، مور، چې کومه پښتو ليکو د دې تش لغتونه پښتو دي، ګرامري جوړښت يې تر ډېره حده دري دی، باختر آژانس زموږ ژبه له ۱۳۱۸ کال را وروسته، چې جوړ شوی دري کړې ده: لوبې په لاره اچولي دي، د کابل پوهنتون څخه ليدنه وکړه او... څه خبرونه چې اورو يا رسني يې وينو موږ ته ژبه په مسخ شوي شکل را رسوي، لوی استاد به په طنز ويل او ليکل پلاني په غونډه کې ګډون وکړ، پلاني تصميم ونيو، له کوم ځايه يې ونيو!

په هر حال! دا ډېره دردوونکې ده، چې موږ خپله ژبه په خپله له پښو وغورځو په غربي او شرقي يې وويشو، که دا وېش وکړو، نو بيا جنوبي او شمالي پاتې کېږي، هغوی به بيا خپلې لهجې ليکي، که د وزيرستان او نورو کرلانيو لهجو او د پکتيا د لهجو ويونکي قلم را واخلي او خپلې لهجې وليکي، نو بيا ورته ټينګ شه، چې له انګلستان نه ترجمان ورته راولې هم پرې پوه به نه شي، پلار به پلور ليکي، مور به مير ليکي او لور به لير ليکي، ځم په څم وايي او غلجي به بيا ژبه، ژرنده او ژوند، زبه، زرنده او زوند ليکي، مروت به ځم، جم ليکي، له ښځه نه به ښجه را تاو وي څوک به چو کوي او داسې نور.

کېدای شي ساده لهجوي توپیرونه وزغمل شي او ژبه ډېره زیانمنه نه کړي، سو اوسي او شو اوشي ډېر ضرر نه لري خو کله چې لهجې د ژبې ستر کچر او ګرامر خرابوي هلته یې لیکل کفر دی. مثلاً: طالبانو پر پنجوایي حمله وکړل او شل تنه یې ووژل.

جمله مفرد مونث دی، مفرد مونث فعل «وکړه» غواړي، شل تنه جمع مذکر ده، چې جمع مذکر فعل غواړي، دلته وکړل او ووژل یو راز فعل نه دی؛ خو وکړل غلط او وژل سم لیکل شوی دی، دا ډول غلط ته پښتو نه په لیکلو کې روا ده او نه په ویلو کې.

په هر حال! زه د داسې ګډوډۍ په لیدلو او اورېدلو هم خپه کېږم او په ویلو یې هم. زموږ د لرې پښتونخوا ورونه په خپلو لهجو کې ډېرې نیمګړتیاوې لري، په اکثره لهجو کې یې د ځ، ځ، ږ، ښ، غږونه نه شته پر ښه او برخه یو ډول وایي، څوک او سوک دواړه په سین تلفظ کوي، خو په لیکلو کې بیا هڅه کوي، چې سم یې ولیکي او که کله یې غلط ولیکي هم قصدي یې نه لیکي او چې پرې پوه شي سموي یې، حمزه بابا دې خدای وبخښي لوی پښتون و، خو کله کله به یې سترګه سترېه لیکله، ځکه د دوی په لهه کې د (ږ) او (ک) توپیر نه و؛ خو موږ چې قصدا لهجې ته پر ژبه ترجیح ورکو دا نه بخښونکې ګناه ده او باید مخه یې ونیسو، که داسې ونه کړو، نو بیا به د دښمنانو زور نه وي رسېدلی او موږ به په خپله ـ خپله ژبه ورکه کړې وي.

اوس موږ ته بویه چې د مورنۍ ژبې د یووالي، ودې او معیاریتوب لپاره د ټولو پښتنو لیکوالو یوه نماینده غونډه جوړه کړو، پر پخوانیو پرېکړو نوی نظر ورکړو، نوبې را ولاړې شوې ربړې وڅېړو او حل یې کړو او بالاخره یوه پښتو او معیاري پښتو په ګډه وپالو.

عرب ګڼ هېوادونه دي، ګڼې لهجې لري، داسې لهجې چې حتی نه سره پوهېږي، خو څه چې وایي هغه نه لیکي، بلکې په یوه فصیحه عربي یې اتفاق کړی، که په مجالسو کې وینا کوي هم په فصیح عربي یې کوي، که په اخبار او کتاب کې لیکنې

کوي هم په فصیح عربي یې کوي، که په راډیو او ټلویزیون کې غږېږي هم په فصیح عربي غږېږي، که لغتونه جوړوي هم په ملي سلایي جوړوي، نو ځکه یې ژبه نړیواله شوې او نړیوال اعتبار یې موندلی دی.

زه دیو داسې پښتون په توګه چې پوره پنځوس کاله مې دیوې مورنۍ ژبې خدمت کړی، له ټولو پښتنو لیکوالو نه که شرقي دي یا غربي، جنوبي دي یا شمالي په زاریو او ګلیو هیله لرم، چې یوه پښتو وپالي. یوه پښتو ولیکي او یوه پښتو ووایي.

سرې سرې اوښکې په ګرېوان عبدالقادره
دا مې یار ته دیاقوتو مهماني ده

راځي په دې هوکړه وکړو:

یوه پښتو یو پښتون
دا دی زموږ قانون

*څېړنپوه نصرالله ناصر*

**کامل مړ شو؟ نه! مړ نه شو! تل ژوندی شو!**
**کامل نه مري څو پښتو ده، څو پښتون دی**
**د کامل: کامل، کامل ژوندي کارونه**
**پښتنو ته په هر وخت نوی مضمون دی**
**(حبیب الله رفیع)**

# د دوست محمد خان کامل مومند لنډ ژوندلیک

## زوکړه، زده کړه او نسب:

له نن (۲۰۱۶ م) نه، سل کاله وړاندې د حسن خېل مومندو د یوې نومیالۍ، بارسوخه، مخورې او فرهنګي کورنۍ اړوند د قاضي فوجون خان*مومند په کاله کې چې د پېښور د قاضي خېلو** په سیمه کې استوګن و. د ۱۹۱۵ م کال د دسمبر په

* - ښاغلی همېش خلیل د پښتانه لیکوال د دوهم ټوک د دریم چاپ په ۲۹۷، ۲۹۸.... مخونو کې د فوجون خان پرځای فوځون خان لیکلی او د هغه د زوکړې سیمه یې د پېښور سکندرپوره ګڼلې ده.

**- د یادونې وړ ده، چې د کامل صاحب پلار او نیکه د نوښار په ډاګۍ نومي کلي کې اوسېدل، خو پلار یې فوجون خان د رسمي دندې له امله د پېښور په سکندرپوره کې استوګنه غوره کړې او همالته یې خپل کور آباد کړی دی.

شپاړسمه یوه ماشوم نړۍ ته سترګې وغړولې (۱) او کورنۍ یې ورباندې د دوست محمد ښکلی نوم ولوراوه.

دغه بختور او مستعد ماشوم د خپلې فرهنګي کورنۍ په چاپېریال کې ورو ورو را لوی شو او کله یې چې ښوونځي ته د تلو وړتیا وموندله نو پلار یې هغه په ښوونځي کې داخل کړ او لومړنۍ زده کړې یې د پېښور دریشۍ دروازې په ښوونځي کې ترسره کړې.

نوموړی د لومړنیو او ثانوي زده کړو د ترسره کولو پر مهال په یوه ښوونځي کې پاتې نه شو، ځکه کله به یې چې پلار له یوه ځایه بل ته تبدیلېده، نو دې به یې هم د هغې سیمې اړوند ښوونځي ته تبدیلاوه. هغه مهال چې پلار یې هریپور ته تبدیل شو، نو دی یې هم د هغې سیمې په سرکاري ښوونځي کې شامل کړ.

کله چې یې پلار په مردان کې په دنده بوخت و، دوست محمد خان کامل په ۱۹۳۲ م کال کې د مردان له یوه سرکاري ښوونځي څخه د لسم ټولګي د فراغت سند ترلاسه کړ. وروسته د لوړو زده کړو لپاره د پېښور په اسلامیه کالج کې شامل شو هلته یې په ۱۹۳۴ کال کې (ایف - اې) پاس کړه، خو په دې کالج کې یې د زده کړو ترڅنګ ځینو نورو مصروفیتونو ته هم مخه کړه او د نوموړي کالج د ادبي مجلې «خیبر» د اېډېټوریل بورډ یا کتنپلاوي غړی شو (۲).

په ۱۹۳۶ م کال کې یې له نوموړي کالج څخه د (بي - اې) سند ترلاسه کړ.

---

استاد کامل د خپلې قبیلې په اړه وایي:

قبیله مې حسن خېل ده په مومند کې
مېشته شوی په تپه کې د خټک یم

هغه ځانته د کامل تخلص غوره کړی و، چې په ځینو لیکنو کې د دوست محمد خان کامل په بڼه راغلی او په ځینو کې ورسره د مومند کلمه هم چې د ده د قبیلې نوم دی ور زیاته شوې ده او د دوست محمد خان کامل مومند په بڼه لیکل شوی او په همدې نامه یې شهرت موندلی دی.

که څه هم نوموړي د زده کړې په ټولو دورو کې له لوستلو او مطالعې سره سرو کار درلود او له هره حیثه یې ځان ښه رسولی و، خو بیا یې هم د پښتونخوا په دوو سترو کالجونو کې ترسره کړې زده کړې کافي ونه بللې او د لا لوړو زده کړو د دوام په منظور د هند د نیمې وچې په یوه لویه درسخانه، یعنې علیګړ مسلم یونیورسټي کې شامل شو. څرنګه چې نوموړی د غوره او لوړ استعداد څښتن و، نو ځکه یې په دوو کلونو کې له دغه پوهنتون څخه په ۱۹۳۸ م کال کې د M.A (په ټولنیزو علومو کې ماستري) سند ترلاسه او ورپسې په ۱۹۳۹ م کال کې د (ایل، ایل، بي) د سند په ترلاسه کولو هم بریالی شو او دا هغه مهال و، چې په عملي ډګر کې یې په حقوقي چارو پیل وکړ.

دوست محمد خان پر یادو رسمی زده کړو سربېره له یوه دیني عالم غلام غوث هزاروي څخه، چې د ده له پلار سره یې نیکې اړیکې لرلې، قرآن کریم له معنا سره ولوست (۳). نوموړی وروسته په سیمه او فرهنګي کړیو کې د یو ستر لیکوال، مورخ، کره کتونکي، ژورنالیست، متنپوه او نومیالي شاعر په توګه وپېژندل شو.

### دندې او بوختیاوې:

دوست محمد خان کامل مومند ته د هغه مهال د واکمنو له خوا وخت په وخت د ډېرو ښو دندو او عهدو وړاندیزونه شوي دي، خو هغه له دغو ټولو نه په خپل خپل وخت معذرت غوښتی او د هغو منلو ته یې غاړه نه ده اېښې.

د ساري په توګه په ۱۹۳۶ م کال کې چې دوست محمد خان کامل مومند له څوارلسم ټولګي نه فارغ التحصیل و، د هغه د تره چې خسر یې هم و په وسیله هغه ته په ایبټ آباد کې د یوې ښې دندې وړاندیز وشو، خو هغه دا دنده ونه منله، بلکې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، دا نوموړي ته د سرکاري دندو په لړ کې لومړنی پیشنهاد و. (۴)

کله یې چې په ۱۹۳۹ م کال کې د (ایل – ایل – بي) سند واخیست همدغه مهال یې په پېښور کې دارالوکاله خلاصه کړه او بالاخره د وکالت په چارو کې د یوه ماهر وکیل په توګه و پېژندل شو.

له لرې او نږدې ځایونو څخه به د مهمو مسایلو د حل او فصل لپاره ورته خلک راتلل.

دوست محمد خان کامل په ۱۹۴۸ م کال کې په نري رنځ اخته شو او دې ته اړ شو، چې څه موده له کاره لاس واخلي.

وروسته د درملنې لپاره د ډاډرسناتوریم ته لاړ او هلته پوره اته میاشتې تر درملنې لاندې و، چې کله یې روغتیایي حالت د ډاډ وړ شو، بېرته یې په کار پیل وکړ.

په ۱۹۴۹ – ۱۹۵۰ کلونو کې هغه ته په قضا کې د کار کولو سست وشو؛ خو ده هغه رد کړ. په ۱۹۵۱ م کال کې د اولسي ادبي جرګې لومړی سکرتر شو او ده وکولای شول، چې په لومړي ځل د خپل وخت پښتنو لیکوالو ته ادبي شعور ورکړي.

د ۱۹۶۲ – ۱۹۶۳م کلونو په بهیر کې ورته یو ځل بیا د قضایي چارو د پرمخبیولو وړاندیز وشو، خو ده دغه وړاندیز د پخوا په څېر رد کړ او د دغو چارو منلو ته یې غاړه کښېښوده. (۵)

لنډه دا چې د رسمي چارو د ترسره کولو یا د حکومت په چوکاټ کې یې د دندې پرمخبیولو او اجرا ته هېڅکله هم غاړه کښېښنوده او د دغسې دندو د اجرا په اړه شوي پیشنهادونه یې تل رد او نه یې دي منلي.

**ژبې**:

د دوست محمد خان کامل مومند مورنۍ ژبه پښتو وه، خو دی پر خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره په انګریزي، عربي، اردو او فارسي ژبو هم ډېر ښه پوهېده، وروسته یې هندکو ژبه هم د مطالعې او هلو ځلو په ترڅ کې زده کړه او روانې خبرې به یې پرې کولې.

هغه مهال چې نوموړی په علیګړ یونیورستي کې په زده کړه بوخت و. په وزګار وخت کې به شاوخوا کلو ته تـه او د سنسکریټ ژبې له پوهانو نه به یې دا ژبه زده کوله. (۶)

که په لنډه توګه ووایم د نوموړي (۷) ژبې زده وې او له دې اوو ژبو څخه یې په پنځو ژبو شعر هم وایه، لکه: پښتو، اردو، انګریزي، فارسي او عربي په دې ژبو یې لیکنې هم کړي او ژباړې هم.

دوست محمد خان کامل مومند لا د هرېپور د ښوونځي په اووم یا اتم ټولګي کې په زده کړو بوخت و، چې د شعر چینه یې را وخوټېده او همدا مهال یې چې عمر به یې ایله ۱۴ یا ۱۵ کاله و ډېر پاخه او معیاري شعرونه ویل، یعنې په ۱۴ یا ۱۵ کلنۍ کې یې په شعر ویلو پیل کړی دی.

دا مهال د «زمیندار» په نامه یو اخبار چلېده، په هغه کې به د نومیالیو او پېژندل شوو شاعرانو شعرونه خپرېدل، د ده یو فارسي نظم هم په دې اخبار کې خپور شوی دی، چې څو بیته یې دا دي:

دوش دیـــدم ســیف حــق رامـــن بـــه خـــواب
گفــــتمش احـــــوال درد و اضـــــطراب
گفـــت بـــا مـــن ای اســیر دشــــمنان
آیـــه «لاتحزنـــــو» را بــــاز خــــوان
تـــو بیـــا مـــوز ای مســلمان عشــق مــن
تـــا شـــوی آزاد از رنـــج و محســـن (۸)

د ده د شعر په اړه یو لیکوال وايي: د هغه په باب له شک او تردید پرته دا وینا کېدای شي، چې هغه د پښتو، اردو، انګریزۍ او فارسۍ د اوچتې درجې شاعر دی. (۹)

نومیالی لیکوال او شاعر همېش خلیل د ده د شعر په اړه لیکي:

«د یو کم ګو شاعر په حیث پښتو ادب کې د یو ځانله رنګ او شخصیت خاوند دی.... (۱۰)»

لکه دمخه مې چې وویل هغه په شو ژبو پوهېده، چې په ځینو یې نثر او شعر دواړه لیکل او له ځینو یې ژباړې کړې دي.

هغه د فارسي او اردو شعرونو یوه کوچنۍ ټولګه لري، چې چاپ شوې هم ده، همدا رنګه یې د پښتو شعرونو یوه ټولګه هم چاپ شوې ده. هغه د شاعرۍ ترڅنګ یو ښه مورخ، کره کتونکی او متنپوه هم و.

د ده د ژوند په بیلابېلو اړخونو او آثارو ډېرې خبرې کېدای شي، څرنګه چې دا د هغه یو لنډ ژوند لیک دی، نو ځکه یې په اړه په همدغو لنډو یادونو بسنه کوم او د ده د شخصیت د بیلابېلو اړخونو د رڼولو چارې نورو درنو لیکوالو او څېړونکو ته پرېږدم، خو د دې خبرو په پای کې د هغه د سیاسي مبارزې یادونه هم اړینه بولم.

استاد کامل په داسې شرایطو کې رالوی شو، چې د هند نیمه وچه په سرولمبو کې سوځېدله، نو یوازې هغه نه بلکې هېڅوک هم له سیاست نه گوښه نه شول پاتې کېدای. یو لیکوال یې په اړه لیکي:

"... کامل صاحب په عملي سیاست کې برخه واخیسته، دی د مسلم ځوانانو د فدارسیون د مشر په توگه زندان ته ولېږل شو، څه موده یې د زندان په تورو تیارو کې تېره کړه، له زندانه تر راوتلو وروسته د هند او پاکستان د وېش په دوران کې د مسلم ځوانانو د گوندي نشر او اشاعت اداره ور وسپارل شوه او دې کار ته یې په پوره مینه دوام ورکړ. " (۱۰)

دغه ستر او نومیالی لیکوال، مورخ، نقاد او شاعر د هغې اوږدې ناورغۍ له امله چې ډېر کلونه ورسره ملگرې وه بالاخره د کلونو کلونو فرهنگي خدمت له ترسره کولو وروسته د ۱۹۸۱م کال د فبروري د میاشتې په درویشتمه په یو روغتون کې سا ورکړه او له ابدیت سره یو ځای شو. اروا یې ښاده.

هغه د مړینې په سبا لس بجې د خپل وصیت مطابق په پشونگړو (پېبو) کې خاورو ته وسپارل شو. د جنازې لمونځ یې د مولانا محمد امیر بجلي گر په امامت ادا شو*.

کامل صاحب پر ځانگړو اثارو سربېره په پښتو، فارسي، اردو، انگریزي... ژبو ډېرې خورې ورې مقالې لیکلې، چې ځینې یې په دې لاندې او نورو موقوتو خپرونو کې خپرې شوې دي:

لار، رهبر، دوران، تنکیالی، الفلاح، قند، پښتو.... او نورې. (۱۱)

---

*- د میاسهیل انشاء مقاله. ۳۳ مخ.

له استاد کامل څخه ځینې ځانګړي اثار هم را پاتې دي، چې دلته یې یوائې لنډه یادونه کوم:

**الف) پښتو آثار:**

۱ – کلیات خوشحال خان خټک، لومړی چاپ، ۱۹۵۲ م، دوهم چاپ ۱۹۶۰ م. استاد کامل دغه اثر د استاد حبیبي د خوشحال خان خټک مرغلرې (د ۱۳۱۷ ل کال چاپ) او یوې قلمي نسخې له مخې چاپ ته چمتو کړی دی.

۲ – دیوان سکندر خان خټک، دا اثر یو ځل په ۱۹۵۳ او بیا په ۱۹۵۸ م کال چاپ شوی دی.

۳– رحمن بابا، د ۱۹۵۸ کال چاپ.

۴– په رحمن بابا یو نوی کتاب، د ۱۹۵۵ کال چاپ.

۵– د رحمن بابا کلیات، ۱۹۸۴ کال چاپ.

۶– ۱۶۳۰(د ده د یو اثر نوم دی)، د ۱۹۸۵ کال چاپ.

۷– د فکرونو ډیوې، د پښتو شعرونو ټولګه، ۱۹۹۳.

۸– تاریخ مرصع، د افضل خان خټک، انتقادي متن، ۱۹۷۵ م.

**ب) اردو آثار:**

۱ – خوشحال خان خټک، منثور اثر، د ۱۹۵۱ م کال چاپ.

**ج) فارسي، اردو:**

۱ – خمخانه یثرب، د ده اردو او فارسي شاعري، د ۱۹۷۸ کال چاپ.

**د) انګریزي:**

On a foreign approack
(۱۲) to khushal ۱۹٦۸

دغه اثر په ۱۳۶۲ کال کې د «دخوشحال خان ختک په اړه د بهرنیو پوهانو نظريې» تر سرليک لاندې د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا چاپ او خپور شوی دی، چې ښاغلي شیرمحمد کریمي له انګليسي څخه په پښتو ژباړلی دی.

ارواښاد دوست محمد کامل په خوږو شعرونه ويلي دي، چې د موضوع د نه اوږدولو په خاطر يې يوائې د پښتو شعر يوه بيلګه د هغه د کلام د نمونې په توګه راوړم:

ښايسته که هر څو ډېر دي
هسې نه چې ستا په څېر دي
د جهان خوبان مې وارہ
ستا د مخ په دور هېر دي
کرشمې د نورو هم زده
خو دا ستا لا په بل پېر دي
زه او ناز که د هر چا خو
پښتانه نياز ته زېر دي
لويه چار د زړه ستا تنه
نور خو تش په وره دلېر دي
د دنيا غمونه لاړل
ستا غمونه را چاپېر دي
دي آزاد هم هغه زړونه
چې په زلفو کې دې ګېر دي
زړه مې تل وي په کې جمع
که زلفان دې تېر و بېر دي

تـــــه زمـــــا زه کامـــــل ســـــتایم
کـــه تـــر شـــمېره ښایســـته تېـــر دي (۱۲)

**اخځلیکونه**:


۱- همېش خلیل، پښتانه لیکوال، یونیورستي پبلشر، لومړی ټوک، دریم چاپ، ۲۹۷ مخ.

۲- میا سهیل انشاء، ارواښاد دوست محمد خان کامل مومند، ماه کامل (د مقالو ټولګه)، اداره علم و فن...، پېښور، ۱۹۹۹، ۲۲-۲۴ مخونه.

د ارواښاد دوست محمدخان کامل مومند د زېږېدلو د نېټې په اړه ځینې توپیرونه شته، خو سمه نېټه یې همدغه د سپټمبر ۱۶ مه ۱۹ کال دي.

۳- همېش خلیل، هماغه اثر، ۲۹۸، ۲۹۹ مخونه.

۴- میاسهیل انشاء، هماغه اثر ۲۴ مخ.

۵- پورتنی اثر، ۲۵ مخ.

۶- میاسهیل، هماغه مقاله، ۲۳ مخ.

۷- دوست محمد خان کامل مومند، خمخانه یثرب، تحقیق او مقدمه د همېش خلیل، د فارسي او اردو شعرونو مجموعه، ۱۹۷۸ م، ۱۶ مخ.

۸- حنیف خلیل، د ماه کامل پر مجموعه څو خبرې، ۷ مخ.

۹- پښتانه لیکوال، لومړی ټوک، ۳۰۱ مخ.

۱۰- حبیب الله رفیع، هغوی چې بیا نه راځي، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ کال، ۲۱۷ مخ.

۱۱- پورتنی اثر، ۲۲۴ مخ.

۱۲- میاسهیل انشاء، هماغه مقاله، ۴۹ مخ.

۱۳- حبیب الله رفیع، هغوی چې بیا نه راځي، ۲۳۵ مخ.

پوهاند پښتون آقا شېرزاد

# په افغان، افغاني او افاغنه کلمو پای ته رسېدلي کتابونه

په افغان، افغاني او افاغنه کلمو پای ته رسیدلي اثار او کتابونه که څه هم په متفرق ډول شاید په ډیرو مقالو او اثارو کې له نورو کتابونو او آثارو ترڅنګ معرفي او پیژندل شوي وي په خپلواک او مستقل ډول به شاید نه وي معرفي شوي، دا ډول کتابونه زیاتره پخوا لیکل شوي، که وروسته یې ځینې لیکل شوي هغه هم په هماغه پخواني میتود او رویش لیکل شوي دي، دغه ډول کتابونه زیاتره د افغانانو او ځینې یې په ځانګړي توګه د پښتنو، ژوند، حالات، دود، دستور، تاریخي پیښو او د دوی تاریخ ته وقف شوي دي. ځینې دغه کتابونه په نثر او ځینې یې په نظم هم لیکل شوي دي، په دې مقالې کې مې زیار ایستلی، ترڅو په ډیر لنډ ډول لومړی هغه کتابونه چې په افغان پای ته رسیدلي وي، دویم هغه چې په افغاني پای ته رسېدلي وي او دریم هغه چې په افاغنه پای ته رسیدلي وي در وپیژنم. خدای دې وکړي ددغه ډول کتابونو د مینوالو تنده پرې ماته شي.

**۱ – تذکرة اولیا افغان :** اوس نه شته خو د استاد حبیب الله رفیع د وینا پر اساس دا به د پښتنو روحاني شاعرانو او ولیانو تذکره وه. ددې تذکرې لیکوال شیخ قاسم دی د دې تذکرې یادونه داخوند درویزه په تذکرة الابرار والاشرار او مخزن افغان کې شوې ده. (۱ : ۳۵مخ)

**۲ –اولیای افغان (تاریخ افغاني) :** ددې تذکرې لیکوال شیخ امام الدین خلیل غوریاخیل دی پلار یې شیخ کبیر نومیده (۱۰۲۰) کې زیږیدلی او په (۱۰۶۰) کې مړ دی.

د دې تذکرې نوم په پټه خزانه کې راغلی دی او قلمي نسخه یې په ارګ کې وه په پارسي ژبه د پښتنو تاریخ دی. (۴ : ۲۶مخ)

**۳ – ترسنامه افغان :** دغه منظوم اثر چې د مثنوي په بڼه د قابل اورکزي له خوا نظم شوی، قابل اورکزی د احمدشاهي دوران (۱۱۶۰ – ۱۱۸۶) شاعر و، په ډهلي، لاهور او پېښور کې چاپ شوی دی.

**۴ – خزان د افغان :** د پښتنو سیاسي، ټولنیز، وران او ویجاړ حالات بیانوي. د ۱۶ مخونو په چوکاټ کې د مثنوي په قالب کې د راحت زاخیلي له خوا نظم شوی او په پېښور کې چاپ شوی دی. (۵ : ۶۱۵مخ)

**۵ – فریضت الافغان:** دغه اثر د نام حق څخه پښتو ته په مثنوي قالب کې ۱۲۱۹ هـ ق کال کې نصرالله نومي را ژباړلی دی، خطي نسخه یې له ښاغلي بریښ او سیال کاکړ سره شته. (۵ : ۱۵۲مخ)

**۶ – شجره نسب افغانان :** ددې کتاب لیکوال محمدعمر د ابراهیم زوی اصلاً د باجوړ د میاکلي و. په ۱۱۹۰ هـ ق کال وفات شوی دی. (۴ : ۶۱مخ)

**۷ – مخزن افغاني :** د مخزن افغاني لیکوال نعمت الله هروي د حبیب الله زوی او د هرات له پښتنو څخه و. نوموړی اثر یې په دري ژبه ۱۰۲۰ هـ ق کال کې ولیکه،

نوموړی اثر په پارسي ژبه د پښتنو تاریخ دی په ۱۸۳۶ کال هورن په لندن کې په انګلیسي ژبه خپور کړ، نوموړی لیکوال د جهانګیر مغلي پاچا په زمانه کې د هغه په دربار کې و.

۸ – **صولت افغاني :** صولت خان په هند کې اوسیده، د پښتنو تاریخ یې په اردو ژبه ولیکه په ۱۸۷۶ م کال کې چاپ شو. دا کتاب د هند افغانانو او کورنیو په باب معلومات لري. (۴ : ۶۵مخ)

۹ – **سعادت نامه افغاني :** سعادت نامه افغاني په پښتو ژبه لیکل شوی او د پښتنو دودیز تاریخ دی، مؤلف یې سعادت خان دی. په ۱۸۶۶ م د ۱۲۹۰ هـ ق مطابق د پیښور جیل چاپ خانه کې چاپ شوی دی.

ښاغلي زلمي هیوادمل د فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ۲۲ مخ کې لیکلي : دغه تاریخي اثر د صوبه سرحد د شمال مغرب پښتنو د مهاجرت احوال بیانوي. (۵ : ۲۲ مخ)

۱۰ – **مجموعه مناجات جدید افغاني :** د سیداحمد، احمدي صاحب زاده، محمدخان او محمدګل د مناجاتو ټولګه ده، ټول ټال ۱۶ مخه په ۱۳۳۹ هـ ق کال په لاهور کې چاپ شوې ده. (۵ : ۱۹۱ مخ)

۱۱ – **مجموع وظایف افغاني :** په دې ټولګه کې څو دیني نظمونه د مربع په قالب کې د خدای (ج) ۹۹ نومونه، دیني قصیدې او یوه دعایه شته. د دې ټولګې لیکوال شیرمحمد دی، ټول ټال ۷۲ مخه او په لاهور کې چاپ شوی ده. (۵ : ۱۹۱مخ)

۱۲ – **مکتوبات افغاني :** د لویانو، ماشومانو او منځني عمر لرونکو په اړه معلومات لري، قاضي رحیم الله خان خلیل لیکلی، ۱۶۰ مخه او په کال ۱۹۳۸ کې په پیښور کې چاپ شوی دی.

۱۳ – **جمال افغاني :** د حیات افغاني پښتو ژباړه ده، چې د سیدجمال الدین افغان دژوند حالات په کې ذکر شوي دي. د پروفیسور عبدالمجید له خوا پښتو ته ژباړل شوی په ۱۳۴۰ هـ ق کال مطابق ۱۹۱۶ع په ۱۰۰ مخو کې د هند په اګره کې چاپ شوی دی. (۵ : ۱۲۱ مخ)

۱۴ – **خزانه افغاني :** پښتو خودآموز اثر دی، چې په مقابل کې انګلیسي ژباړه هم لري ددې اثر مؤلف مولوي محمداسمعیل خان دی په ۳۸۵ مخونو کې په ۱۸۸۹ کال لاهور کې چاپ شو. (۵ : ۶۱۵ مخ)

۱۵ – **ګلدسته افغاني :** دغه اثر د سیدمحسن کندهاري له خوا د حبیب الله خان په غوښتنه په پښتو ژبه د دري ژبو ویونکو د پښتو زده کړې په خاطر لیکل شوی دی.

۱۶ – **بیانات افغاني :** په غالب ګومان د ملاعبدالغني کاسي له خوا ۱۱۴۲ هـ ق کال خطاطي شوی او د ملاعبدالغني کاسي منظومې ټوټې په کې راغلي دي.

۱۷ – **معرفت الافغاني :** ویل کیږي چې د پښتو زده کړې لومړنی لیکل شوی کتاب دی، چې پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبې شاعر او لیکوال له ۱۱۸۶ کال څخه وړاندې کښلی دی، څلور بابه یې نظم دي (۶: ۴۳۸مخ)

۱۸ – **طب شهاب افغاني :** دا اثر په ۱۳۰۷ هـ ق کال د لاهور په مجتبایي مطبعه کې چاپ شوی او د لعل بیک خراساني تالیف بلل شوی، د طب په اړه منظومې برخې لري. دوه منثورې رسالې هم په کې شته . (۶ : ۵۸۶ مخ)

۱۹ – **ګلشن اشعار افغاني :** ددې اثر لیکوال د پیښور د صوابۍ او سیدونکی سیدعمر دی، چې دولسي شاعرانو اشعار یې په کې را ټول کړي. (۶ : ۶۰۳ مخ)

۲۰ – **ګنجینه فال افغاني :** د دغه اثر لیکوال د پچګۍ عجب خان نومیږي، منثورې او منظومې برخې لري. ۱۱۲ مخه په ۱۳۴۶ هـ ق کال په پیښور کې چاپ شوی دی. (۶ : ۵۹۴ مخ)

۲۱ – **فتاوای نجم اهداي افغاني:** دغه اثر له پارسي څخه قاضي ګل احمد په روان نثر ژباړلی، د دغه اثر چې په دوه ټوکو کې لیکل شوی دیني موضوعاتو ته وقف دی. لومړی ټوک یې ۳۰۶مخه او دویم یې ۲۲۴ مخه دی. په ۱۳۳۱ هـ ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

۲۲ – **در مجالس افغاني:** دیني، مذهبي او انتباهي اثر دی، چې ملا نعمت الله هیروي په مثنوي قالب کې نظم کړی دی . ۲۴۰ مخونو کې په ۱۳۲۴ هـ ق کال په لاهور کې چاپ شوی دی. (۲ : ۵۱۸مخ)

۲۳ – **آئینه الفاظ افغاني:** دغه اثر محمداسمعیل شاعر او لیکوال په ۱۳۰۰ هـ ق کې تألیف کړی، داردو ژبو لپاره په پښتو لیکل شوی ځیني نور کتابونه هم ده لیکلي لکه خزینه افغاني، سوال او جواب افغاني، ګفتګوی افغاني. (۶ : ۶۹۹مخ)

۲۴ – **چمن افغاني :** د نظامي ګنجوي د سکندر نامي ژباړه ده، ۱۲۹۱ هـ ق کال نورالدین په پښتو مثنوي کې نظم کړې ده، تر اوسه چاپ نه ده، خطي نسخه یې د پیښور موزیم کې خوندي ده. (۵ : ۵۲مخ)

۲۵ – **خاطرات سیدجمال الدین افغاني :** دغه اثر چې د سیدجمال الدین افغان سیاسي او ټولنیز افکار په بر کې نیسي. له عربي څخه محمدشاه ارشاد، پښتو ته ژباړلی ۲۹۱ مخه په ۱۳۵۲ هـ ق کال د بیهقي نشراتي مؤسسې له خوا چاپ شوی.

۲۶ – **ضابطه افغاني :** په اردو ژبه د مولوي دوست محمد ټونکي له خوا ۱۲۹۹ هـ ق کال څخه وړاندې لیکل شوی. د پښتو زده کوونکو لپاره پښتو منظوم او منثور متن هم په کې شته. نثریې داندړو په ژبه دی. (۶ : ۱۹۴ مخ)

۲۷ – **کلید افغاني :** دغه اثر د نامتو مستتژق پادري هیوز د پښتو انتخابي کتابونو یو ښکلی اثر دی، ۴۱۸ مخونه لري ۲۴۰ مخه یې د نثر انتخاب او ۱۶۲ مخونه یې د نظم

انتخاب دی، شپاړس مخه یې د پښتو لیکونو نیولي دي په ۱۸۷۲ کال لاهور کې چاپ شوی دی. (۱: ۶۸مخ)

**۲۹- بهار گلش افغاني :** د مختلفو شاعرانو د شعرونو نمونې په کې راغلې دي، ټولوونکی یې معلوم نه دی، د گهړک سنگ په فرمایش او مالي لګښت په ۱۳۵۱ هـ ق کال د منشي برکت علي په اهتمام د لاهور په انار کلي مطبعه کې چاپ شوی دی. (۱: ۷مخ)

**۳۰- بهارستان افغاني :** د انتخابي نثر او نظم ښکلی اثر دی، چې قاضي میراحمدشاه رضواني لیکلی او ټول کړی دی، ۱۰۴ مخونو په کچه ۱۸۹۸ کال لاهور مطبعه مفید عام کې چاپ شوی دی. (۱ : ۷۲مخ)

**۳۱- شکرستان افغاني :** دا کتاب د قاضي میراحمدشاه رضواني انتخابي اثر دی د درسي سلسلې لپاره لیکل شوی، ۱۱۲ مخونه په ۱۹۵۴ کال نظم او نثر کې چاپ شوی دی.

**۳۲- حیات افغاني :** حیات افغاني د پښتنو د ژوند او حالاتو پنډ تاریخ دی چې محمد حیات خان لیکلی او په ۱۸۶۷ع کال په لاهور کې او بیا وروسته افغانستان او نورو ځایونو کې هم چاپ شوی دی. (۳ : ۱مخ)

**۳۳- مرات الافاغنه :** د دې کتاب لیکوال خان جهان لودي دی، نعمت الله هروي وایي : چې خان جهان لودي په ۹۰۱ هـ ق کال وفات شوی شاید د پښتنو پاچهانو، روحانیونو او د سکندر لودي احوال یې په کې کښلي وي.

**۳۴- ایمت الافاغنه :** د دې کتاب لیکوال ابوالخطیر شیرازي ۴۶۳ هـ ق مړ دی، ده په عربي ژبه لیکلی، وروسته بیا په پارسي او پښتو ترجمه شوی دی.

**۳۵- اسرارالافاغنه:** دا کتاب په پښتو ژبه صابر د خضر زوی لیکلی دی، بیا وروسته له پښتو څخه خیرالدین پارسي ته وژباړه دا کتاب شاید د ۱۰۰۰ هـ ق شاوخوا لیکل شوی وي. (۴ : ۷۴ مخ)

**۳۶- تواریخ افاغنه:** د ۱۰۳۳ او ۱۰۳۱ کلونو تر منځ د خواجه ملیزي په قلم تالیف شوی دی، په دې کتاب کې له ۸۸۰ تر ۹۹۴ کلونو پورې د پښتنو قبیلو هجرتونه او جنګي پیښې لیکل شوي، بیا وروسته دغه کتاب د معظم شاه له خوا په پښتو ژبه د تواریخ رحمت خاني تر عنوان لاندې لیکل شوی (۴ : ۷۵ مخ)

**۳۷- تاریخ افاغنه :** د دې کتاب مولف محمدشهاب الدین خان دی په اردو ژبه په دوه ټوکونو کې په ۱۳۲۳ هـ ق کال چاپ شوی، اصلاً د پښتنو تاریخ دی.

**پایله**

په سریزه کې مو یادونه کړې ده، چې په دغو آثارو کې زیاتره موضوعات د پښتنو د تاریخ ژوند او حالاتو په اړوند شتون لري، خو یوه خبره بله هم پرې زیاتوم هغه دا چې د پښتنو د ژوند، تاریخ او حالاتو برسیره ځینې داسې کتابونه او اثاره هم په کې شته چې هغه د پښتنو شاعرانو او لیکوالو انتخابي نظم او نثر ته وقف شوي او مختلف موضوعات په کې نغښتي دي، همدا شان ما ډیر کوشش وکړ چې ټول هغه کتابونه چې په افغان، افغاني او افاغنه کلمو پای ته رسیدلي دي، دلته معرفي کړم، خو باور لرم چې نور به هم وي چې زما لاس ورته نه دی رسیدلي نو ژمنه کوم چې پاتې کتابونه او اثار به په دویمه مقاله کې که ژوند و راټول کړم او تر تاسو به یې در ورسوم اوس همدومره وتوانیدم چې د ۳۷ عنوانونو شاوخوا اثار در وپیژنم. دا ډول لیکنې د تذکره لیکونکو، ادب تاریخ لیکونکو، متن لیکونکو او نورو پیښو څیړونکو لپاره ډیره ګټه لري، ځکه هغه کتابونه په متفرق ډول موجود دي او څیړونکي ته په اسانه سره لاس ته نه شي ورتلای، خو که دغسې په یوه مقاله کې را ټول شوي وي، نو څیړونکو ته په

ډېره اسانه لاس ته ورتلای شي او د ډېرو ستونزو څخه خلاصیږي، په هر صورت که زمانه کومه نیمګړتیا په دغه لیکنه کې تاسو قدرمنو لوستونکو ته د لوستلو پر وخت مخې ته درځي راته یې وښایاست ترڅو په نورو لیکنو کې یې پوره کړم.

**اخځلیکونه**:


۱– رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۰ل.ل). پخوانی تذکرې، کابل: دولتي مطبعه.

۲– رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۶ل.ل). پښتو پانګه ۲جلد، کابل: دولتي مطبعه.

۳– حیات، محمدحیات خان. (۱۳۸۶ل.ل). حیات افغاني، پوهاند رشاد په زیار، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴– حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۳ل.ل) نوم ورکي مؤرخین، دویم چاپ، کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

۵– هیوادمل، زلمی. (۱۳۵۶ل.ل). فرهنګ زبان وادبیات پشتو، کابل: دولتي مطبعه.

۶– هیوادمل، زلمی. (۱۳۹۰ل.ل). پښتو نشراته سوه کاله، کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

څېړندوی رفیع الله نیازی

# ناچاپ پښتو ګرامري آثار

په پښتو ژبه کې ځینې داسې ګرامري آثار هم شته چې لیکل شوي ، خو تر اوسه پورې چاپ ته سترګې په لار دي. په دې اثارو کې ځینې یې ډېر پخوا لیکل شوي او ځینې راوروسته لیکل شوي دي. یو شمېر یې بهرنیانو هم لیکلي دي ځینې یې د لسانس او ماستری د مونوګراف او تیسس لپاره لیکل شوي. په دې برخه کې هم ځینې ګرامرونه یوازې پر یوه ګرامري موضوع لیکل شوي او ځینې نور پر ګرامري موضوعاتو سر بېره نورې برخې هم لري چې په لاندې ډول دي:

۱ - **ریاض المحبت**: ۱۱۸۵ **هـ ل** ۱۸۰۶

دا ګرامري اثر نواب محبت خان ، چې د حافظ رحمت خان زوی او د لرغوني کندهار د ښوراوک او سپدونکی په قوم بړېڅ دی لیکلی او پر ۱۱۸۵ هـ کال په لاس لیکل شوی خپور شوی دی. دا اثر ۷۲۵ مخونه لري ، چې د لغاتو او ګرامریو ګډ اثر دی او دوه څپرکی لري. ددې اثر په اړه دا خبره هم د یادولو وړ ده ، چې لیکدودیې له اوسني لیکدود سره توپیر لري. د نواب محبت خان

ریاض المحبت د پښتو دوهم ژبډودیز کتاب دی ، چې دوه برخې لري؛ لومړۍ برخه یې مشتقات او دوهمه برخه یې متفرقات دي. په حقیقت کې لومړۍ برخه یې یو ځانګړی توک دی، چې خطي نسخه یې ۵۹۵ پاڼې لري او ۱۱۹ مخونه کېږي ، په دې توک کې د پښتو مصادر له مشتقاتو او تشریحاتو سره راغلي دي، چې د ۲۰۰ شاوخوا ریښې یې څېړلي او له هرې یوې سره یې د مشتقاتو بشپړ ګردان راوړی دی. د ریاض المحبت دوهم توک تشریحي قاموس دی، چې لغتونه په مجرد ډول څېړي او شرحه کوي یې. محققین په یوه خوله ددې کتاب لومړی توک ګرامري کتاب بولي او وایي چې دژبې ګرامري قواعد تشریح کوي، خو حقیقت دادی، چې په دې کتاب کې یې صرف صرفي ګردانونه راوړي، شرحه یې ورکړې او نوښت یې دا کړی، چې مصدري ریښې یې په قاموسي ډول دلومړي، دویم توري په ترتیب راوړي، چې یو ګډ قاموسي او ګرامري کار دی. ریاض المحبت د پیر محمد کاکړ تر معرفت الافغاني ۳۵ کاله وروسته پر ۱۲۲۱ هـ ق تألیف شوی ، ریاض المحبت تر دې دمه نه دی چاپ شوی، خو خطي نسخې یې په هندوستان، انګلستان او لېننګراد کې شته. ددغه کتاب په سریزه کې پر پښتو تورو بحث شوی او د پښتو توریو په ترتیب او پېژندګلوۍ یې خبرې کړې دي. همداراز په پښتو کې په ساکن ابتدا او د دوو یا درېیو ساکنو یو ځای راتلو ته هم متوجه شوی دی ، خو زور او زورکي ته نه دی متوجه شوی دواړه یې فتحه بللي دي. د کتاب د متن په ترتیب کې یې هره ریښه له مصدره رانښلولې او بیا یې د افعالو د بېلابېلو حالتونو له مخې ګردان بشپړ کړی. په ریاض المحبت کې ټول مصدرونه ۲۰۰ دی ، خو د یوه مصدر مشتقاتو پنځه شپږ مخه نیولي دي. (۱)

د پښتو ژبې یو بل څېړونکی ښاغلی نصرالله ناصر، په خپله یوه لیکنه کې د ریاض المحبت په اړه وایي: " دا چې ځینې محترم پوهان یې یوه برخه ګرامر او بله برخه یې قاموس ګڼي دا د هغوی خپل نظر دی ، خو پخپله مولف او زموږ زیاتره پوهان دا اثر دوه بابه یا دوه برخې ګڼي: مشتقات او متفرقات. زه پخپله د ژبپوهنې د یوه مبتدي شاګرد په توګه د همدغه وروستي نظر د تایید په ترڅ کې وایم ، چې ریاض المحبت یو پښتو په فارسي تشریحي فرهنګ دی، چې یوه برخه یې مشتقات او بله یې متفرقات دي، چې په لومړۍ برخه ( مشتقاتو) کې د ژبې ګرامري خصوصیات هم په پام کې نیول شوي او دیوه لغت بېلابېلې بڼې او حالتونه یې تشریح کړي ، خو اصل اثر قاموس دی نه ګرامر، چې پخپله محبت خان هم فرهنګ بللی دی نه ګرامر ".(۲)

**۲ - د پښتو ګرامر**: ۱۸۱۷ ز

د دغه کتاب لیکونکی نواب انشأ الله خان انشا دی پر ۱۸۱۷ ز کال یې لیکلی او ښاغلي خیال بخاري د ګرامر په سریزه کې هم د دغه کتاب یادونه کړې ده ، خو په اړه یې نور معلومات نشته.(۳)

**۳ - پښتو ګرامر**:

دا ګرامر ارواښاد منشي احمد جان لیکلی، چې نه یې د چاپ کال معلوم دی او نه اوس پیدا کېږي. ددې ګرامر په اړه ما په بل ځای کې کومه یادونه نه ده لیدلې، خو ډاکټر صاحب خالد خان خټک یې په خپله مقاله کې یادونه کړې، نو موږ هم دلته کټ مټ راوړ. (۴)

**٤ - د پښتو مفصل ګرامر د صرف برخه**:

دا ګرامري اثر ۵۱۸ مخونه لري او په ۵۱۸ مخ کې یې لیکوال لیکلي، چې دا کتاب د ۱۳۳۸ هـ ل کال د سرطان میاشتې پر دویمه نېټه پای ته

رسېدلی، خو لـه بـده مرغـه تـر دې دمـه دغـه د پښتو ګرامـر نـه دی چاپ شـوی او د افغانسـتان د علومـو اکـاډمۍ پـه خطي نسخو کـې پـه ۱۳۱ شـمېره ثبت او خونـدي دی.(۵)

**۵ - پښتو مصادر وفرهنګ**:

دا ګرامـري اثـر ۲۹۰ مخونـه لـري او پـه لاس لیکـل شـوی ، چـې د افغانسـتان د علومـو اکـاډمۍ پـه کتـابتون کـې د خطي نسـخو پـه ډله کې پـه ۳۵۴ شـمېره ثبـت او خونـدي دی او د مولـوي شـېرګل پـه دري ژبـه لیکلـی دی. پـر لـومړي مـخ یـې یـو یادښـت لیکـل شـوی، چـې دا کتـاب لـه لـومړي مخـه تـر ۳۴ مـخ پـورې بشـپړ او بیـا لـه هغـه وروسـته پـه منـځ کـې یـې ځینـې مخونـه یعنـې صـفحې نشـته او لـه ۲۱۵ مخه وروسته تر پایه پورې بشپړ دی. (٦)

**٦ - تحفة الامیر**:

دا ګرامـري اثـر مولـوي نـور محمـد پـر ۱۲۸۰ هــ ل کـال پـه دری ژبـه لیکلـی او د پښـتو د صـرف او نحـوې برخـې لـري ، اوس د افغانسـتان د علومـو اکـاډمۍ پـه کتـابتون کـې د خطـي نسـخو پـه کتـار کـې پـه ۱۶۰ شـمېره ثبـت او خونـدي دی. د اکـاډمۍ دغـه خطي نسخه د پـاڼو شـمېره نـه لـري مـا یـې چـې پـاڼې وشـمېرلې ۱۲۰ پاڼې یعنې ورقې وې. (۷)

۷ – A case Grammar study of the Pashto verb

د نـوي کـېس ګرامـر پـه رڼـا کـې د پښـتو فعـل مطالعـه د ژېپوهانـد ښـاغلي ډاکتـر صاحب خالـد خـان خټـک د پـي .ایچ .ډي تېـسس دی، چـې پـر ۱۹۸۸ز کـال یـې د لنـدن پوهنتـون د اوریېنټـل او افریقـایي مطالعـاتو د پـوهنځي د ژبپـوهنې پـه ډیپارټمینـټ کـې پـه ژبپوهنـه کـې د دوکتـورا اخیسـتنې لپـاره لیکلـی دی. د دې اثـر د لیکـوال پـه وینـا د ا پـه

ټوله کوزه پښتونخوا (خیبر بښتونخوا) کې په پښتو ګرامر کې لومړنی دوکتورا ده چې اخیستل شوې ده. (۸)

**۸ - اوښتونکي نومونه:**

دا ګرامري اثر د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پوهنیار محمد صابر خوېشکي د پوهنملۍ علمي رتبې تر لاسه کولو لپاره د پوهاند مجاور احمد زیار تر لارښوونې لاندې په ۶۹ مخونو کې پر ۱۳۶۱ هـ ل کال کې لیکلی دی . (۹)

۹ – په پښتو کې د فاعلي جملو استعمال، جوړښت او ځانګړتیاوې:

دا ګرامري تېسس د ماسترۍ زده کړو په پای کې استاد معروف شاه لیکلی او تر اوسه نه دی چاپ شوی. پښتو پښوییز سمونونه یا پښتو ګرامري مطابقتونه د همدغه استاد د پوهندوی علمي رتبې ته لیکلی بل اثر دی، چې تر دې دمه نه دی چاپ شوی. (۱۰)

**۱۰ - پښتو ګرامر:**

دا ګرامر وفي الله میاخېل لیکلی او د ښونوا و پېپانې په کتابتون کې نا چاپ خپور شوی دی. (۱۱)

**۱۱ - د پښتو ژبې تاریخي ګرامر:**

د پښتو ژبې دا تاریخي ګرامر د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز د لرغونو ژبو د څانګې مشر څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ لیکلی دی. د لیکوال د وینا پر بنسټ د پښتو ژبې یو تاریخي ګرامر دی ، خو په پرتله ییز مېتود لیکل شوی دی. (۱۲)

**۱۲ - د پښتو ژبې نوې ښوونې تشریحي (څرګندوی بیانیز) ګرامر (ښوونه):**

دا ګرامر د افغانستان د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او د درسي کتابونو د تالیف د ریاست علمي او مسلکي غړي د سرمولف مرستیال سید محمود کارګر پر ۱۳۸۹ هـ ل کال په ۱۵۲ مخونو کې لیکلی او تر دې دمه نه دی چاپ شوی. دا ګرامري اثر درې برخې لري او د هرې برخې تر یوه عمومي سرلیک لاندې نورې وړې ګرامرې برخې هم څېړل شوي. (۱۳)

**۱٤ - پښتو ګرامر (مورفولوژي):**

دا اثر هم پوهندوی محمد اقا شېرزاد د دارلمعلمین د پښتو څانګې د لومړي ټولګي د دویم سمېستر لپاره لیکلی دی. (۱۴)

**۱۵ - د فعل جوړښت:**

د ګرامر د یوې برخې د یوې څانګې په اړه دغه اثر د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون یو تن فارغ شوي ښاغلي نوراحمد عبدالرحیمزي د لېسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۸۴ هـ ل کال یې د استاد پوهنمل میراجان غوربندي تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. دا مونوګراف د سریزې په ګډون په ۷۷ مخونو کې لیکل شوی او د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون په کتابتون کې خوندي دی.

**۱٦ - ګرامر پښتو:**

دا ګرامري اثر د کوکس په نامه کوم بهرني لیکوال په انګلیسي ژبه لیکلی او په انګلیسي ژبه پر ۱۹۱۱ ز کال په لندن کې چاپ شوی دی او د ارجنداس کپور په نامه کوم چا په دري ژبه ژباړلی دی. د دغه کتاب انګلیسي نوم (Notes on Pashto Grammar) ګرامر دی. ۱۱۷ مخه لري په لاس

لیکل شوی او د افغانستان د علوم‌و اکاډمۍ د کتابتون په خطي نسخو کې په ۱۶۴ شمېره ثبت دی. (۱۵)

**۱۷ - د پښتو ژبې ګرامر:**

دا ګرامري اثر ښاغلي مېجر. ار. لیچ پر ۱۸۴۰ ز کال لیکلی او له دې سره یې د پښتو ژبې علاقه یی لهجې او بلوڅي ګرامر هم لیکلی دی. (۱٦)

**۱۸ - صرف و نحوه پشتو:**

د پښتو ژبې دا ګرامر انګلیسي لیکوال ډېوېډ لوکهارټ لاریمر په انګلیسي ژبه لیکلی او پر ۱۹۱۵ ز کال د لندن په اکسفورډ کې چاپ شوی دی. دا ګرامري اثر هم دارجنداس کپور په نامه یوه لیکوال په دري ژبه ژباړلی ، چې ۴۶۳ مخونه لري او د افغانستان د علوم‌و اکاډمۍ په کتابتون کې د خطي نسخو په کتار کې په ۱۷۸ شمېره ثبت دی اووه لس څپرکي لري. (۱۷)

**۱۹ - د پښتو ژبې لنډ ګرامر:**

د پښتو ژبې دغه لنډ ګرامر د عبدالعلي رسول زاده له خوا په سویډن کې د مورنۍ ژبې پښتو له زده کوونکو سره د مرستې لپاره لیکل شوی دی. په دې ګرامر کې تر ډېرې اندازې پورې دا هڅه شوې ، چې د پښتو ژبې ګرامر په لنډه توګه له زده کوونکو سره لومړی د پښتو ژبې په زده کړه او بیا د سویډني ژبې د ګرامر په زده کړه کې مرسته وکړي. ددغه ګرامر د لیکوال د وینا پر بنسټ ، چې ددې ګرامر په لیکلو کې د محمد اعظم ایازي له ګرامر او د سویډني ژبې له ګرامر څخه مواد اخیستل شوي دي. (۱۸)

**۲۰ - غنچه روه:**

ډاکټر صاحب خالد خان خټک وایي، چې دا ګرامر مولوي نورمحمد لیکلی دی. (۱۹)

**۲۱ - پښتو فونولوژي او مورفولوژي:**

دا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د استاد بایزید اشک هغه ژباړه ده ،چې د پوهنملۍ علمي رتبې لپاره یې کړې ده.(۲۰)

**۲۲ - پښتو ګرامر:**

دا ګرامر ښاغلي عبدالواحد خان لیکلی او خطي نسخه یې د مطبوعاتو په کتابتون کې د جوایزو په څانګه کې خوندي ده.(۲۱)

**۲۳ - آمد نامه:**

دا کوچنی ګرامري کتاب دی، چې یوازې مصدرونه او د هغو ځینې فعلونه بیانوي. یوه نسخه یې په بریټش موزیم کې شته ، چې په ۱۰۸ مخونو کې د هند د رامپور په ښار کې لیکل شوی او مولف یې دوست محمد دی.(۲۲)

**۲٤ - په معاصره ادبي پښتو کې د ګردان ګرامري کټه ګوري:**

دا ګرامري اثر روسي ختیځپوهې مېرمنې ز. م. کالینیا چې د شوري اتحاد د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې د انستیتوت د ژبو د څانګې علمي غړې وه لیکلی او دا یې د دوکتورا کاندید تیسس و ،چې په ۱۹۶۰ ز کال کې یې ترې دفاع کړې ده.(۲۳)

**۲۵ - د پښتو تحلیلي او مقایسوي ګرامر:**

دا ګرامر پاینده محمد زهیر لیکلی، خو له بده مرغه نه یې د چاپ کال معلوم دی او نه یې له منځپانګې خبر یوو.(۲۴)

**۲۶ - د پښتو د فاعل او مفعول جوړښت او استعمال**: دا ګرامري اثر د تاشکندي اوزبک پښتو پوه عبدالحفیظ غني یف د لېنن له پوهنتون څخه د فراغت لپاره د لېسانس دورې مونو ګراف دی ، چې په همدغه موضوع یې لیکلی دی.(۲۵ )

**۲۷ - د پښتو مفصله صرف و نحوه**:

دا کتاب ښاغلي غلام جیلاني جلالي لیکلی ، چې د مطبوعاتو په کتابتون کې د قلمي نسخو په کتار کې ځای لري.(۲۶)

**۲۸ - د فعل زمانه او په پښتو معاصره ادبي ژبه کې د هغې موقعیت**:

دا ګرامري اثر روسي لیکوال ایریو میچو لیکلی دی . د دې رسالې لیکوال د معاصرې ژبې د ډېرو مدارکو پر بنسټ د فعل ټول ډولونه ( حال، ماضي، راتلونکې ) مطالعه کړي او د هغوی کارونه یې په ښه ډول تشخیص کړي دي. لکه څنګه چې په رېفرنس اثر کې یې د چاپ کال نه دی معلوم نو ما هم د ناچاپو پښتو ګرامري اثارو په ډله کې راوست.(۲۷)

**۲۹ - د پښتو کوچنی ګرامر**:

دا ګرامر ښاغلي محمد دلاورخان لیکلی او د مطبوعاتو په کتابتون کې خوندي دی.(۲۸)

**۳۰ - د پښتو او انګریزي مقابله یي فونیم پېژندنه**:

دا ګرامري اثر داروانښاد پوهاند محمد رحیم الهام د ماسترۍ تېسس دی ، چې چاپ شوی نه دی.(۲۹)

**۳۱ - د وزیرو د لهجې مقایسه له معیاري لهجې سره**:

دا ګرامري اثر د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د استاد بخت میر وزیري د ماسترۍ تېسس دی او تر دې دمه نه دی چاپ شوی. (۳۰)

**۳۲ - د پښتو او پشه يي ژبو د ګرامر نژدېوالی**:

دا اثر که څه هم د دوه وو ژبو ترمنځ پرتلیز (مقايسوي) ګرامر دی، چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پخواني استاد او اوښاد نورمحمد غمجن تمیل له لوري د پوهنملی علمي رتبې ته د ترفيع لپاره ليکل شوی او تر دې دمه نه دی چاپ شوی. (۳۱)

**۳۳ - د نوم صرف (نوم ګړپوهه)**:

دا ګرامري اثر د افغانستان د علومو اکاډمی د غړي څېړنپوه نصرالله ناصر د لېسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۵۷ هـ ل کال په ۳۹ مخونو کې ليکل شوی او چاپ شوی نه دی. (۳۲)

**۳٤ - د پښتو ژبې با قاعده او بې قاعده مصدرونه**:

دا ګرامري اثر د تورس امرخېل په نامه د يوه تن د ليسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۶۵ هـ ل کال يې په ۳۴ مخونو کې ليکلی دی. (۳۳)

**۳۵ - په پښتو ژبه کې د با قاعده او بې قاعده مصدرونو دېتا**:

دا اثر د شرين شاه په نامه يوه چا، چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ دی د لېسانس دورې مونو ګراف دی، چې پر ۱۳۶۶ هـ ل کال يې په ۳۱ مخونو کې ليکلی دی. (۳۴)

**۳٦ - لازمي افعال او د هغوی مورفولوژيکي خصوصيات**:

دا اثر د هم د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د يوې فارغې ګل غوټۍ د لېسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۳۷ هـ ل کال يې په ۳۷ مخونو کې ليکلی دی. (۳۵)

**۳۷ - د نومځرو نحوي حالتونه**:

دا ګرامري اثر د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د اوسني استاد پوهنمل محمد اقا شېرزاد دوینا پرنسټ، چې خپله یې راته ددغه ناچاپ ګرامري اثر په اړه معلومات راکړل د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې دده د ماستري دیګری تېسس دی، چې په ۱۰۰ مخونو کې لیکل شوی دی.(۳٦)

**۳۸ - سمون ( ګرامري مطابقت)**:

دا اثر د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د استاد پوهیالي محمد انور خیري د ماستری تېسس دی، چې پر ۱۳۸۸ هـ ل کال یې په ۱۹۲ مخونو کې لیکلی دی.(۳۷)

**۳۹ - ګرامر او د ګرامر پوهنه**:

دا ناچاپ اثر د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه د یوې فارغې شوې زیبا زهل نوابي دلیسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۸۳ هـ ل کال یې په ۴۱ مخونو کې د پوهنوال محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې لیکلی او اوس د کابل پوهنتون په کتابتون کې د مونوګراونو په څانګه کې خوندي دی.

**٤۰ - په پښتو ژبه کې د ویيکو (اداتو) ارزښت**:

دا ناچاپ اثر د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه د یوې فارغې شوې اریانا محمدزی د لیسانس دورې مونوګراف دی، چې پر ۱۳۸۸ هـ ل کال یې په ۴۳ مخونو کې د پوهاند محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې لیکلی اوس د کابل پوهنتون په کتابتون کې د مونوګرافونو په څانګه کې خوندي دی.

**۴۱ - پښتو فونولوژي**:

دا ناچاپ اثـر د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبیـاتو پـوهنځي لـه پښـتو څـانګې څخـه د یـوه فـارغ شـوي محمـد صـابر احمـدزي د لېسـانس دورې مونـوګراف دی، چې پـر ۱۳۸۹ هـ ل کـال یې پـه ۳۵ مخونـو کـې د پوهانـد محمـد صـابر خویشـکي تر لارښوونې لاندې لیکلی.

**۴۲ - د پښتو ګرامر**:

ګولـډن شـتت یـو جرمنـی څېړونکـی دی ، چـې پـر ۱۸۷۳ز کـې یـې د پښـتو ژبـې ګرامـر لیکلـی او اوس دغـه ګرامـر د ( بـرېټش مـوزیم پـه کتـابتون ) کـې خوندي دی.(۳۸)

**۴۳ - پښتو ګرامر**:

دا د پښـتو ژبـې د ګرامـر پـه برخـه کـې یـوه کـوچنۍ رسـاله ده ، چـې پـر ۱۸۴۰ م کـال د مېجـر لـیچ پـه نامـه یـو تـن لیکلې ده. نومـوړي نـه یـوازې د پښـتو ژبـې ګرامـر لیکلـی ، بلکـې د پښـتو ژبـې علاقـه یـی لهجـې او بلـوڅي ګرامـر یـې هـم لیکلـی دی. لکـه څنګـه چـې زمـا پـه رېفرنس مقالـه کـې ددغـه کتـاب د چـاپ پـه برخـه کـې څه نه دي ویل شوي نو ما هم په ناچاپو اثارو کې راوست.(۳۹)

**۴۴ - د پښتو ژبې ضمایر**:

دا اثــر روســي پښـتو پــوه لیفشـېځ لیکلـی او د پښـتو ژبـې ضـمایر یـې د تـاریخي پرمختـګ او واقعـي حـال لـه مخـې مطالعـه کـړې دي. همـدار راز دغـه لیکـوال د ( اشـاري ضـمیرونه ) پـه نامـه یـو بـل اثـر هـم لـري ، چـې دواړه قلمـي دي.(۴۰)

**۴۵ - د پښتو ژبې ګرامر**:

دا گرامري کوچنۍ رساله وتلي روسي ژبپوهاند ارانسکي ليکلې ده.(۴۱)

**٤٦ - د پښتو ژبې ګرامر:**

دا گرامر د قاضي مير احمد شاه رضواني د معرفۍ پر اساس مستر دغن ليکلی، چې د خپل گرامر په سريزه کې يې ددغه سړي نوم راوړی او ليکلي يې دي ،چې دغه سړي د پښتو ژبې گرامر ليکلی دی. (۴۲)

**٤٧ - پښتو ګرامر:**

دا گرامري اثر يوه جرمني څېړونکي گولډن شتت پر ۱۸۷۳ ز کال ليکلی او اوس د (برېتش موزيم په کتابتون ) کې خوندي دی.(۴۳)

**٤٨ - ګرامرپشتو:**

داگرامر هانري والتمر بليو په انگليسي ژبه ليکلی او ارجنداس کپور په دري ژبه ژباړلی دی قلمي نسخه يې د افغانستان دعلومو اکاډمۍ په کتابتون کې په ۱۲۰ شمېره ثبت او خوندي ده. دا خطي نسخه ۱۸۰ مخونه لري. (۴۴)

**٤٩ - پښتو ګرامر:**

د پوهاند رښتين د څېړنو له مخې دا گرامر سي. ای. بېدولف ليکلی او يو کوچنی کتاب دی.(۴۵)

**ماخذونه:**

۱ – رفيع ، حبيب الله: د نواب محبت خان برېښي ياد، رياض المحبت د پښتو لومړنی قاموسي ، ريښه يي تشريحي ژبدود، د افغانستان د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز، ۱۳۸۶ هـ ل. له ۴۶ نه تر ۵۲ مخ.

۲ – ځېرنوال نصر الله ناصر: رياض المحبت د ځېړنو په بهير کې ، کابل (مجله) (۷ – ۸ ګڼه) ، د افغانستان د علومو اکاډمي ، ۱۳۸۳ هـ ل ، ۴۲ – ۴۳ مخونه.

۳ – سيد عظيم شاه خيال بخاري: پښتو صرف و نحو ، سريزه. يونيورسيټي بک ايجنسي، منظورعام پرېس پېښور

۴ – خټک، ډاکټر خالد خان: د پښتو نثر ارتقا، پښتو (مجله) ، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسيټي ، ۱۹۹۶ز. ۱۷ مخ.

۵ – مولوی شېرګل رشيد کامه وال: د افغانستان د علومو اکاډمۍ کتابتون ، خطي نسخه ، ۱۳۱ شمېره.

٦ – شېرګل: پشتو مصادر وفرهنګ ، د افغانستان علومو اکاډمي کتابتون ، خطي نسخه ، شمېره ۳۵۴.

۷ – تحفه الامير قلمي نسخه: د افغانستان علومو اکاډمي کتابتون ،خطي نسخه،د ثبت شمېره ۱۶۰.

۸ – ډاکټر خالد خان خټک، ژبپوهنه او پښتو ژبه، پښتو (مجله)، پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسيټي، ۲۰۰۴ ز ،۱۸ مخ.

۹ – پوهنيار محمد صابر خويشکی ، اوښتونکي نومونه ، ناچاپ اثر ، ۱۳۶۱ هـ ل.

۱۰ – يون، پوهيالی محمد اسماعيل: پښتو کتابښود، خوشحال فرهنګي ټولنه، دانش کتابخانه، پېښور، ۱۳۷۶ هـ ل ، ۶۹ مخ.

۱۱ – وفي الله مياخېل: د پښتو ګرامر ، کتابتون، د پښتو ژبې اوړند کتابونه ، ښنوا و ښپيانه.

۱۲ – ځېړنپوه ډاکټر خليل الله اورمړ: د پښتو ژبې تاريخي ګرامر ، ناچاپ اثر.

۱۳ – پوهندوی محمد اقا شېرزاد: پښتو گرامر لومړی برخه (فونولوژي)، ناچاپ اثر.
۱۴ – پوهندوی محمد اقا شېرزاد: پښتو گرامر دویمه برخه (مورفولوژي)، ناچاپ اثر.
۱۵ – کوکس، ژباړن ارجنداس کپور: گرامر پشتو، دافغانستان دعلومو اکاډمي کتابتون، خطي نسخه شمېره ۱۶۴.
۱٦ – د پښتو ژبې د گرامر تاریخچه، پښتو څېړنې، (دمقالو ټولگه)، ۲۹۶-۲۹۷ مخونه.
۱۷ – لاریمر، ژباړن ارجنداس کپور: صرف و نحو پشتو، دافغانستان دعلومو اکاډمي کتابتون، خطي نسخه، د ثبت شمېره ۱۷۸.
۱۸ – عبدالعلي رسول زاده: د پښتو ژبې لنډ گرامر، سویډن کې د پښتو ژبې د زده کړې له پاره، ناچاپ اثر، WWW.Tolafghan.com.
۱۹ – په پښتو کې د پښتو ژبې لومړی گرامر، پښتو (مجله)، ۲۰۰۶ ز، ۲۲ مخ.
۲۰ – یون، پوهیالی محمد اسماعیل: پښتو کتابښود، ، ۴۰ مخ.
۲۱ – رښتین زېور، ډاکټره زرغونه: د پښتو ژبې د گرامر تاریخچه، پښتو څېړنې، (دمقالو ټولگه)، دعلومو اکادمی. ۲۹۵ مخ.
۲۲ – صدیق الله رښتین: پښتو گرامر (هاشمي ژباړه)، دپښتو گرامرونو لنډه تاریخچه، ۲۱ مخ.
۲۳ – رحیم، عبدالرحیم: په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۵۳ هـ ل. ۵۴ مخ.
۲۴ – یون، پوهیالی محمد اسماعیل: پښتو کتابښود، ۳۶ مخ.

۲۵ – په خارج کې پښتو څېړونکي ، ۷۴ مخ.
۲۶ – رښتين زېور، ډاکټره زرغونه: د پښتو ژبې د گرامر تاريخچه ، ۲۹۵ مخ.
۲۷ – په خارج کې پښتو څېړونکي ، ۹۱ مخ.
۲۸ – رښتين زېور، ډاکټره زرغونه: د پښتو ژبې د گرامر تاريخچه ، پښتو څېړنې، ۲۹۵ مخ.
۲۹ – يون، پوهيالی محمد اسماعيل: پښتو کتابښود، ۳۲ مخ.
۳۰ – پورتنی اثر ،۴۳ مخ.
۳۱ – هماغه اثر ،۳۹ مخ.
۳۲ – بيا هم پورتنی اثر،۱۰۴ مخ.
۳۳ – يون، پوهيالی محمد اسماعيل: پښتو کتابښود ،۱۲۹ مخ.
۳۴ – پورتنی اثر ،۱۳۲ مخ.
۳۵ – همدغه اثر ،۱۳۳ مخ.
۳۶ – پوهنمل محمد اقا شېرزاد: د نومځرو نحوي حالتونه ، ناچاپ اثر.
۳۷ – پوهيالی محمد انور خيری: سمون ( گرامري مطابقت ) ، ناچاپ اثر.
۳۸ – اولس مجله ، ۱۹۷۲ ز کال ، ۲۰ مخ.
۳۹ – رښتين زېور، ډاکټره زرغونه: د پښتو ژبې د گرامر تاريخچه ، ۲۹۶ – ۲۹۷ مخ.
۴۰ – په خارج کې پښتو څېړونکي ، ۹۱ مخ.
۴۱ – رښتين زېور، ډاکټره زرغونه: د پښتو ژبې د گرامر تاريخچه ، ۳۰۳ مخ.
۴۲ – پورتنی اثر ، ۲۹۸ مخ.
۴۳ – اولس مجله ، ۱۹۷۲ ز کال ، ۲۰ مخ.

۴۴ – هانري والتربليو، ژباړن ارجنداس کپور: ګرامر پشتو ، د افغانستان دعلومو اکاډمي کتابتون ، خطي نسخه شمېره ۱۲۰.
۴۵ – صدیق الله رښتین: د پښتو ګرامرونو لنډه تاریخچه ، پښتو ګرامر (هاشمي ژباړه)، ۲۲ مخ.

مجيب الرحمن اميري

# د محمدصديق پسرلي د غزلونو لويه
# فکري او هنري منځپانګه
## (لومړۍ برخه)

د محمدصديق پسرلي په غزليزه شاعرۍ کې هر ډول او د هر ذوق موضوعګانې موندل کېږي. ځکه دی د موضوع او مضمون افرينۍ په برخه کې تر کاظم خان شيدا وروسته لاسبری او بريالی شاعر ګڼل کېږي، نو په دې توګه د ده په غزلونو کې د موضوع تنوع ډېره ليدل کېږي، نه يوازې د موضوع تنوع، بلکې د فکر، خيال، ترکيب، انځور، حالت او ان د لفظونو تنوع هم په کې خورا زياته او د ډېر ارزښت وړ ده او د يادو شويو توکو تنوع د غوره شاعرۍ تر ګردو ښه ځانګړنه هم ده.

له دې ټولو سره سره، هغه څه چې د نوموړي د غزلونو لويه محتوايي برخه جوړوي، هغه د نوموړي ټولنيز اخلاقي ايډيال، د حسن او مينې واقعي او حقيقي انځور، انساني همدردي او انساپالنه،

وطنپالنه، سیاسي افکار او یو شمېر نورې موضوعګانې دي، چې دلته به یې د غزلونو د لویو پر لویو موضوعګانو باندې یو څه رڼا واچوو.

**حسن او مینه**:

حسن او مینه د هندي سبک د شاعرۍ تر ګردو مهمه موضوع جوړوي. ځکه همدا حسن او مینه ده، چې د انساني ژوندانه بنسټ بڼدي. د ښاغلي پسرلي د غزلونو لویه برخه هم د مینې او حسن متنوع افکار دي. نوموړی یې له مینې ژوند سوړ دوزخ بولي او وایي:

خدایه په مرګ هم رانه بېله مه کړې
د واړه عمر اندېواله مینه
یو سوړ دوزخ دی تش له مینې ژوندون
یو دم مې مه وځه له خیاله مینه
(۲:۷۴۷)

الله ج انسان هم د خپلې مینې او محبت په پار پیدا کړی دی. په حقیقت کې د انسان نوم هم له انس څخه اخیستل شوی او انس د مینې او محبت په معنا دی. نو په دې توګه انسان د مینې زېږنده دی او د انساني ژوندانه د بقا او پایښت بنسټ هم مینه ده.

مینه وي مطلب له ژونده تور ښه یم په مینه کې
توریو چې معنا ومونده درست له توره ووتل
(۲:۷۴۶)

خو که څوک له پیدایښت څخه د مینې درس واخلي، سپین او تور هر څه ورته یو شان شي او هر انسان ته د انسان په ستر ګه ګوري او مینه ورسره کوي، لکه چې وایي:

سپین او تور ورته یو شان وي، هر انسان یې زړه او ځان وي
چا چې درس د مینې واخیست، په للي للي للو کې
(۲:۹۸۱)

هغه څوک چې مینې ته په بد نظر ګوري او مینه د ژوند مطلب نه بولي، په حقیقت کې د تیارو پیروان دي او په تیاره کې ژوند کوي او دا ژوند به تر هغو پورې له توره ډک او تیاره وي، ترهغو چې مینه نه وي پرې ور ګډه شوې او معنا یې نه وي موندلې، یعنې ژوند هم هغه وخت معنا مومي، چې بنسټ یې مینه وګرځي.

له ژوندي مړیو به د ژوند ژوندی نظر څه پوښتو
چې په جهان کې خوري او ښبي خو دا جهان نه مني
(۲:۲۸۹)

دا په حقیقت کې یو ډېر قوي او فلسفي بیت دی، چې له جهانه بېزار او هغه خلک چې یوازې خوراک او څښاک کوي، له ژوندیو مړیو سره ورته بللي دي. الله ج دا دنیا د عشق او مینې له مخې د عشق او مینې لپاره پیدا کړې ده. هغه څوک چې مینه نه پېژني، هغوی جهان هم نه پېژني، ځکه د جهان پېژندلو اصلي وسیله هم مینه ده.

کـــه مجنـــون یـــوړه بیابـــان تـــه مینـــه
مــــا خپژولــــې کهکشـــان تـــه مینـــه

درسته شپه تېره کړم له ستوریو سره
وربښیم ستورو د اسمان ته مینه
څه وي د سویو پتنگانو نذر
وروړم د ستوریو څراغان ته مینه
الله صمد دی څه نیاز یې نشته
خو بیا هم گرانه ده سبحان ته مینه
که سپېڅلتوب یې پرېښتو ته ورکړ
ښکلي رب ورکړله انسان ته مینه
چې د دې اور مزه بل څه کې نشته
غواړم تر هر څه لومړی ځان ته مینه
خوله په مسواک باندې پاکېږي نه زړه
شخه صفا ښي ایمان ته مینه
خیر دی که وجه د شرابو نه وي
لا خو ارزښت لري مغان ته مینه
عقل و دانش مو اطمنان ولوټه
خاونده راولې جهان ته مینه
(۲:۲۹۵)

له پورته غزل څخه معلومېږي، چې مینه د نړۍ او طبیعت پېژندلو، عرفان، پوهې او پرمختګ وسیله ده، چې انسان د ژوندانه د پیدایښت په ټولو رمزونو او نبض پوهوي. په دې توګه مینه د انسان له ژوند سره تړلې ده، که مینه نه وي، تش ژوند هیڅ معنا نه لري، نه اخروي نېکمرغي او سوکالي لري او نه هم دنیوي نېکمرغي او سوکالي.

که موږ وګورو د هر څه پېژندنه له هغه سره د مينې له مخې کېږي، که موږ له يو چا يا له يوه شي سره مينه ولرو، هغه تر نورو ښه پېژندلی او درک کولی شو. د نړۍ د مخلوقاتو او د هغو د خالق د پېژندنې لپاره هم مينه اړينه ده او بې له مينې يې پېژندنه هېڅ امکان نه لري.

د مينې ځای زړه دی، په زړه کې اوسېږي، له زړه نه پورته کېږي او زړه ته لار مومي. موږ په عامه محاوره کې دا اصطلاح هم لرو، چې وايو( راځئ زړونه سره ورکړو!) يا وايو: ( پلانی ډېر تور زړی دی!). په حقيقت کې زړونه يو بل ته نه ورکول کېږي، بلکې مينه يو بل ته ورکول کېږي. د زړونو ورکړه د مينې په معنا ده، د خلوص، وفا او خوښۍ په معنا ده. همداشان د يو چا زړه هم تور نه وي. تور زړه دا معنا لري، چې په زړه کې يې مينه نه وي، له کينې او بې اخلاصۍ ډک وي. استاد پسرلی وايي:

چې په مينه کې زړه غرونو غونډې سپين شي
لېونی شي او د هيلو اباسين شي
مين زړه لکه شفق په ګودر خپور کړم
مازيګر چې يې ګودر په ليدو ورين شي
څمکه شنه کړي او فضا هم مسته مسته
د عشق بوټی چې په هر خاطر کې شين شي
پخه مينه په ښايست باندې بدلېږي
لاديني هم چې پخېږي ځان ته دين شي
د فرهاد مينه که نه کړي صنعت ښکلی
د غره وچ کاڼی به څرنګه شرين شي
چې په وينو يې زړه نه وي لمبېدلی

د شــاعر شــعر بــه څرنگــه رنگــین شــي
خدایــه بیــا مــو خپــل وطــن او غرونــه راکــړه
چــې هــر کــاڼی یــې د خیــال د خــول نگــین شــي
څــو ک ومــه ســوځه د خپــل دوزخ پــه اور کــې
دلنشــین چــې یــې د مهــر پــه ځــای کــین شــي
څــه تــوپیر د مــر گ و ژونــد بــه وي پســرلیه
پــوره یــاس کــه د ســوي زړه تســکین شــي
(۲:۲۹۶)

پورته غزل هم د مینې د ارزښت څرگندوی دی، خو مهمه خبره په کې دا ده، چې حسن تر ډېره له مینې سرچینه اخلي، یانې که مینه وجود ونه لري، حسن هم ارزښت نه لري. که څه هم د مینې او حسن په اړه ویل شوي، چې لومړی مینه پیدا کېږي او بیا حسن، خو په اصل کې دا حکم مطلقیت نه لري، بلکې د دواړو ترمنځ یوه مرموزه خو نه بېلېدونکې اړیکه شته.

حسن که د مینې پیداوار نه وی محتاج یې دی
زما د زړه په غېږ کې یې د هرې ادا ولې وه
(۲:۹۸۸)

یا:

مینه چې پخه شي په ښایست باندې بدله شي
بله شمه گوره چې تر سر یې رڼا واوښته
(۲:۹۱۵)

په همدې تړاو مجنون به چې کله د لیلا ستاینه کوله او د هغې د مینې ترانې به یې غږولې، نو هارون پاچا به دا فکر کاوه، چې گني لیلا به د نړۍ تر

ښوله حسینه او ښکلې ښځه وي، خو کله یې چې لیلا ولیده، نو تر هغې بدرنګه، توره بدموره ښځه بله نه وه، خو مجنون ته تر ټولې دنیا ښکلې وه. له دې ښکاري، چې د مینې او حسن تر منځ یوه مرموزه رابطه شته، چې دواړه یې یو د بل وجود ګرځولي دي.

د ښاغلي پسرلي په وینا کله چې د عشق بوټی په هر خاطر کې شین شي، نو نړۍ ښایسته شي او فضا هم مسته شي او ورو ورو د مینې او حسن د امتزاج خوږلنۍ پر طبیعت خوره شي او ښوله نړۍ ښکلا ښکلا شي.

حسن او ښکلا چې طبیعي وي، لذت یې ډېر وي، هغه حسن چې مصنوعي وي، هومره زړونه نه شي تسخیرولی. ښاغلی پسرلی هم دې مسئلې ته په پام سره وایي:

طبیعي حسن اړ نه دی ارایش ته
سرې نکریزې څوک د زر کو په منګول ږدي؟
(۲:۲۲۴)

د مینې یوه ځانګړنه هم دا ده، چې مین د خپلې مینې په لړ کې د معرفت او پېژندنې لوړو پوړیو ته رسېږي او دغه ډېره پېژندنه یا معرفت د دې لامل کېږي، چې نوموړی واقعیتونو ته نژدې کړي. دا نژدې کېدل بیا د دې لامل کېږي، چې ربښتوني ژوندانه ته ورسېږي او منطقي تصمیمونه ونیسي. د انسان تر ګردو لوی هنر دادی، چې واقعیتونه درک او وپېژني او د انسان تر ګردو لوی عمل، د ترخو واقعیتونو منل دي او د انسان په ژوند کې تر ګردو لوی واقعیت مرګ دی. خو بل لور ته بیا هوسناک وګړی په خپلو احساساتو کې د ډوبېدلو له امله له واقعیتونو څخه لرې کېږي. هر انسان احساسات او

عواطف لري، خو په تصميم نيولو او وړاندوينو کې بايد د احساساتو له مخې پرېکړه ونه شي. احساسات کولای شي پر پېښو باندې د پردې په غوړولو سره، واقعيتونه بل ډول وښيي او د يوه انسان د تېروتنې او ناسمې پرېکړې لامل شي. هوسناک يا په هوس کې ډوب سړی نړۍ په خپل ځان کېويني او تر ځان بهر نړۍ پېښو ته هېڅ پاملرنه نه کوي، خو محمد صديق پسرلی، هوسپال نه دی، بلکې مينه پال، حسن پال او هنرپال شاعر دی. که په غزلونو کې يې د هر څه ذکر او بيان راغلی، هدف يې هوسپالنه نه، بلکې مينه، حسن او هنرپالنه ده. ځکه په هوس کې عقل او فکر د احساساتو په ولکه کې لوېږي. په هوس کې تصميمونه د احساساتو له مخې نيول کېږي، خو ښاغلي پسرلي په خپلو غزلونو کې د عقل او فکر لوري ته ډېره پاملرنه کړې او نږدې ټوله شاعري يې د تعقل او تفکر پر بنسټ ولاړه هنري، ښکلاييزه او رنگينه تغزلي شاعري ده. ده که خپل احساسات او عواطف په خپلو غزلونو کې راوړي دي، هغه يې هم د تعقل او تفکر پر چينه لومړی لمبولي او بيا يې غزليز کړي دي.

په هره توگه مينه او حسن دوه نه بېلېدونکي څيزونه دي، که مينه وي، حسن به هم ورسره وي او که حسن وي نو مينه به هم ورسره وي، ياني يو پرلته له بل نه نشي څرگندېدلی.

که حسن دی که مينه سره نه دي بېگانه
د گل نوا شي عطر د بلبلو ترانه
(۲:۷۹۴)

بل ځای وايي:

حسن به ساه وبولو جند يې مينه
ښايست وي پټ خو کړي ځر ګند يې مينه
که دوه عالمه خوبۍ ونښتيځي
بوی به يې حسن وي او خوند يې مينه
هره ادا يې وي بل شان ګلونه
هغه ښايست چې شي پيوند يې مينه
ناپوهي نه ده مجبوري دي د عشق
که غولوي ځان په سوګند يې مينه
زه وايم مړی مې بې عشقه مه شه
ځنګه به هېره کړم په ژوند يې مينه
بس چې تري وګرځي نور څه پوهېږي
د دلبرۍ په چون و چند يې مينه
راځه بېغمه له نظره مه شې
زړه مې مجمر دی او سپند يې مينه
خولې ته يې لږ ګوره پسرليه په شوق
اموخته نه کړې په ګلقند يې مينه
(۲:۸۹۲)

يا يو بل ځای وايي:

چې مينه به کمزورې شوه ښکلا به جوړوله
مجنون نه به چې ورانه شوه ليلا به جوړوله
زما او ستا په مينه کې به ستا و منم څه
چې هر کله به ورانه شوله چا به جوړوله؟

د مینـــې هغـــه طرحـــه دې یـــادېږي اوس کـــه یـــه
چـــې تـــابـــه ورانولـــه را تـــه، مـــابـــه جوړولـــه
د یـوې خـوږې شـېبې پـه نقشـه زوړ شـوم او هغـه هـم
حســـرت بـــه رنګولـــه تمنـــابـــه جوړولـــه
د مینـې ورانـې جـوړې پـه قـانون پـه شـرعه نـه وې
وفـــابـــه ټینګولـــه تقاضـــابـــه جوړولـــه
د زړه پـــه خرابـــو کـــې مـــې کـــه وکـــړې پلټنـــه
هغـــه ښـــکلې دنیـــا ده کـــوم چـــې تـــابـــه جوړولـــه
(۲:۲۳)

پـه مینـه کـې عاشـق تـه د معشـوقې هـر کـردار، کړنـې، نازونـه او اداګـانې د حسن میکدې ښکاري. ښاغلی پسرلی وایي:

د مـــخ رڼـــا یـــې څـــه عجـــب کـــه لـــه حجابـــه وتـــه
د نـــاز جلـــوه یـــې پـــورې اورې لـــه مهتابـــه وتـــه
د لمـر شـغلو ایسـتل سـرونه د سـپوږمۍ تـر درځـې
کـــه یـــې جلـــوه وه د سـپین مـــخ چـــې لـــه نقابـــه وتـــه
سـتا پـه محفـل کـې سـتا لـه لطفـه وم کوربـه د بهشـت
نـــوره خبـــره لـــه ګنـــاه او لـــه ثوابـــه وتـــه
د ســـاقي لطـــف راســـره کـــړه بدرګـــه د نشـــې
د عمـــر کـــډه مـــې لـــه پـــولې د شـــبابه وتـــه
ادم چـــې حســـن کـــړ لـــه مینـــې ســـره غـــاړه غـــړۍ
هـــره نغمـــه یـــې وه درخـــو چـــې لـــه ربابـــه وتـــه
هـــره قطـــره اوښـــکه مـــې وه یـــوه ویلـــې شـــوې نـــوا

د درد خولـــه وه چـــې د زړه لـــه اوم کبابـــه وتـــه
پســـرلیه زه بـــه هـــم د عشـــق لـــه تمبـولی را ووځـــم
ډوبـــه بېـــړۍ کـــه لکـــه خلـــی لـــه گردابـــه وتـــه
(۲:۷۶۵)

د پسرلي غزل د مینې تلقین او د ښکلا انځور گري ده. نوموړي تـر ډېره د مینې راز خلکو تـه بیـان کـړی، مینې تـه يې رابللي او د مینې ارزښت يې ورتـه ښوولی دی:

ښکلیو ته اظهار د مینې زړه اوبه کول دي
گرانه ده ښکلا ته د عشق ژباړه لکه شمه
مینه کې چې وکړي څوک اودس په خپلو اوښکو
لمونځ يې ادا کېږي په ولاړه لکه شمه
(۲:۸۸۹)

بل ځای وايي:

څـه چـې د دنیـا خوښـي د زړه پـه چـم کـې وشـیندو
گـــرد د حســـر تونو پـــه قـــدم قـــدم کـــې وشـــیندو
وره بـــه يـــې د حســـن د پېـــرزو خپلـــه ســـیرابې کـــړي
تخـــم کـــه د هیلـــو پـــه صـــحرا د غـــم کـــې وشـــیندو
تخت به يې تـر پښو لاندې کړي سره تبۍ د مینې شور
سـتا د شـونډو مالگـه کـه پـه جـام د جـم کـې وشـیندو
کلـه کـه مـو زړونـو کـې د مینـې ډېـوې بلـې کـړې
نـــور د زنـــدگی بـــه پـــه تیـــاره عـــدم کـــې وشـــیندو
څـه بـه مـو د حسـن لـوی جهـان تـه وربښـلي وي

دا وړه هستي کـه لکـه وره پـه يـم کـې وشـيندو
ډېر د ژوندون ورکې لارې کندې تـه پرې ايستې دي
موږ بـه هم څـه خاورې پـه دې پېچ و خم کې وشيندو
هيلـې مـې تـر پښـو لانـدې کـوه کـه رسـوايي غـواړې
دا مـاتې شيشـې بـه مـو د زړه پـه غـم کـې وشـيندو
ځـه چـې ځـو پسـرليه کـه بـدرئ يـې الـوتلې وه
څـو خـوږې نغمـې بـه د ښايسـت ارم کـې وشـيندو
(۲:۹۲۶)

د ښاغلي پسرلي په غزلونو کې د مينې، مستۍ، شور، ناز، حسن، استغنا، ساقي، شرابو، پيمانو، جنون او نورو څيزونو ذکر ډېر راغلی، دا ټول يوازې د سپېڅلې مينې انځور دی، معنا دا چې د پسرلي په غزلونو کې د هوس او هوسبازۍ تش بيان نه دی راغلی، بلکې ټوله غزليزه شاعري يې د مينې، حسن، مستۍ، زلفو و خال، ناز، استغنا، هيله مندۍ، جنون او څه ناڅه د نهيلۍ په رنګ رنګينه شوې او موزونه شوې فکري او هنري شاعري ده او هر غزل يې په حقيقت کې يو لوی درس او يو لوی پند دی. د بېلګې په توګه يې لاندې غزل لولو:

د زړه وينـې مـې د مـخ د ګـل غـازه کـړه
را تـه ګـوره زمـا مينـه انـدازه کـړه
مګـر تـا تـه خپـل ښايسـت دا حکـم کـړی؟!
چـې نګـاه هـم د حيـا پـه اجـازه کـړه
څنګـه راغلـې؟ څنګـه لاړې؟ در تـه چـاوې؟
چـې زخمونـه مـې پـه زړه کـې را تـازه کـړه

زه د گــل تــر خــولگۍ نــه یــم گرځېــدلی
بلبلانـــو هســـې گـــډه اوازه کـــړه
د حواســـو مجموعـــه مـــې شـــمال یـــوړه
چـــې د نــاز بیــاتي یــې غوټــه شــېرازه کـــړه
کــه د ســوي پتنــگ روح خوشــحاله غــواړې
پـــه لمبـــو یـــې شـــمې پور تـــه جنــازه کـــړه
تصــور مـــې ســـتا د دوو ســـتر گو لپـــاره
د نـــر گس لـــه بوټـــو جـــوړه دوپیـــازه کـــړه
پســـر لیه اوس پـــه غـــرو رغـــو کـــې گرځـــه
چـــاوې بېر تـــه د رازونـــو دروازه کـــړه
(۲:۵۳۶)

مینه په انسان کې نرمښت او صله رحمي راولي او سخت زړونه لکه د مومو په شان نرموي او په هغه زړه کې چې د مینې اور بل شي، نو د نرمښت، صله رحمۍ، عاطفې او همدردۍ مصدر وگرځي. لکه:

ته به په کوم وس ورته ټینگ شې د انسان زړ گیه؟
د مینې اور خو داسې اور دی چې ډبره سوځي
(۲:۵۳۳)

په حقیقت کې د نوموړي د غزلونو لویه برخه د مینې بیان او د مینې اخلاق جوړوي او په دې سره ولس ته د مینې د ارزښت او د مینې د اسرارو او خوږلنیو تلقین کوي. ژوند د مینې او مینه د ژوند لپاره بولي او بې له مینې ژوند ورته د ساړه دوزخ غوندې ښکاري. همداشان حسن هم له مینې سره تړلی ځیز گڼي، چې ډېر ځله د مینې په وسیله ځر گندېږي. نوموړي په ټولیزه توگه مینه د

دواړو جهانونو د نېکمرغۍ راز ګڼي او په غزلونو کې یې هم تر ډېره د مینې رنګ ډېر غالب او ځرګند دی.

که د ښاغلي پسرلي غزلبڼ ته د مینې له اړخه لږ ژور ورننوځو، نو دا به راته جوته شي، چې د نوموړي لومړني غزلونه چې په کندوز او چاردره کې یې ویلي دي، درست د سپېڅلې مینې، انسانیت او اخلاقو هنري بیان دی. خو کله چې پر افغانستان د بدمرغیو ځپه راځي او نوموړي کډوالۍ ته اړ کېږي، نو په غزلونو کې یې د غزل روح هم له شرایطو او حالاتو اغېزمنېږي او د حالاتو او شرایطو د پېښو سیوری وربانديې لوېږي. د دغه وخت په غزلونو کې یې د فراق، بېلتون، نهیلو او ناخوالو انځورونه لیدل کېږي. د زرکو په خندا، د ګلونو په وږم، د پاولیو په شرنګا او نځېدلې صهبا پسې ارمان کوي او د شعر په ژبه یې داسې انځوروي:

پــه زاړه خــم کــې نځېــدلې صــهبا چېرتــه لاړه؟
د ښــــاپېریو د پـــــاولیو شــــرنګا چېر تـــــه لاړه؟
د خونـد سـړه وږمـه چـې رابـه غلـه چمـن تـه لـه غـره؟
د ژونـد پـه ښـکلیو خـوږو شـپو کـې رڼـا چېرتـه لاړه؟
پــه شــنو لمنــو کــې د ګلــو وږم څــه شــو، څــه شــو؟
پــه ســپینو غرونــو کــې د زرکــو خنــدا چېرتــه لاړه؟
خمونــه ډک دي یــوه پیالــه هــم زړونــه نــه تــودوي
چــې پخــوانۍ ځوانــه نشــه لــه مینــا چېرتــه لاړه؟
هغــه دنیــا چــې غــوړول بــه یــې خیــالي ګلونــه
د خـــاورو کوټـــه ښـــکاري هغـــه دنیـــا چېرتـــه لاړه؟
د مـــات ربـــاب لـــه پـــرې تـــارونو نغمـــې والـــوتلې
د نـــۍ لـــه زړه نـــه پـــاروونکې نـــوا چېرتـــه لاړه؟

ښـــاپېرۍ واړه تـــرې الـــوتي، ګـــودر لـــوګ وینمـــه
د ګـل پـه خولـه کـې تخنـوونکې موسـکا چېر تـه لاړه؟
تنکـــی ماښـــام دی چېـــرې نـــه اورم د زاڼـــو ســـرود
لـــه ســـره شـــفقه رویـــایي تماشـــا چېر تـــه لاړه؟
نـــه هغـــه خیـــال، نـــه هغـــه زړه، نـــه هغـــه زه پاتـــه یـــو
پتـــه یـــې نشـــته چـــې دا دومـــره ښـــکلا چېر تـــه لاړه؟
نـــور بـــه څـــه وو یـــانـــه، د ځـــوان عمـــر کـــرل رېبـــل وو
اوس نـــه پـــوهېږم چـــې ښـــیلې زلمـــا چېر تـــه لاړه؟
(۱۴۵– ۱۴۶: ۲)

په دې توګه د افغان ناورین د ناخوالو رنګ یې پر شاعرۍ اغېزه کوي، له زړه یې شوخې هیلې وځي، نهیلي ځای نیسي، ژوند ور تـه د زنـدان او قفس غوندې ښکاري، دا او دې ته ور ته څېزونه یې پر غزلونو ور ګډېږي او پر تغزل یې بل ډول رنګ اچوي. لکه:

ســـوې هیلـــې مـــې پـــه ســـوي زړه ایـــرې شـــوې
د نیســـم پـــه نیلـــي تاپســـې ســـپېرې شـــوې
ســـوي زړه مـــې چـــې تـــرې شـــوخې هیلـــې لاړې
لـــوګ ګـــودر دی ښـــاپېرۍ ورنـــه خـــورې شـــوې
اوس بـــه چېـــرې د ژونـــد تمـــې لګـــوي ســـر؟
چې پـه زړه کـې مـې د سـېکو مرانـدې پـرې شـوې
تېـــــرو مینـــــو مینجـــــور د خـــــاطرو کـــــړم
هېـــرې وختـــې مـــې د هیلـــو هـــدیرې شـــوې
ســـــتالیمـــــې کـــــه د بهـــــار اتشـــــکدې دي

چې لـه حسـنه پـه تلپاتـه لمبـو سـرې شـوې
زه يـې ځـان مکلـف بـولم پـه سـاتنه
تېـرې مينـې مـو کـه لاړې خـاطرې شـوې
زړه بـه څنګـه ورتـه ټينـګ شـي چـې عشـوې دي
پـه کتـو کـې د شـرابو شرشـرې شـوې
پـه قفـس کـې د ويشـتلي زړه فريـاد هـم
بېـدردانو تـه څـه ټـوکې مسـخرې شـوې؟
خپـل فرهنـګ را تـه جـلاد شـو پسـرليه
خپلـې وېـرې مـو رسـۍ د غرغـرې شـوې
(۲:۱۵۰)

پوهنیار ادم خان ملاتړ

# د مهدي شاه مهدي ژوند او ادبي هڅې

## ژوند لیک:

مهـدي شـاه (مهـدي) د سـيدعبدالتواب شـاه باچـا زوی، پـه کـال ۱۹۲۶ع دجنوري په دريمه ،د کوزي پښتونخوا پيښور د داودزو په کنکوله نومي کلي کې سترګې پرانستې دي،داستاد کامل مومند په وينا(( پلاريې دخپل وخت جيد عالم اود ادبي ذوق څښتن و، مهدي باچا ته ادبي ذوق ،شوق او روايات په ميراث رسيدلي و)).

دخپل وخت مروج ادبي ،سياسي او ديني علوم يې لوستلي ښه عالم ،فاضل د ملي احساس اود سياسي شعور خاوند شخصيت و.

سربيره پردې چې د خدايي خدمتګارانو د تحريک فعال اوبرجسته غړی هم و، دترجمان افغان اخبار د پښتو برخې مدير ،د رهبر مجلې چلوونکی او د اولسي ادبي جرګې چې امير حمزه شنواری،صنوبر حسين کاکا جي،دوست محمد خان کامل مومند،اجمل خټک ،قلندر مومند او ...غړي و، اودې ادبي ټولنې د مدرسې حيثيت درلود،همکار پاتې شوی دی،همدا بيلابيلې مجلې وې چې دوخت د ظالم حکومت له ناوړه اعمالويې پرده پورته کوله ،مهدي

په پوره ایمانداری سره دیوه ژورنالست په توګه خپله مبارزه له دغې لارې هم پرمخ بیولې ده، په وروسته کې له زیاتو ستونزو ،بندیخانو،ربړو او ادبي هلو ځلو او زیار ګاللو وروسته په (۱۹۹۶م) چې (۱۳۷۴هـ. ش) سره سمون خوري، له دې فاني نړۍ سره مخه ښه وکړه.

## د مهدي صاحب آثار:

### ۱- د فاتحې سوره:

دقرانکریم دفاتحې سوره تفسیر دی، په کال ۱۹۶۴م په ۱۱۲مخونو کې په پیښور کې چاپ شوی دی،دغه اثر مهدي باچا په زندان کې لیکلی دی.

### ۲-مظلوم امام:

دا اثر هم مهدي شاه په زندان کې کښلی دی،دکربلا د خونړۍ پیښې بیان دی،د چاپ کال یې ۱۹۶۶م او د مخونو شمیر یې ۱۳۲دی.

### ۳-روڼ سحر:

دا د مهدي شاه د شعرونو ټولګه ده، په۱۳۶مخونو کې په کال ۱۹۶۵م په پښور کې چاپ شوې ده.

### ۴- نښان:

دا دمهدي صاحب د لنډو کیسو لومړنۍ مجموعه ده،دیوولس لنډو کیسو په درلودلو سره چې ۱۹۶مخونه لري،دچاپ کال یې ۱۹۵۶م دی،لاندې لنډې کیسې پکې راغلي دي،

۱- نښان ۲-ارمان۳-پاکستان زنده باد۴-لیونۍ۵-داسې هم شوي دي۶-روښانه۷-افسانه پاتې شوه۸-ننګ ۹-افروزه ۱۰- انقلاب زنده باد ۱۱-سیاست

**۵- دبوډۍ تال :**

۱۹ لنډې کیسې لري ، ۲۵۶مخه ۱۹۵۸م یې دچاپ کال دی او دا لاندې کیسې په کې دي:

۱- خدایي خیرات ۲- کفن ۳- شلیدلی کمیس ۴- داطلس جامې ۵- تیرا احسان هی ۶-امانت ۷- توکلي لاړ ۸-حمیده ۹- رستم خان ۱۰-ورور ۱۱- دګلوهار پریوت ۱۲- بایسکوف ۱۳- نتواتې ۱۴- پټ په پټه ۱۵- اعظم خان ۱۶- شریف ۱۷- مینه ۱۸- مونځګذاره ۱۹- انسان که بنیادم.

**۶- پټ :**

دریمه دکیسو مجموعه ده،اته لنډې کیسې لري ،دمخونو شمیریې ۱۴۳ په ۱۹۵۹م چاپ شوې ده.

۱- پت ۲- قبر ۳- پښتون ۴- سور پټکی ۵- لټون ۶- پټ غل ۷- بد نصیب ۸- دبوډۍ تال.

**۷- لاله ګلونه :**

دمیر مهدي شاه مهدي شلورمه دلنډو کیسو ټولګه ده،دیارلس کیسې لري ،په ۱۰۴مخه دچاپ کال یې ۱۹۶۹م دی.

۱- پلوشه ادې ۲- مینه وینه شوه ۳- حیاجانه ۴- ذیل دګری ۵- توره شپه ۶- ورک ۷-بې سیوري ۸- دوه مجرمان ۹- توره ۱۰- بدرو ادې ۱۱- ګلبدنه ۱۲- لاله ګلونه.

**۸-توراغونه:**

د شپږ نوی په مخونو کې دلنډو کیسو دا ټولګه دشمیر له مخې پنځمه ده،چې مهدي صاحب چاپ کړې ده ، لاندې شپاړس کیسې لري .

کنډی –بې کفنه –اته انۍ –باتور – هلوکی –خپل کور – کاڼه –ځپلی –جناره –داستاد حق – کفن –اوبه خور –غني –دګنبت اوار – توړداغونه – جمرود رښتیا وسوزېده.

وړاندې مو دمهدي باچا چاپ شوي اثار په لنډو ټکو کې معرفي کړل ،اوس یوازې دده د ناچاپ اثارو نومونه اخلو :

۱ –نوی پښتون ۲ – دمینې مشال ۳ –امام حسین اودهغه مقصد ۴ –یزید دویم دور ۵ – دمهدي ډرامې ۶– دمهدي ناچاپې افسانې ۷ – خدایي خدمتګاران

د مهدي شاه مهدي داثارومحتوا :

په ټولیزه توګه دمهدي دلنډو کیسو محتوا اوموضوع خپله ټولنه او وګړي دي،فکري تمرکز یې په خپل چاپیر چل کې په کار بوخت دی،دولس غمونواوستونزو ته یې دفن اوهنر په جامه کې انعکاس ورکړی دی ،چې دیادو کړاوونو لامل دوخت دپرینګي استعماراوترې وروسته کله چې په ۱۹۴۷م دهند او پاکستا ن په نوم دوه جلا هیوادونه منځته راغلل،دهغه وخت دا ظالم اوجابر نظام مسلم لیګ و.دغه حکومت هڅه کوله ترڅو ازادي غوښتونکي پښتانه مبارزین وځپي، له منځه یې یوسي،چې دخپلې برحقې غوښتنې په شا شي.

مهدي دغه ټولې ناکردۍ اوتکلیفونه په سترګو لیدلي ،ځوریدلی او احساس یې پرې اغیزمن شوی دی ،په پایله کې مهدي باچا دیو رښتیني اوبا احساسه انسان په توګه ټولې نادودې دقلم په هنري ژبه غندلی اوراتلونکی نسل یې ددغو کرغیړنوڅهرو په کړنو خبر کړی دی،څوځل په دې جریان کې په خپله هم دتورو تمبو شاته لویدلی دی.

د مهدي شاه لیکنې له همدغو بې عدالتیو اودردونو سرچینه اخستې ده،دوخت سیاسي حالات چې پښتون قوم یې دمرګ کومې ته رسولی و او

دی، پــه خپلــو لیکنــو کــې ښــه انځــور کــړی دی،دادب پــه میــدان کــې مهــدي شــاه دهغــې نظریــې کلــک پلــوی دی،چــې ادب دژونــد لپــاره وســیله بــولي ،دده لیکنــې دپښــتنو دمبــارزو تــاریخي اوهنــري داســتان دی، مهــدي پــه سیاســي لحــاظ دفخــر ا فغــان خــان غفارخــان دنهضــت ســره تینګــه رابطــه درلــوده او نومــوړي هغــه څــه چــې یــې لیــدلی اوتــرې متــاثر شوی دی ،دغــو پیښــو تــه یــې پــه لیکنــوکې ځــای ورکــړی دی.

مهدي شاه د(تور داغونه) په نوم اثرپه سریزه کې یوځای داسې وایې،

((زه دعــوای نــه کــوم چــې زمــا کیســې بــه دلنــډو کیســو پــه تلــه دتللــو وي،ځکــه دکیســو پــه ډګــر کــې زه ځانتــه یــو طالــب العلــم وایم،کلــه چــې دکیســو دلیکلــو فکــر را ســره پیــدا شــي ،نــو وایــم چــې زه څــه لــیکم؟ بــل احســاس را ســره دا هم وي چې دچا لپاره یې لیکم، معنا داچې زه حقیقتونه ښکاره کول غواړم))

داکتــره انیتــا اعظــم پــه خپــل کتــاب (دپښــتو پــه افســانوي ادب کــې د ښځې اولسي مقام) کې دمهدي دلیکنو اړوند وایې:

((ښــاغلی مهــدي شــاه مهــدي دپښــتو افســانې ددغــه شــعوري دورهغــه افسانه لیکــونکی دی،دچــا چــې دټولــو نــه زیــاتې افســانوي مجمــوعې چــاپ شــوې، پــه دغــو مجموعــو کــې -نشــان -پــت- او دبــوډۍ ټــال زیــاتې مشــهورې دي،او پــه دغه واړو افسانویو مخصوص مقصدي ،سیاسي اوپښتني رنګ غالب دی.))

داکتــرې انیتــا اعظــم پــه کتــاب کــې دمهــدي شــاه مهــدي دلنــډو کیســو هغــې برخــې تــه توجــه کــړې ده ، چــې هغــې دکلیوالــو ښــځو بــې حــده مینــې تــه چــې لــه خپلــو خاونــدانو ســره لــري ، اشــاره شــوې ده ،پــه دې ســره ټــولنې تــه پیغــام ورکــوي ،ترڅــو ددوي ژونــد او حقوقــو تــه پاملرنــه وکــړي ، چــې پــه پــای کــې یــې د راتلونکو ناوړه عواقبو مخه نیولې وي.

امیر حمزه شنواری د مهدي دلنډو کیسو په باب وايي :

(( مهدي کـه ادب دژونـد لـپاره ګڼي نـو ددې دا مطلب نـه دی ،چې د هغوی پـه لیکونو کې و چې کلکې خبرې وی، چې پـه پرلپسې لوستو سره یې پـه ذهن بار او پـه ادبي ذوق ګرد پریوځي نه، بلکې هغوي دژوند هره مسله پـه داسې خوږو او ساده ادبي الفاظو کې پیش کوي، چې دیو صحیح ادبي ذوق خاوند یې ډیر په شوق سره لولي. ))

مهـدي باچـا پـه خپلـو لنـدو کیسـو کـې خپلـې اساسـي مـوخې تـه لومړیتـوب ورکوي، چې هغه د پښتون ملت دازادۍ مسله وه.

داکتـر حنیـف خلیـل پـه خپـل اثـر (نـوی نثـر او افسـانوي ادب ) کـې یوځای وايي :

((دیـو شـاعر پـه حیـث هغـه دومـره شـهرت بیـا نـه مونـد ،څومره چې هغـه دیـو افسـانه نګـار پـه حیـث مشـهور شـوتر دې چـې ((دمهـدي داسـتاني کلیات)) پـه نـوم کلیـات یـې پـه ژوندانـه چـاپ شول،وروسـته همـدا کلیـات پـه روسـي ژبـه د دارایـوف لـه خـوا ترجمـه او چـاپ شـول،ددې تـر څنـګ یـې د نشـان پـه نـوم دکیسـو ټولګه په لیبیا کې په عربي ژبه هم ترجمه شوې ده)).

دفـورم پـه لحـاظ دمهـدي صـاحب ژبـه خـوږه ،روانـه او سـاده ده، کردارونـه یـې په کیسو کې په خپله غږیږي،او دټولنیز ژوند له چوکاټ سرغړونه ،نه کوي،

دکرکترانـو پـه انتخـاب پسـې خپلـې ټـولنې تـه پـه ډیـر مهـارت ننـوتی دی، پـه لهجـه کـې یـو شـمیر پخواني وییونـه هـم تـر سـترګو کیږي، خـو یـو شـمیر لیکـوالان اونقـادان دمهـدي دکیسـو یـوه نیمګړ تیـا دا بـولي چـې زیـاتره کیسـې پـه حماسه پیل او په تراژیډۍ پای مومي.

لیکوال اوژورنالیست زرین انځور بیا دې ډول نظریو ته داسې ځواب وايي :

((دځینو نقادانو نظر د مهدي د تراژیک اړخ په باب سم دی، خو دلته خبرې ته له څو خواو غور په کار دی، خبره داده چې د مهدي د داستاني اثارو په تراژیدي ډول پای کې هم دغه اثر ته یوازې دیوې تراژیدۍ په نظر کتل نه دي پکار، مهدي د خپل وخت خپلو خلکواو چاپیریال هنرمند لیکوال دی، هغه دیو لیکوال په عنوان له یوې خوا هغه څه چې په مشخصه تاریخي مقطع کېویني او یایې دخلکو دژوند په تاریخي بهیر کې ترسترګو شي، انعکاس ورکوي، له بلې خوا داچې هغه د هنرمند لیکوال په توګه خلک له ژونده نه زړه توري کوي، بلکې غواړي چې دخپل اولس مبارزې او قهرمانان له خپل ټول کیفیت سره تصویر کړي، او په دغو تاریخي واقیعتونو کې موضوع په تراژیدي ختمه شوې وي او یایې تراژیک ډول دوام پیدا کړی وي ،دا کومه نیمګړتیا نه ده، دا دژوند یو واقیعت دی))

همدا راز دې موضوع ته خپله مهدي شاه داسې ځواب ویلي دی :

((دموضوع په لحاظ ماته د پښتنو د ازادي غوښتو بخښونکي نهضت بیلا بیل مسایل په لومړي قدم کې د پاملرنې وړ دي))

**مهدي شاه مهدي او شاعري:**

د وخت دولسپال او ازادي غوښتونکي نهضت دشاعرانو له ډلې یو هم مهدي دی، چې دخپل قوم د استقلال لپاره یې هم خپله طبعه ازمایلې ده ،خو دژوند ډیره برخه یې نثر ته وقف کړې وه، نو د نثر سیوری یې په نظم په پوره معنا غوړیدلی دی، سره له دې بیا هم دمهدي شاعري د محتوای او بڼې له مخې د وخت د پیاوړو شاعرانو له شعرونو سره د سیالۍ جوګه ده، ددې خبرې د ثبوت لپاره دمهدي صاحب یو غزل دلته راوړو.

## غزل

یار چې واچولم د هجر سرو لمبو ته
زرګر تل د غسې اور ورکوي سرو ته
ستا قدم مې چې په زړه دی جوړ ترې فرش دی
ځکه خاص دی ستا د حسن فرښتو ته
چې مې لاس ته زنځیر پریوت په خندا شوم
احتساب د عقل راغی لیونو ته
چې د خال په خیال پورته تر اسمانه
سر مې کله ټیټېدی شي اوس سجدو ته
د ګلاب په مخ پرتې پرخې ناري کړي
چې خلیل بیا ځان ور وسپاره لمبو ته
د تسکین خبري مه کوئ هوښیارانو
خیال مې کړی دی ډیر واري هدیرو ته
مهدي تریو تندي د یار هسې نشه کړو
لکه ورسي بورا د ګل وږمو ته

مهدي صاحب د خپلې شاعرۍ اړوند وايي :
(( زه دغزل شاعرنه یم، همیشه چې یوه واقعه ما متاثر کړي، نو اول زما په ذهن کې ترې افسانه جوړه شي او بیا نظم له هغې افسانې څخه جوړوم))
د مهدي شعري ټولګه روڼ سحر نومیږي ،استاد کامل مومند یې د شاعرۍ اړوند کاږي . :

((دمهدي ادبي عظمت زيات غالب او څرګند اړخ په حيثيت د يو نشار دی، خو په حيثيت د شاعرهم پښتو ادب ته د مهدي بخښنه د قام دقدر د باقي ساتلو او پاتې کيدو مستحقه ده))

د کوزې پښتونخوا يو بل ليکوال او اديب هميش خليل د مهدي د شاعرۍ اړوند يو ځای داسې وايي.

((مهدي طبعا ادب ته مايل ،شاعري ورته پلار په ميراث پريښې وه))

په پای کې همدومره وايو چې د مهدي شاه زړور قلم د ادب په ميدان کې ،هغه څه پريښودل چې وروستي نسلونه به پرې قضاوت کوي، د هر زورور او جابر پر وړاندې يې له ليکلو هيڅ ډول دريغ نه دی کړی، دښکيلاک له شومو اهدافو يې پرده پورته کړې ده، اودمسلم ليګ له تېريو او ظلمونو يې د فن او قلم په ژبه يادونه کړې ده.

**اخځونه**:


۱ – انځور، زرين، د مهدي شاه مهدي داستاني کليات، دافغانستان دليکوالو انجمن، ۱۳۶۷ لم،

۲ –اعظم، داکتره انيتا، د پښتو په افسانوي ادب کې دښځې اولسي کرداراومقام، ۲۰۱۰ م

۳–خليل، داکترحنيف، نوی نثر او افسانوي ادب، مرادعلي کتوزی چيف اديتر، ۲۰۱۱ م

۴–هاشمي، سيد محی الدين، دنثري ادب ډولونه، ۱۳۹۲ ل

پوهنوال احمدشاه زغم

# د حضرت عبدالرحمن بابا د شعر اروايي حالت ته يوه کتنه

دحضـرت عبـدالرحمن باباشـعر (کـلام) دونـې دګڼـې اوګـورې ونـې دګلانـو، ميووااو پاڼوپه څير، ښايسته رنګونه، اوښکلاوې لري.

دشـعردارواييي حالـت څيړنـه يوڅـه سـتونزورکاردی، داځکـه، چـې پـه شـعرکې داروا پـوهنې انګيزولټـول موږتـه دافکرراکـوي، چـې مـوږ لـومړی اروا پوهنـه تعريـف اوتشريح کړو، بيادهغه شخص رواني حالت وپلټواوله هغه وروسته يې په کلام کې سايکلوجکي نظرې اوافکارومطالعه اوترتحقيق لاندې ونيسو.

ترکوم ځايه، چې دحضرت عبدالرحمن بابادشعرپه (اروا پوهنه) پورې اړه لري، ، هغه داده، چې چې نوموړي زموږ هممعصرنه دی، لازمه ده، دهغه (اروابـاد) اروا پوهنه (سيکالوجي) دنوموړی له کلامه معلومه کړو.

تيغ داوسپنې محتاج دنرم آب دی
قرب، حلم يوپه سل دی زيات ترزوره

له لويي، له سرکښۍ يه مې توبه ده
خدای څوک مه کړه دآسمان په څیرنسکوره...

زموږ په دود (عرف) کې راځي: (که غرلوړدی، پرسرلارلري) (۶۸:۱)
په فارسي ادب اوفولکلورکې هم راځي: (گردن نرمه شمشير نمی بره (برد)
عبدالرحمن بابا (شيان ياتوکي) دستراجتماعي مضمون په سپړلوکې وسيله گرځوي اوډژونداصلي مفهوم موږته په حکيمانه توگه تشريح کوي؛ له همدې امله د دارواييی حالت جاج هم اخيستلای شو؛ وگورئ:

تيغ داوسپنې محتاج دنرم آب دی
قرب وحليم يوپه سل دی زيات ترزوره

شاعر (تيغ) دانسان له کلک طبيعت سره تشبه کوي، ياداسې، چې داوسپنې تيغ بياهم ددې لپاره، چې قوت اوتاب يې پيداکړی وي، نرمواوبوته احتياج لري او قرب وحليم ترزورسل واره بياوړي اوکارنده رول لري.

وايي، چې هرڅوک دنيادخپل (ديد) له عينکوياساحې گوري. دې ته نږدې اوزبيکي منل دی (هرکله وبرخيال) يعني هرسرشورلري، دغه شور دهغه انسان په الفاظواواعمالوکې منسجم کيږي اودشخصيت اوهويت) لامل يې گرځي.
دشخصيت دتبارزيوه ستره وسيله دانسان کلام دی، ياپه بله وينا (صورت او (سيرت) دشخصيت دبقاتضمين کوي. دپخوانواشخاصودشخصيت درجه دهغه له ويناوواوافکارومعلومواوهمدادانسان دروح لويه برخه جوړوي.

**متن**:

دنوروپخوانووتلومفکرينو، هنرمندانو، دين دوستونظروالو، عارفانواوشاعرانوپه څيردعبدالرحمن بابا دارواييی حالت اندازه دنوموړی له الفاظوياکلام (شعر) څخه ښه معلومولای شو.

کلام یې دشخصیت روښانه هنداره ده؛ په دغه هنداره کې نه یوازې عبدالرحمن، بلکې هرڅوک (الله پالنه، دین دوستي، دخدای له پیغمبر (ص) اوعادي مخلوق سره مینه، پوهه، زحمت کشي، حلاله روزۍ پیداکول اوکمائی کول، پند، نصیحت (نظري اوعملي عرفان)، څه ناڅه تصوف، اخلاق، ښه کول، له بدو پرهیز په ځان ویسایی، تواضع دکبرغندنه، رازداري، دعشق اصلي مفهوم دغسی په سلګونو نورلنیز دردونه اواجتماعي رواامیالواودباران په لورنیول اونورې موضوعګانې وینو، چې یې اروایی، له غوښتنې، کرداراودسلوک اندازه لګولای شو؛ لکه:

له لویي، له سرکشۍ مې توبه ده
خدای څوک مه کړه د آسمان په څیرنسکوره...

شاعرآسمان سره له دې، چې لوړاواوچت هم دی، زموږ په سرقرارلري، خوبیاهم لوړوالی دالله (ج) لپاره زیبنده دی اوآسمان یې نسکوره کړی دی.

خدای زده څه سودابه پیښنه په بازارشي دبازارخبرې نشي په خپل کور...

دعاشق سزاوارتوکي دعاشق دکامیابۍ لامل ګڼل؛ لکه:

داهمه واړه عاشق لره پیداشول
که تهمت، که ملامت دی، که پیغور...

متل په شعرکې دیوسترانساني آرمان په توګه استعمالوي، په دې معنا، چې انسان دزیاتواو زحمت کشۍ لپاره هڅوي او د دې ترڅنګ وایي که زحمت کشي ډېره ډیره سخته هم ده، اوکه دغم مثال هم ولري، دمهارولولپاره یې زیار، هڅه اوکوښښ په کاردی.

سعیه بویه له نسانه
چارې خدای سازوي جانه

یا: دموراو پلاربې کچه مینه له اولادسره ښي:

رحمان هسې په خپل يار پسې غوځ غوځ يم
لکه غوځ په خپل اولادوي پلارومور

يوژوراحساس داولادلپاره دموروپلاربنې او روحي حالت دي ته عياروي، چې داولاد درد ډېر سخت دی، خوبياهم دانسان مقاومت دټولنيزوپيښوپروړاندې ښيي.

دانسان شخصيت جوړيدل دنوموړي په اروايي حالت پورې اړونديږي اودغه شخصيت دانسان دمنظم سلوک اوکردارنتيجه ((يعنې داچې شخصيت دانسان دمنظم سلوک اوکردارپه نتيجه کې رامنځته کيږي.)) (۲: ۱۳۸)

دغه کردارپه کړنه (عمل) اوکلام (خبرو) کې څرګنديږي. کلام دشخصيت (انسان) دټولنيز هويت څرګندونه کوي.

دپروفيسورافضل رضا په ويناعبدالرحمن باباشخصيت دهغه دکلام (شعر) په آينه کې ليدلای شو؛ لکه: ((دکليم شخصيت ښکاري = دکلام په آينه کې... دعبدالرحمن بابادزړه آينه (بې رويه، بې رياده، هغه دهرچاپه وړاندې ده، څوک يې ددې ضرورت نه محسوسوي، چې دزيږون اومرګون نيټې يې ولټوي، هغه مړنه دی، ژوندی دی؛ بې علمه يې شعرونه دمتلونوپه توګه وايي...))) (۳: ۹۵)

همدارنګه نعيم شاه نعيم نظرلري: (( درحمن بابدشاعري عموميت درحمن باباخپل شخصيت داسې پټ کړی دی لکه دلمرشغلوشاته، چې نفرنه ښکاري، خوکه څوک ددې مقبوليت سوب لټوي، نوهغه به ددې څېړنې جواب هم درحمن بابا ديوان کې ومومي.)) (۴: ۸۴)

سياست پوهان خپل شخصيت دسياسي پوهې، نظريواوافکارودوړاندې کولواو ايرايه کولو له لارې ثابتوي؛ همدارنګه سوداګريې دمال اومنال په لاسته راوړلواودغه رازليکوال يې دليکوالۍ اوډول ډول مضمونونه دليکلواواجتماع ته دوړاندې کولواوهمدارنګه دشاعرشخصيت اواروايي حالت دهغه دشعرپه کرښوکې

مفهوم، معنااوبڼه ځلوي؛ په دې معنا چې شاعر په خپل شعر کې ټولنيز مضامين د رموزو، سمبولونو، خيالاتو، تصوراتو، عاطفي غوټو او مفهومونو له لارې وړاندې کوي کوم، چې د ده په اروا پوهنه پورې اړه لري.

د حضرت عبدالرحمن بابا سيکالوجي د ده د الفاظو او کلام د آيينې په سکرين وګورو، چې څنګه يې د فکري او اروايي حالت په حکم د کلام (شعر) له لارې وړاندې کېږي او موږ ته د انسان د سوچه انساني پر تم او هويت ځلونه کوي. بايد وو وايو د رحمن بابا د کلام نفسياتي مطالعه ډېره په زړه پورې ده. حنيف خليل د کوزي پښتونخوا تکړه ليکوال په دې نظرو، چې: ((رحمن بابا نه يوازې د انسان د خارجي کردار تجزيه کړې ده، د غه شان يې د انسان داخلي احساسات روحاني او وجداني عوامل هم په بين السطور کې ښوولي دي. اول يې په کائيناتو کې د موجوده تخليقاتو په حواله مجموعي خبره کړې دي... د نړۍ د مخ انسان يې لومړی په دوه برخو ويشلی دی... لکه:

له طاعته، له ګناهه
ځناورونور څه نه زده
څه خبروي ځناور
يا يې خوب وي يا يې څر

او که لږ غافل شي نو د خدای له معرفته نه خبرېږي:

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم
معلومېږي چې يابوم يم يا دواب يم
که صورت مې د سړي دی زه يې څه کړم
په معنا کې د چارپايو په حساب يم...

له پورته نظر بشکاري درحمن بابا فکروروان دمعرفتي مینې پرمدار څرخیږي.))
(۴: ۱۰۰)

شعرله هغه څه الهام اخلي، چې دانسان دطبیعت فطرت یې پرسړي پیرزوینه کوي؛ دالهام (داخلي اوڅه ناڅه بهرني لاملونه دی، چې دهنراوبیاشعرددپنځیدولامل ګرځي.)

دحضرت عبدالرحمن باباشعرهم دهغه دطبیعت الهام دی کوم، چې روان اوسیکالوجي یی پرده باندې پیرزوینه کوي.

امریکایی دوکتوراوروانشناس اولیکوال دیل کارنګي وایي: ((انساني طبیعت دانسان دشخصیت ځلونه کوي، هویت یې ټاکي اوپه ټولنه کې یې دکرکتر تثبیت کوي؛ زموږروان زموږ دشخصیت ضامن دی اوزموږداعمالو (کردار) اونظریوکې انعکاس مومي)). (۶: ۲۶۴)

درحمن بابادروان شخصیت ډیرځله موږدنوموړی په نظریو (شعر) کې مومو؛ نوموړی دیومؤمن په توګه خدای یادوي اودالله (ج) اصلي هویت په یوډیرلوړهنري اوادبي اندازکې داسې ځلوي:

ګوره هسې کردګاردی رب زما
چې صاحب دکل اختیاردی رب زما
همګي بزرګواران چې څوک یې وایي
ترهمه وو بزرګواردی رب زما
نه یې هیڅ حاجت په چاپورې موقوف دی
نه دهیچا منت باردی رب زما
له نیستی دهستی صورت پیداکړو
هسې رنګ پروردګاردی رب زما

هـــــم صــــــنایع دی دجملـــــه وومصــــــنوعاتو
هـــــم ســـــــامع دهر گفتـــــاردی رب زمـــــا
چــې یــــې هیچیــرې نــــه مثــل، نــــه مثــال شـــته
دهغوعطروعطـــــــــــــاردی رب زمـــــــــا
شـــریک نــــه لـــري پــــه خپلــــه پادشـــاهۍ کـــې
بـــــې شــــــریکه شــــــهریاردی رب زمــــا
حاجـــت نــــه لـــري دهیچاویـــــارۍ تــــه
لـــــه هغوســــره چــــې یــــــاردی رب زمــــا
څـــه حاجـت دی، چــې وبــل خواتـــه یــې غـــواړم
پــــه خپـــــل کـــــور کې همکنــــاردی رب زمــــا
هـــیڅ تغیـــر او تبــدیل نـــه لـــري رحمــــــانه
تـــــل ترتلـــــه برقـــــراردی رب زمــــا

دخـدای (ج) لـه پیغمبر (ص) سره مینه کـوي او اصـلي هویـت یـې دکـلام پـه څپوکې درب جلیل یورښتني استازی په توګه څرګندوي:

کـــــه صـــــورت دمحمـــــد نــــــه وای پیـــــدا
پیـــــداکړې بـــــه خـــــدای نـــــه وای دادنیــــا
کـــــل جهــــان دمحمــــد پـــــه روی پیداشـــــو
محمـــــــد دی دتـــــــمام جهـــــان آبــــــا
نبـــوت پـــــه محمدبانــــــدی تمـــــام شـــــو
نشـــــــته پـــــس لـــــه محمــــده انبیـــــا...
کـــــه رهنـــــاده پیـــــروی دمحمـــــــد ده
ګـــــــنه نشـــــته پــــه جهـــــان بلــــه رهنــــا

محمـــــــد دبیچـــــــاره و جـــــــازگردی
محـــــــمد دی هـــــــردردمن لـــــــره دوا
زه رحمـــــان دمحمـــــد ددرخـــــاکروب یـــــم
کـــه مـــې نـــه کـــا خـــدای لـــه دې دره جـــدا

مولاناعبدالقادر درحمن بابا دکلام داغیز منتوب پـه برخـه کـې لیکـي: ((رحمـن دهرچادزړه خبرې په خپلوخوږوالفاظوکې کوي، دده آوازدهرچاغوږتـه و رسـي، ښـځې اونرهرڅوک بې ساخته دده دساده الفاظوسره غورځنګ خوري، دده توری دهرچازړه تـه پریوزي)). (۷: ط)

**نتیجه**:

لنـډه دا، چـې دعبـدالرحمن بابـاکلام ولـې دومـره خـوږ، پـردرده، پررنګـه، لـه واقعیتونوسـره مـل، تـول سوزسـوز، درد، درد اوعـالمګیردی، چـې دهـر لوسـتونکي اواوریدونکي د زړه ملهم دی، عالمان هم ددې قایل دی اوزاهدان هـم، مستانه هـم پـه دې نشـه کیږي اوملنګـان هـم پـه دې هوحـق چیغـې پورتـه کـوي اودقلنـدرانوخودچاخبره دغاړې تعویذ هم دی. غرض داچې دیوانه اوفرزانه دواړه رحمن ته رجوع کوي.

دیادولوو ړده، چې رحمن یوفطري فنکارشاعرو، چې هرډول مطالب یې په کلام کې شته، چې داټول دنومونږي داروایي حالت ښوونه کوي.

جیمزآلن په خپل کتاب ((رمزموفقیت)) کې وایي؛ دهرچافطرت دهغه دروان اوتفکرترجمان دی، دغه ترجماني دنومونږی انسان په اعمالویاامیالوکې ځان ښکاره کوي اودعملي ژوند برخه یې ګرځي)). (۸: ۱۷۷)

رحمـن دنیا پـه لغتـه وهلـې، دنیـایې سـعادت هـم ګڼلـې، خوقناعـت یـې ورسـره ضروري ګڼلی دی، ضدیت بدګڼي. دنیا په مشروط ډول ښه بولي؛ لکه:

ښه ده، ښه ده دادنیا
چې توشه دعقبا
مذمت ددنیامه کړه
واوره پندکاداوینا
ددنیا په بازار کېږي
دهغه جهان سودا
په دنیاکې ډېرحکمت دی
ورشه وپوښته حکما...

جفاغندي، وفاداري، مینتوب، ښه یار، عاشقې، په مینه له سره تېریدل، په یارپسې ژړا، عالمانو، ددنیاخوښي اوغم، دخلکوپه غم غمجنیدل، ددنیابې وفایی، دعشاقوبې وفایی اوبې پروایی، قسمت او نصیب، دمعشوقي زیبائی؛ حسن، خاموشي، پند، نصیحت، زهد، عرفان، تصوف، دعاشقانوهمت، توکل ، عاشقي، ساقي، شوخ چشمان...

په لنډه توګه درحمان بابادغزل ژبه عام طورسره ډېره صفا، ساده، روانه اوسپېڅلې ده، چې دده جذبات ترې ښکاري اودغوجذباتوپاکیزه ګی دده دطبیعت اوروان صفایی راپه ګوتوکوي.

دخدای ښلی دوست محمد کامل په وینا: ((درحمان باباکلام له عجیبه کیفیته ډک دی، که هرڅودیاردحسن تنداره کوی کلام یې ترې مینه ناکه، بهره مومي اودادده دطبیعت زیبایی ده. دده دکلام خوږوالی دده لپاره دی، چې کلام یې له عاشقانه درده ډک دی.

مرتبه که ستادعشق شي ورڅرګنده ملائیک به واړه وایي، چې بشروی...)) (۹: ۱۳۳۸)

دحســن اختتــام لپــاره بــه دحضــرت عبــدالرحمن بابــادخروارخروار اعجــاز آمیــزه، سحرګراوښایســته ګــلاب کــلام نــه مــوتې مرغلــرې راواخلــو، چــې دنوموړی دنیت اواروایی حالت بیان کوي:

چـــې مـــدام دبـــل وعیـــب وتـــه نظرکـــړی
خـــدای لـــه خپلـــه عیبـــه ولـــې نـــاخبرکړی
کـــه یـــوه جودانـــه عیـــب وینـــې پـــه بـــل کـــې
هغـــه یوجودانـــه عیـــب بـــه یـــې لـــوی لکـــه غرکـــړي
کـــه دې خپلـــه ګنـــاه لویـــه لکـــه غـــروي
پـــه حیلـــه حیلـــه بـــه غـــرد مـــچ وزرکـــړي
کـــه څـــوک تلـــه دانصـــاف درتـــه پـــه لاس کـــې
خپـــل ټټواودبـــل آس بـــه برابرکـــړي
تولعنـــت دې پـــه داهســـې منصـــفۍ شـــه
چـــې لـــه حقـــه وباطـــل وتـــه ګـــذرکړي
خـــدای وتاتـــه ملائیکومقـــام درکـــړو
تـــه داخپـــل صـــورت پـــه خپلـــه ګـــاوخرکړي
پـــه نعمـــت یـــې شـــکرانه کـــولی نشـــی
چـــې زحمـــت دربانـــدې درشـــی شوروشـــرکړي
کـــه دې یوویښـــته دځـــان دپاســـه کوږشـــي
ځـــان هغـــه ســـاعت لـــه خدایـــه مرورکـــړي...
دځـــوانۍ عمـــردې تیرکړپـــه غفلـــت کـــې
پـــه پیـــرۍ کـــې بـــه څـــه زیرمـــې دمحشـــرکړي...
پـــه پیـــرۍ کـــې دځـــوانۍ چـــارې نـــه شـــي

تــــه پــــه ورځ دعاشـــوری بـــه څـــه اختر کــــړې
لکـــه بــیـخ دزړې ونـــــی جـــنجس وخــــوري
پـــــه داتیرعمربـــــه څـــــه شــــاخ وثمرکـــــړې
دغـــه بــاغ بـــه دې خـــلاص نشـــي لــه خزانـــه
کــــــــه چــــــا پیرورځنې سددســــــکندرکړې
وبــدخواه تــه څــوک نیــک نصــیحت نــه کــا
رحمـــن ســـتاپه غـــم شـــریک دی کـــه بــاورکړې
(۱۰: ۱۶۰، ۱۶۱)

**ماخذونه**:


۱- قرآنکریم، ثورت، الاسرا. ۸۵آیت.
۲-آلن جیمز، ۱۳. رمزموفقیت.
۳-خلیـــل، حنیـــف، ۲۰۰۵م، رحمـــن پوهنــه (دریــیم جلــد). پیښـــور: یونیورستی بک ایجنسي خیبربازار.
۴- بابـا، عبـدالرحمن، ۱۹۶۳. دیـــوان. پیښـــور: پیښـــوریونیورســـتی. پښـــتو اکاډمي.
۵-رضـا، پروفیسورافضـل، رحمــن پوهنــه. پیښـور: محلـه جنګـي. بابوحیـدر رود، رحمن ادبي جرګه.
۶-عبدالقادر، مولانا، ۱۳۸۶. دیوان (سریزه). پاکستان، لاهورښار.
۷- کارنګي، دیل، آین زنده ګي.

۸– مومند، دوست محمد، ۱۳۸۴. رحمن بابا. پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۹– نعیم، نعیم شاه، ۱۹۹۳. رحمن پوهنه. پیښور: محله جنګي. بابوحیدر روډ، رحمن ادبي جرګه.
۱۰– همداني، مشفق، ۱۳۸۳. روانشناسي برای همه (۱۲ چاپ) ایران: تهران. انتشارات صنعتي علیشاه. چاپ مروی.

څېړنپوه سيدمحی الدين هاشمي

# په پښتو ژبه اوادب کې د ادبي مطالعاتو تاريخي بهير ته لنډه کتنه

ادبيات او ادبي مطالعات دوه بېل شيان دي او توپير يې دادې چې ادبيات هنر دی او تخليقي جنبه لري او پنځوونکی يې اديب دی او ادبي مطالعه يو ډول پوهه ترلاسه کول او زده کړه ده، لوستونکی داديب پنځولی اثر يا د هغه په باب څېړنه لولي او تر تحليل وروسته ځان پرې پوهوي، نو په دې اساس اديب تخليق کوونکی او هنرمند دی او هغه بل دده تخليقي ليکنه لولي، معلومات ترې اخلي ، نو ځکه دکتونکو او زده کوونکو په ډله کې راځي.

سره له دې چې اوس ځينې ادبپوهان دادبياتو په اړه څېړنې اوسپړنې په ادبياتو کې نه شمېري، خو داچې دا څېړنې او مطالعات دادب دماهئيت او منځپانگې دتوضيح ،تشريح او پېژندنې لپاره کيږي، نو دادب له چوکاټ څخه يې رابېلونه هم له ستونزو ډک کار دی.(۱)

موږ دلته ، په پښتو ژبه او ادب کې دادبي مطالعاتو او څېړنو په تاریخي بهیر لنډ او ځغلند بحث کوو:

دنړۍ هره ژوندۍ ژبه خپل ادبیات او دهغې د ادبیاتو دمطالعې ځانګړې شالید لري. پښتو هم دنړۍ دیوې ژوندۍ آریایي ژبې په توګه له خپلو ادبیاتو او دهغو له تاریخي پس منظر څخه برخمنه ده .

د پښتو ادب د موجودو او لاس ته راغلو منظومو او منثورو بېلګو په استناد زموږ د ادبي تاریخ لومړۍ دوره دادبپوهانو دنوي تصنیف له مخې له دوهمې هجري پېړۍ، یعنې له امیر کروړ څخه پیل او دبایزید روښان ترزمانې پورې دوام مومي . دغه لومړۍ دوره چې ۳۹۱ – ۹۵۰ هـ ق زمانه راچاپېروي، موږ ډېر لږ منظوم اومنثور آثار یا دهغو په اړه معلومات په لاس کې لرو. ترکومه چې خبره په پښتو ادب کې په ادبي مطالعاتو پورې اړه لري، لومړنی اثر چې دپټې خزانې لیکوال محمد هوتک یې موږ له شتون څخه خبروي او دهغه دځرنګوالي په اړه معلومات راکوي هغه ((دسالووړمه)) ده، چې ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني (۲۳۳ – ۲۹۷ هـ ق ) لیکلی و. دپټې خزانې لیکوال لیکي چې:

((نقل کا چې ابو محمد په پښتو یو کتاب کښلی و، چې په هغه کې یې دعربي اشعارو فصاحت او بلاغت بیان کړی و او نوم یې و ، دسالووړمه(۲)

داکتاب تراوسه نه دی ترلاسه شوی، نوځکه یې دځرنګوالي په اړه څه نه شوویلی، یوازې دمحمد هوتک دځرګندونو له مخې دومره وایو، چې کتاب پښتو او په نثر و او دعربي ژبې دادب دفصاحت او بلاغت په اړه لیکل شوی و، نو یې په پښتو ژبه اوادب کې د ادبي مطالعاتو په اړه لومړنی اثر بولو او دخپلو ادبي مطالعاتو تاریخي بهیر له همدې دریمې هجري پېړۍ څخه را پیلوو.

تردې وروسته بیا تراوومې هجري پیړۍ دکوم لیکلي پښتو ادبي اثر څرک نه وينو، ترڅو چې له ۶۱۲هجري قمري کال څخه وروسته سليمان ماکو خپل اثر پښتو ((تذکرة الاولیاء)) لیکلی، چې څو پاڼې یې دزمانې له سیلیو خوندي پاتې او ترموږ رارسیدلې دي. داترلاسه شوې پاڼې لومړی په ۱۳۱۹لمریز کال په کابل کالنۍ، بیا په ۱۳۲۰لمریز کال په پښتانه شعراء لومړي ټوک کې چاپ شوي دي او بیا وروسته تر ۱۳۷۹ لمریز کال پورې دوه ځله دځانګړې رسالې په بڼه چاپ او خپرې شوې دي.

دسلیمان ماکو دتذکرة الاولیاء په دغو موجودو څلورو پاڼو کې دپښتو دڅلورو لرغونو شاعرانو: حضرت شیخ بیټ نیکه، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار دشعرونو بېلګې او په نثر دهغوی لنډې ژوند پېښې راغلي، نوځکه یې دپښتو په ادبي مطالعاتو کې شامل بولو او له سالو وړمې وروسته یې دپښتو لومړنی لاس ته راغلی ادبي اثر ګڼلی شو.

تردې وروسته بیا دپښتو ادبیاتو دتاریخ په دوهمه دوره کې، چې له بایزید روښان (۹۲۶– ۹۸۵ هـ. ق) څخه پیل او ددیارلسمې هجري قمري پیړۍ ترنیمايي پورې رارسیږي، موږ ډیر منظوم او منثور آثار لرو، چې هغه په ادبي مطالعاتو کې دیادونې او ستاینې وړ ځای لري.

په دې لړ کې لومړی دبایزید روښان ((خیرالبیان)) او داخوند درویزه ((مخزن اسلام)) نومونه دبیلګې په توګه اخلو، چې په پښتو ادبي مطالعاتو کې ځانګړی ځای لري.

دخوشحال خان خټک مشهور اثر دستارنامه، چې دمغلو دواکمنۍ پر مهال دهند درنتهبور په زندان کې یې په ۱۰۷۶ هـ ق کال په پښتو نثر لیکلی، په ځانګړو علمي او ادبي بحثونو سربېره نور ادبي ارزښتونه هم لري، په ادبي مطالعاتو کې یې یادونه اړینه ده. همدارنګه په همدغه دوره کې دعبدالقادر خان خټک ګلدسته، چې دشیخ سعدي

د ادبي اثر ((ګلستان)) آزاده پښتو ژباړه ده او په ۱۱۲۴ هجري قمري کال په خوږه ادبي ژبه ترسره شوې، دیو ادبي اثر په توګه د پښتو په ادبي مطالعاتو کې شامل دي. دګوهر خان ختک قلب السیر، چې په ۱۱۲۰ هجري قمري کال یې له دري څخه په پښتو نثر ژباړلی ، دحضرت محمد(ص) پرسیرت سربېره په کې د شاعر ډېرې منظومې شعري بېلګې او ادبي ځرګندونې خوندي دي، په ادبي مطالعاتو کې دراوړلو حق لري. همدارنګه دافضل خان ختک دکلیله اودمنه ژباړه، چې په خوږه پښتو ادبي ژبه په ۱۱۲۸ هـ ق ترسره شوی او ((تاریخ مرصع))، چې تر ۱۱۳٦ هـ ق پورې پېښې په کې خوندي دي دځینو ادبي بحثونو دلرلو له امله زموږ په ادبي مطالعاتو کې راتلای شي.

د دې دورې یو بل مهم اثر، چې زموږ په ادبي مطالعاتو کې بنسټیز ارزښت او اهمیت لري، هغه دمحمد هوتک ((پټه خزانه)) ده، چې په ۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ هـ ق کلونو کې لیکل شوی دی.

د پښتو نثر اته سوه کاله اثر دلیکوال دځرګندونو له مخې ((زموږ په ادبي مطالعاتو)) کې د دې اثر ارزښت او اهمیت څو اړخیز دی. د دې کتاب معلومات د پښتنو د فرهنګي تاریخ، ادبي تاریخ او د پښتو د نظم او نثر د تاریخ لپاره ډېر ګټور معلومات وړاندې کوي او موږ د خپل لرغوني ادبي تاریخ دمانۍ درغونې بنسټ دهمدې کتاب پر محتویاتو ږدو. (۳)

د پیر محمد کاکړ معرفة الافغاني، چې تر ۱۱۸٦ هـ ق کال دمخه لیکل شوی، زموږ په ادبي مطالعاتو کې دیادونې وړ دی. دحمید مومند داشعارو پښتو شرحه، چې په همدغو وختونو کې شوې او شارح یې نه دی ځرګند، او همدارنګه داحمد شاه بابا داشعارو پښتو شرحه، چې دهغه معاصر خانعلوم قاضي محمد غوث کړې او په ۱۳۵٦ لمریز کال دکندهار مجلې له خوا داستاد رشاد په سریزه چاپ شوې ده، د پښتو دادبي مطالعاتو د تاریخي لړۍ بېلې بېلې کړۍ دي.

دادبي مطالعاتو پـه لړ کې دننګرهار دګردي غـوث او سـيدونکي مياشرف دپښتو عروض نومي اثر يادونه هم ضروري ده ، پـه پښتو شعر او ادب کې دعربي عروضو پـه څرنګوالي بحث کوي او په پښتو شعر کې دعروضو بېلګې وړاندې کوي.

مياشرف دلوی احمد شاه بابا معاصر او له هغه سره پـه ۱۱۷۴هـ ق کـال دپـاني پـت په جګړه کې حاضر و، دميا شرف پښتو عروض په ۱۳۴۴ لمريز کـال دپوهاندرښتين له څېړنو سره پښتو ټولنې چاپ کړي دي.

په ادبي مطالعاتو کې دګلش اشعار افغاني سيد عمر راټولونه او دمولوي نورمحمد نوري افغان غونچه روه، چې په ۱۲۸۰ هـ ق کال يې بشپړ کړی ديادونې وړ ده (۴)

او په همدغو وختونو کې دمولوي احمد (۱۲۶۱ –۱۳۰۰هـ ق ) نوم بايد هيرنه شي، چې ګنج پښتو، دآدم خان – درخانۍ منثوره کيسه او نورېې په ادبي مطالعاتو کې ځانګړی ځای لري.

ختيځپوهان هم دپښتو دادبي مطالعاتو پـه بهير کې ديادونې او ستاينې وړ ونډه لـري. ددغـو ختيځپوهـانو پـه ليکلـو او راټولـو کـړو آثـارو کې دډورن (۱۸۰۵– ۱۸۸۱ پښتومنتخبات (۱۸۴۸م چاپ)، دراورټي ګلشن روه، (۱۸۶۰م چاپ) دپادري هيـوز کليد افغاني (۱۸۷۳م چاپ)، دډارمستټر پښتونخوا دشعر هارو بهار او نور دبېلګې په توګه يادولای شو. په لړ راوروسته وختونو کې، چې پـه پښتو ادبيـاتو کې دهنري نثـر د پيدايښـت څرکونـه لګيږي، دميـا محمـد يوسـف کاکاخېـل توبـة النصوح نـاول (۱۳۲۳هـ ق ) او دمياحسيب ګل کاکا خېل (۱۲۹۳ هـ ق) دنقش نګين ناول لـه اردو څخه پښتو ته ژباړلي، سيدراحت زاخيلي په پښتو ژبه ناول دماه روخې ليکلی او پـه ۱۹۱۰ م کـال چـاپ شـوی، قاضـي ميراحمـد شـاه رضـواني پـه ۱۸۹۸ م کـال بهارسـتان افغاني او په ۱۹۰۵ م کال شکرستان افغـاني چـاپ کـړي، چـې دپښـتو پـه معاصرو ادبي مطالعاتو کې مهم ځای لري.(۵)

له دې راوروسته په معاصره ادبي دوره کې د پښتو دادبي مطالعاتو بهير چټکه وده، پراختيا او پرمختيا موندلې، ډير نوميالي ليکوال او څېړونکي رامنځ ته شوي، چې په خپلو ارزښتناکو ليکنو او څېړنويې ادبي مطالعات بډای کړي. په دغو نوميـاليو اديبانو کې د بېلګې په توګه په افغانستان کې د: پوهاند عبدالحی حبيبي ، پوهاند صديق الله رښتين، پوهاند عبدالشکور رشاد، ګل پاچا الفت ، عبدالرؤف بينوا، قيام الدين خادم او همدارنګه په پښتونخوا کې دوست محمد کامل مومند، امير حمزه شينواري، سمندر خان سمندر او نورو نومونه يادوو، چې هر يو په لس ګونو آثار د پښتو ادبي مطالعاتو بهير ته ور ډالي کړي او د پښتو ادب پانګه يې پرې درنه او شتمنه کړې ده.

**اخځليکونه**:

۱- سيدمحی الدين هاشمي (سرمحقق)، د ادب پوهنې څانګې، ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ لمريز کال، ۸۴مخ.
۲- محمد هوتک، پټه خزانه، څلورم چاپ، کابل پوهنتون، دژبو او ادبياتو پوهنځی، ۱۳۵۷ لمريز کال، ۶۰مخ.
۳- زلمی هيوادمل (سرمحقق)، د پښتو نثر اته سوه کاله، دوهم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۰ لمريز کال، ۴۳۲مخ.
۴- زلمی هېوادمل (سرمحقق)، د پښتو ادبياتو تاريخ (لرغوني او منځنۍ دورې)، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹ لمريز کال، ۲۷۵مخ.
۵- جاويد خليل (ډاکټر)، پښتو او متشرقين، پښتو اکيډيمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۱م کال، ۲۵مخ.

څېړندویه جمیله سروري

# د استاد عبدالروف بېنوا ژباړو ته ځغلنده کتنه

د ادبیاتو پراخې نړۍ په خپلې پراخې اوهنرپالې لمن کې داسې نوابغ، د قلم خاوندان او لیکوالان روزلي، چې نومونه اویادیې د تل لپاره دژوند او تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو حک شوي دي.

د دې ډلې له معاصرو لیکوالانو څخه یو هم استاد عبدالروف بېنوا د یادولو وړ دی. هغه اروانباد د خپل ژوند په بهیر کې ژبې او ټولنې ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. مخکې له دې چې د استاد بېنوا په ژباړو خبرې وکړو، لازمه ده چې د هغه د ډېر لنډ ژوندلیک وړاندې کړو او په دې توګه د هغه له شخصیت سره یو څه اشنا شو. فاضل استاد عبدالروف بېنوا د مفتي عبدالله زوی او د مولوي عبدالحق آخوند زاده لمسی دی، په ۱۲۹۲هـ. ل کال (۱۹۱۳م) د کندهار ښار خرقې شریفې ته څېرمه د سیدحسن خان په کوڅه کې یې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي.

د استاد بېنوا کورنۍ عالمه او علم پاله کورنۍ وه، نو ځکه یې مشرانو وغوښتل، چې دی هم دیني زده کړې وکړي، همدغه و چې د قرآن کریم تر زده کړې وروسته یې د هېواد د لوی عالم مولانا عبدالکریم حقاني، چې د بېنوا ورور و، تر استادۍ لاندې خپلو دیني زده کړو ته دوام ورکړ او عربي صرف او نحو یې تر اعلی درجې زده کړل، بیا یې فقه ولوستله چې مولوي ترې جوړ شو، تر دغو زده کړو وروسته یې ادبي ډګر ته مخه کړه او په شعر لیکلو یې پیل وکړ، له دې وروسته یې خپلو زده کړو ته په کابل ښار کې دوام ورکړ او په شخصي توګه یې عربي ادبیات زده کړل، بدیع، بیان او صرف یې ولوستل، په دې وخت کې یې پارسي ژبه هم زده کړه، د دې تر څنګ یې اردو هم د لیکلو او لوستلو تر کچې رسولې وه.

بیا یې د انګرېزي ژبې زده کړې ته ملا وتړله، چې د ژباړې توان یې په دې ژبه کې ترلاسه کړ او بشپړ برلاسی یې پرې پیدا کړ.

استاد له نوې ځوانۍ ژباړو او تالیفاتو ته مخه کړې وه، چې له دري، عربي، انګرېزي او اردو ژبو څخه یې ښې رواني ژباړې کولې. (۱)

مخکې تر دې چې د استاد بېنوا ژباړلي آثار په لنډه توګه معرفي کړو بې ځایه به نوي چې د ژباړې په اړه لنډ معلومات وړاندې شي.

ژباړه د علم د عامېدلو او فکر د خورېدلو یوه داسې وسیله ده، چې علم او پوهه نړیوال کوي او فکرو فن د انسانانو ترمنځ شریکوي. (۲)

په یوه ژبه کې د ادبي، علمي او فرهنګي بډاینې غوره لار او پیاوړی لامل (ژباړه) کېدای شي. د یوه څېړونکي او لیکوال له خوا په یوه ژبه کې هنري، ادبي، علمي او په ټولنیز ډول فرهنګي ایجادیات او هستونې هغه ارزښتمنه اوله وپاره ډکه معنوي شتمني ده، چې وياړېږي نه یوازې لیکوال او رامنځ ته کوونکي ته ور رسېږي بلکې د راتلونکو نسلونو لپاره هم یو فرهنګي میراث او لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

د بشریت په تاریخ کې هغه قومونه او خلک پیاوړي بلل کېږي، چې د خپلو مادي شتمنیو ترڅنګ معنوي شته والي او موجودیت ته ارزښت ورکوي.

که موږ وغواړو چې نورو ته خپل فرهنګ ور وپېژنو او د نورو په نظریاتو اوعقایدو پوه شو نو باید د ژباړې اساسي فن ته زور ورکړو. (۳)

په عمومي توګه ژباړه په درې ډوله ده.

الف- تحت الفظي (ټکي په ټکي) ژباړه.

ب- محاوروي ژباړه.

ج- آزاده ژباړه.

الف- تحت اللفظي ژباړه: په دې ژباړه کې ژباړونکی ټول مفاهیم د ژباړې په وسیله له یوې مخې خپلې ژبې ته رانقلوي. تحت اللفظي ژباړه عموماً په علمي او تحقیقي موضوعاتو کې کېږي، په دې ډول ژباړو کې ژباړونکی ځان ته د هېڅ ډول تصرف حق نه ورکوي او که په اصلي متن کې کومه تېروتنه هم په مخه ورځي هغه هم را ژباړي، البته په دغسې مواردو کې د لیکوالۍ د اصولو له مخې ژباړونکی دا حق لري، چې هغه اشتباهي برخه په متن کې د ځانګړې نومرې یا ستورې په وسیله په نخښه او بیایې په لمن لیک کې اصلي اوسمه معنا یا بڼه توضیح او تشریح کړي.

که د علمي او تحقیقي لیکنو د اصلي متن په ژباړه کې ژباړونکی دا کار ونه کړي د لیکوال د لیکنې اصلي مفهوم زیانمن کېږي، نو ځکه په دې برخه کې ډېرغور په کار دی، چې ژباړونکی ټول مفاهیم د هغو له ټولې محتوا سره، چې په لومړۍ ژبه کې دي وژباړي او علمي امانتداري په کې بشپړه رعایت کړي. (۴)

ب- محاوروي ژباړه:

د دې ډول ژباړې په اړه باید ووایو، چې که دا لړ څه ګرانه ده خو ژباړونکی د لیکوال له موخې او مطلب څخه لرې نه ځي، که څه هم الفاظ بدلېږي رابدلېږي خو مطلب ته

زیان نه رسي او د لیکوال حقوق خوندي ساتل کېږي. دا یوه جوته او ښکاره خبره ده، چې ژباړونکی باید په دواړو ژبو بشپړ حاکمیت ولري او د دواړو ژبو په محاورو، متلونو، اصطلاحاتو، تشبیهاتو، اشعارو، کنایو او نورو باریکیو ښه پوه وي، په دغه صورت کې کولای شي، چې د محاوروي ژباړې له عهدې څخه ووځي.

په یقین سره ویلای شو، چې په عمومي ډول ژباړه ډېر ستونزمن کار دی، په تېره بیا د نظم ژباړه دا ځکه چې په دې ډول ژباړه کې د ژباړونکي مسؤولیتونه، د نثر ترژباړې ډېر دي.

ج – آزاده ژباړه:

په دې ډول ژباړه کې کېدلای شي، چې له اصلي لیکنې نه یې ژباړه ډېره په زړه پورې او خوندور رنګ ولري خو په دې کې د لیکوال له موخې او مطلب څخه د لرې کېدو ډېر امکانات لیدل کېږي، دا ځکه چې په دغسې ژباړه کې ژباړونکی هڅه کوي، چې رنګین او زړه راښکونکي الفاظ وکاروي، زیات وکم یې کړي او د خپل کلام د ښکلا لپاره له هرډول چارچلند او کړو وړو څخه کار واخلي، بې شکه چې دغسې ژباړه ډېره ښکلې او خوندوره وي، خو کېدلای شي ژباړونکی له اصل مطلب څخه لرې لاړ شي، که داسې ونه شي نو تر ټولو ښه او غوره ژباړه به همداوي.

((د نظم محتوی او د بیان اسلوب دوه بنسټیز عناصر دي، چې په هغو کې کمی اوزیاتی، لوړتیا او ځوړتیا د شعر او شاعر درجه ټاکي، څومره چې ولوله، تجربه او پېښه په رښتینې توګه په کې انځور شوې وي هومره یې مضمون ښه او غوره وي خو د دغسې مضمون د بیان لپاره ساده ګي یا رنګیني، پیاوړتیا او ځواکمنتیا، د تخیل مرستې، تشبیهاتو، استعاراتو او داسې نورو ته اړتیا لیدل کېږي. په همدې اساس د شعر لپاره د بیان اسلوب ډېر اهمیت او ارزښت لري، که د شعر لپاره غوره الفاظ ونه ټاکل شي او هغو ته ښکلی او حسین ترتیب ورنه کړل شي طبیعي ده، چې خپل

اهمیت له لاسه ورکوي، همدغه وجه ده، چې ټول شاعران او اشعار یو ډول نه وي او نه د یوه شاعر هرشعر هماغه یوه درجه لري، ځکه خو د شاعرانو او اشعارو پایه اودرجه په همدې اساس ټاکل کېدای شي.))(۵)

کوم معیارونه چې دژباړې پرمهال اړین دي پورته یې لنډه یادونه وشوه، د دغو ټولو معیارونو او اصولو په پام کې نیولو سره استاد بېنوا یو شمېر آثار له بېلابېلو ژبو څخه راژباړلي دي، چې حتی ځینې یې نړیوال شهرت لري، د استاد په دې ژباړو کې ټول علمي اوهنري خوند ډېر ښه ښکاري. دده په ژباړل شوو آثارو کې هغه په زړه پورې اثر چې تر نورو زیات زموږ پام ځانته را اړوي د هند د نیمې وچې د نامتو ادیب اولیکوال رابندرناټ ټاګور (ګیتانجلي) دی، چې په لاندې کرښو کې به معرفي شي.

۱- **ګیتانجلي**: اروا ښاد استاد بېنوا د دې اثر په ژباړه کې خپل ټول هنري قوت کارولی دی، دا ژباړه روانه، هنري اوخوندوره ده، له یوې اردو خپرونې (۱۹۱۴م) څخه یې راژباړلې وه. لومړی ځل په ۱۳۳۶هـ. ل کال په کابل کې خپور شو.

یاده ژباړه دوهم ځل هم چاپ شوه خو پر یولړ سمونو او بشپړونو سربېره په ۱۰۴ مخونو کې د پیاوړي استاد پوهاند عبدالشکور رشاد ګټوري سریزې د اثر خوند لا نور هم ډېر کړ، چې د اثر د لیکوال په پرورښت، ژوند پېښو، ادبي، هنري، کلتوري، سیاسي چاپېریال اومهال باندې هم رڼا اچوي او په ترڅ کې یې د افغاني او بنګالي یا د هندي ولسونو ترمنځ تېرمهالې ادبي او ثقافتي اړیکې روښانوي.

د دې اثر بشپړ متن د استاد ((رشاد)) له سریزې سره (۱۵۵) مخه کېږي، خو په اصلي کې (۱۰۱) مناجات خوندي دي. دا ژباړلی په زړه پورې

اثر خپل مینه وال لري، دا ژباړه په هنریت او ظرافت ترسره شوې، چې د ټاګور د شاعرۍ قوي پیغام د دې ماهرانه ژباړې په برکت خوندي پاتې دی.

۲ – **د ډار مستېر پښتو ښېرنې**:

له فرانسوي ژبې څخه د دې اثر فارسي ژباړونکی سید قاسم رښتیادی، پښتو ژباړونکي یې پوهاند عبدالحی حبیبي او عبدالروف بېنوا دي. خپروونکی یې پښتو ټولنه، د خپرونو لړۍ (۲۷)، د چاپ نېټه ۱۳۲۶ هـ.ل، کابل عمومي مطبعه، ۱۱۲ مخه. دغه اثر په لنډیز ژباړل شوی، هغه مواد ترې را اخیستل شوي، چې په ژبنیو ښېرنو کې ګټور وو، همدارنګه هغه مواد چې د نوو معلوماتو په رڼاکې یې بدلون موندلی یا بل راز شوي یا نوموړي ختیځپوه له پښتنو سیمو څخه د لرېوالي له کبله سم نه دي درک کړي، استادانو یا ژباړونکو د کتاب په څنډو او حاشیو کې هغو ته نغوته کړې او په لنډه توګه یې نظرونه هم پرې لیکلي دي.

لکه څنګه چې څرګنده ده، دغه اثر استاد بېنوا او استاد حبیبي په ګډه ژباړلی، سره له دې چې په ژباړه کې ځینې برخې تلخیص شوې خو بیا یې هم امانتداري په پام کې نیولې ده، څه چې ډارمستېټر لیکلي هغه یې له دري متن څخه په پښتو ژباړلي خو په لمن لیکونو کې یې ضروري توضیحات ورکړي دي.(۶)

۳ – **د افغانستان لنډ تاریخ**:

دغه اثر استاد عبدالحی حبیبي لیکلی او اروا ښاد استاد بېنوا په پښتو ژبه ژباړلی دی. یاد اثر ۴۴۳ مخه لري، په ۱۳۵۶ هـ. ل کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا په دولتي مطبعه کې چاپ شوی، دا اثر په پیل کې د وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزیر یادونه او ورپسې له سریزې وروسته اصلي متن راغلی دی. دغه ژباړه په ځینو برخو کې له اصل څخه توپیر لري. د بېلګې په

توگه هغه فهرستونه، چې په دري متن کې راغلي په پښتو متن کې نه دي راغلي، لکه د اشخاصو او ځايونو نومونه، همدارنګه د محمدزيو دوره په کې حذف شوي دا د هغه وخت په شرايطو پورې اړه لري.

د يادونې وړ ده، چې د دې کتاب ډېر لږ تهوکونه لوستونکو او مينه والو ته رسېدلي او نور يې بې درکه شوي دي.

دغه ژباړه په وروستيو کلونو کې د اريک مؤسسې له خوا د اصلي متن له مخې تکثير شوې، چې هېڅ ډول تصرف نه دی په کې شوی. (۷)

د دې اثر ځينې نورې ژباړې هم خپرې شوې، چې دلته ورسره زموږ کار نه شته نو ځکه ورباندې بحث نه کوو.

۴ – **نظرې به ادبيات پښتو**:

ياد اثر پوهاندعبدالحي حبيبي په (۱۳۴۴هـ. ل) کال د استاد عبدالروف بېنوا په غوښتنه ليکلی دی.

اصل متن په دري ژبه کښل شوی، وروسته دغه متن د استاد بېنوا له خوا په عربي ژبه وژباړل شو او (۷۹) مخه يې په مصر کې د ((نظرة العابرة الی لغة البشتو)) ترسرليک لاندې په (۱۹۶۵م) کال په قاهره کې خپور کړ.

د پوهاند حبيبي په وينا د ياد اثر دري متن له لاسه وتلی او خپور شوی نه و. نوځکه دا رساله د ښاغلي سمندر غورياني له خوا په دري ژباړل شوې، متن يې له ژباړې وروسته ښاغلي روان فرهادي کتلی، وروسته ياده ژباړه پوهاند حبيبي ته سپارل شوې، استاد حبيبي د متن له کتلو وروسته ښاغلي زلمي هېوادمل ته لارښوونه وکړه، چې د پټې خزانې د ځينو شاعرانو د شعرونو دري ژباړه هم ورزياته کړي، او همدارنګه يې ځينې نور ضروري مواد هم پرې ورزيات کړل او اثر چاپ شو. (۸)

۵ – **لنډۍ**:

دا اثر په دري ژباړل شوی دی په ۱۳۳۷هـ.ل کال کې د راډیو افغانستان له خوا په ډېر ښه صحافت انځوریز چاپ شوی او ښېر مخونه یې ۱۷۶دي. د دې اثر چاڼ کوونکی او فارسي مترجم استاد بېنوا او انګرېزي ژباړونکی یې محمدابراهیم شریفي دی.

یاد اثر دوهم ځل د افغانستان د علوموا کاډمۍ د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا د خوشحال خان خټک د مړینې د دري سوم تلین د نړیوال سیمینار په مناسبت په ۱۳۵۸هـ. ل کال ۱۲۲مخه چاپ شو، د دې رسالې یو توپیر له لومړي چاپ سره دا و، چې انګرېزي ژباړونکی یې بل سړی، یعنې سعدالدین شپون و او بل دا چې لومړی چاپ مصور و، دا چاپ ساده دی.

په دې اثر کې ځینې غوره پښتو لنډۍ خوندي دي، ښايي په کورنۍ او نړیواله کچه د پښتو ژبې د شفاهي ادب د یوې مشهورې برخې د ځرګندولو دنده ترسره کړي د یاد اثر د ژباړې ژبه ساده او خوږه ده. (۹)

۶ – **پردېس**

دغه اثر د علامه اقبال لاهوري د (مسافر) نومي منظوم کتاب منظومه پښتو ژباړه ده، چې په ۱۳۲۱هـ. ش کال د انیس په ورځپاڼه کې ټوک ټوک خپره شوې ده.

۷ – **پاچاخان**

دا کتاب ښاغلي فارغ بخاري په اردو ژبه د عبدالغفار خان د فعالیتونو په باب لیکلی، چې استاد بېنوا له اردو څخه په پارسي ژبه ژباړلی دی او د ۱۳۳۸المریز کال د انیس په ورځپاڼه کې پرله پسې خپور شوی دی.

۸ – **آئینه سکندري**

د(المصقلة المرضیة للمرآه الرضیه) پارسي ژباړه ده.

د دې ژباړې یوه خطي نسخه د افغانستان په ملي آرشیف کې په ۴۷ ګڼه کې خوندي ده، اصل کتاب د امریکایي (یوسرفندیک) تالیف دی.

۹ – **ماکډولینه (نوې مېلمه)**

دغه اثر په انګرېزي ژبه لیکل شوی ناول دی، استاد بېنوا په پښتو ژباړلی او په کابل مجله کې په پرله پسې ډول خپور شوی دی. دا ژباړه هم خپل هنري خوند لري.

۱۰ – **پښتو متلونه**

په دې اثر کې د پښتو (۴۵۰) متلونه را ټول شوي، چې په دري او انګرېزي ژبو هم ژباړل شوي دي.

انګرېزي ژباړه یې عبدالمحمد (شینواري) کړې ده، د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا په ۱۳۵۸هـ.ل کال په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی، بشپړ مخونه یې ۴۵۳دي.

په دې اثر کې متلونه د الفبا په ترتیب راغونډ شوي سربېره پردې یې د کارونې ځای هم په ګوته شوی دی.(۱۰)

۱۱ - **شین کتاب**:

دا د لیبیا د واکمن قذافي د یادښتونو د مجموعې پښتو ژباړه ده.(۱۱)

دا وې هغه څو ژباړې چې زما په دې لیکنه کې لنډې معرفي شوې.

د استاد بېنوا د ژباړې ژبه ساده او روانه ده په ځینو خویې حتی د ژباړې ګومان هم نه کېږي، چې د ښې ژباړې یوه ځانګړنه هم همدا ده. دلته به یوائې د هغه د ډېرې مشهورې یعنې د هند د نیمې وچې د نامتو لیکوال

رابندرناټ ټاګور د ګیتاآنجلي ژباړې، چې ځانته خاص مینه وال او ویونکي لري څو کرښې به یې د ده د ژباړې د بېلګې په توګه را واخلو:

«دا کوچنوټی غوندې ګل وشکوه، وایې خله، ځنډمه کوه نه چې دا ګل مړاوی او په خاورو ولړل شي.

کېدای سي چې ستا په امېل کې به ورته ځای پاته وي، خو ته یې د خپل لاس د مېنود په درد سرلوړی کړه، او ویې شکوه.

زه بېرېږم چې زما تر خبرېدو دمخه، ورځ پای ته ونه رسېږي او د نذر وخت تېر نه شي.

زه دا منم چې رنګ یې ډېر تېز نه دی، خوشبو یې کمزورې ده. خو ته د خپل خدمت کار ځنې واخله، او ویې شکوه چې دغه وخت دی.

زما نغمې د ده ښکلا لړه کړې ده، د ده ښایست په کالو او آرایش نه ویاړي، پسول او ګېڼه زموږ وصل اخلالوي، او زما او ستا ترمنځ حائل کېږي، او په آواز کې یې زما او ستا پټې – پټې خبرې ورکېږي.

زما شاعرانه غرور ستا په وړاندې له شرمه ماتېږي اې د شاعرانو پاچا! زه ستا پښو ته ناست یم، ما پرېږده، چې خپل ژوند د یوې شپېلۍ په څېر ساده اوسم کړم چې یوازې ستا د پاره د موسیقۍ ساه په کې وچلېږي. (۱۲)

دغه ژباړه استاد بېنوا په پوره دقت هنري جذابیت او شاعرانه روح ترسره کړې ده. دغسې هنري ژباړې لوی هنرمند او شاعر غواړي، ارواښاد بېنوا د دې ټولو کمالونو درلودونکی و.

**اخځونه**:

۱ –عبدالقدیم، پتیال، پردېس بېنوا، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۷هـ. ل کال، ۴۴ او ۴۶مخونه.

۲ – حبیب الله، رفیع، په پښتو نظم او نثر کې د ژبارې بنسټ ایښودونکی، د ژباړې د سیمینار د مقالو ټولګه، کابل پوهنتون، ۱۳۸۲هـ. ل کال، ۱۰مخ.

۳ – احمدشاه، زغم، د ژباړې دوه اړخیزې فرهنګي اغېزې، د ژباړې د سیمینار د مقالو ټولګه، کابل پوهنتون، ۱۳۸۲هـ.ل کال، ۷۲ – ۷۳مخونه.

۴ – سیدمحی الدین، هاشمي، د لیکوالۍ فن، ۱۳۸۳کال، ۱۲۲ – ۱۲۳مخونه.

۵ – محمداجان، حقپال، ژباړنې او د ژباړنې څرنګوالی، د ژباړې سیمینار د مقالو ټولګه، کابل پوهنتون، ۱۳۸۲هـ.ل کال ۱۱۳ – ۱۱۴مخونه.

۶ – نصرالله، ناصر، د شلمې پېړۍ په فرهنګي ادبي بهیر کې د علامه حبیبي دریځ، د علومو اکاډمي، ۱۳۹۲هـ.ل کال، بهیر مطبعه، ۴۹۲ – ۴۹۳مخونه.

۷ – پورتنی اثر ۲۸۸مخ.

۸ – پورتنی اثر ۳۷۹مخ.

۹ – نصرالله، ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۳هـ.ل کال، آزادۍ مطبعه، ۳۶۵مخ.

۱۰ – پورتنی اثر ۲۶۶مخ.

۱۱ – عبدالروف بېنوا، ګیتا آنجلي، د پوهاند عبدالشکور رشاد سریزه، ۲۰۱۰م کال، کابل افغانستان، ۹۳مخ.

۱۲ – پورتنی اثر، ۱۰۹ – ۱۱۰مخونه.

پوهیالی عادله ساپي

# د فنا د زړه ټوټې

د هر تخلیقي او ایجادي اثرڅېړنه د هماغه وخت په هینداره کې په کار ده. د فنا عصر "شلمه پیړۍ" هغه عصر دی، چې په کې پښتو ژبې تازه تازه د کابل رسمي ادارو ته لاره موندلې وه، خو په ټوله معنا نه، په دې معنا چې نه چا په ښوونځي کې ځای ورکاوه او نه په پوهنتون کې او دربار خولا ډېره ستره خبره وه.

پښتو ژبه په دولتي کچه یواځې د څو کلیوالو او ښاریانو ژبه وه، چې هم هغوی پرې حد اقل لیک کولی شو او لامل یې هم د پښتو ژبې او ادب څو ستوري، لکه: استاد الفت، استاد خادم، استاد رښتین، استاد بېنوا، استاد حبیبي او... وو. زما په نظر پښتو ژبه د دوی په برکت تر موږ پورې راورسیده او ښاغلی فنا هم د دغې لړۍ د یوې کړۍ په توګه په کې رغنده رول لري، ښاغلي فنا د خپل قلم ورټیا په داسې ژبه کې وښوده، چې هغه مهال ورسره زموږ د ټولنې د ګوتو په شمار خلک هم بلد نه وو. ده د پښتو او انګریزي لیکنو ترڅنګ د نورو پښتنو لیکوالو او شاعرانو په څېر په دري ژبه کې هم اثار ولیکل، چې د ډېرو د پاملرنې وړ وګرځېدل او ډېرې نوې او د کار خبرې یې

په کې کړې وې، نو د نوموړي همدغو ارزښتونو ته په پام سره اړینه بولم، چې یو څو خبرې یې د ژوند په اړه هم ووایم: محمدجان فنا ساپی په ۱۳۱۱هجري لمریز کال کې د ډگر جنرال سعدالله خان ساپي په کور کې وزیږېد، خپلې لومړنۍ زده کړې یې په ۱۳۲۹هجري لمریز کال کې دتجارت په عالي لیسې کې په بري سره پای ته ورسولې او وروسته د لوړوزده کړو لپاره حربي پوهنتون ته لاړ، په ۱۳۴۳هجري لمریز کال کې یې له یاد پوهنتون څخه د لوړو زده کړو سند ترلاسه کړ.

فنا په ۱۳۴۸هجري لمریز کال د نظامي دوکتورا داخیستلو په غرض امریکې ته لاړ او هلته یې د پوځي زده کړو په برخه کې په کال ۱۳۵۰هجري لمریز کې د دوکتورا سند واخیست او بېرته خپل هېواد ته را ستون شو.

فنا نه یوائې پر هېوادمین افسر و، بلکې سیاسي شخصیت، لیکوال، شاعر، فنکار او د پښتو او دري ژبو تکړه او نومیالی خطاط هم و، چې تر اوسه پورې یې ډېر کم سیالان پیدا شوي دي.

ښاغلي فنا د وخت سیاست، ادب، ټولنیزو حالاتو او پېښو په اړه ډېرې مقالې او لیکنې کړې، چې د وخت په ورځپانو او مجلو کې خپرې شوې دي، خو کله چې په هېواد کې کودتاگانې پیل شوې، نو د نوموړي پر لیکنو باندې دغه لارې بندې شوې؛ ځکه ده د یو افغان لیکوال په حیث د هغه وخت له کودتاگانو سره جوړښت ونه کولی شو او مخالفت یې د وخت سیاستونو هضم نه کړای شو، نو ځکه یې پرې داخواني تور ولگاوه او کله چې په ۱۳۵۸هجري لمریز کال کې د ثور پر۲۳ نېټه له خپل کور څخه د مطبعې په غرض وواته، نو هماغه یې وروستي وتل ول او تر اوسه پورې یې د سلگونو او زرگونو انسانانو په څېر درک معلوم نه شو او بالاخره له څلوردېرش کاله ځنډ وروسته دا څرگنده شوه چې نوموړی یې په ۱۳۵۸هجري لمریز کال د ثور په ۲۵ نېټه له نورو ډېرو بې گناه خلکو سره یو ځای له منځه وړی و. روح دې یې ښاد وي.

د فنا اثار منظوم دي او که منثور د فنا د زړه ټوټې دي؛ ځکه د هر لیکوال لپاره د هغه لیکنې ډېر ارزښت لري او د فنا لپاره خو د هغه د زړه ټوټې دي.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه فنا په پښتو، دري او انګریزي ژبو پوهیده او په دري واړو ژبو کې چاپ او ناچاپ اثار لیکلي، چې په منظومو آثارو کې یې فریادي شاعر او د شاعر پسرلی چاپ شوي دي او په ناچاپو آثارو کې یې داورلمبې، چارګل، زما شرقي افکار، شریکه دنیا، عشق او ادب او د پتنګ په نامه آثار تر اوسه پورې د چاپ لارې څاري.

همدارنګه دی هنري نثري لیکنې او تحقیقي اثار هم لري، چې د هیواد په بېلابېلو ورځپاڼو او مجلو کې چاپ شوې دي. پر دې سربېره شکېدلي تارونه او عروس نامراد د فنا دوې لنډې کېسې دي، چې په ۱۳۳۸ کال کې د انیس په ورځپاڼه کې خپرې شوې دي او د شعله های جاویدان، ګل ستاره، ګلبرګها، قلم او شمشیر یې نورې نثري لیکنې دي.

د شاعر خیال، مات بنګړي، د ستورو امیل، غیره او د زړه ټوټې یې د ادبي ټوټو ناچاپ آثار دي، چې له بده مرغه لا هم د چاپ لارې څاري، خو تمه ده چې څوک پر فرهنګ او هیواد مین فرهنګي پیدا شي او د چاپ په ګاڼه یې سینګار کړي، ځکه دغه اثار له نېکه مرغه تر اوسه پورې هم زمانې پوپناه کړي نه دي.

لکه څنګه چې زما د مقالې سرلیک هم د فنا د زړه ټوټې دی، نو غواړم، چې د فنا پر همدغه اثر څه نا څه بحث وکړم، خو وړاندې تر هغې اړینه بولم، چې یو څو خبرې د ادبي ټوټو په اړه هم ووایم، ځکه موږ چې کله هم پر ادبي ټوټو بحث کوو، نو وړاندې تر هغې باید د ادبي ټوټو په اړه یو برداشت او ذهنیت ولرو. زما په اند ادبي ټوټه د هنري نثر یو ځانګړی ډول دی، چې ادبپوهان یې د منثور شعر او لطیف ادب په نوم هم

یادوي. البته په دې وروستیو کې خو ادبپوهانو د یو ځانګړي صنف او ژانر په توګه ادبي ټوټې معرفي کړي او د هغې په جوړښت یې هر اړخیزې خبرې کړې دي.

خو په هر صورت! د ادبي ټوټې د پیژندنې په لړکې ویل کېږي چې: «ادبي ټوټه اصلاً نثري لیکنه ده شعري کیفیت لري. نثري لیکنه خویې ځکه بولي چې د شعر د اصلي او اساسي توکي (وزن) له قید څخه آزاده ده، دغه ډول لیکنو کې د لوړې انشا خیال ساتل کېږي او تشبیهاتو، استعاراتو او کنایو استعمال په کې زیات وي.» (۱)

خو که لږ نور هم ورته ځیر شو، نو یوه بله باریکي هم په کې موندلی شو او هغه دا:

«...او یا په ژبه کې هغه خوږ نثري کلام ته وایي، چې په ډېرو باریکو، خوندورو او لنډو الفاظو کې جامع مطالب څرګند کړي. د وینا طرز یې ښکلی، هنري بڼه او ترکیب ولري.» (۲)

د ادبي ټوټو په فورم کې د منځپانګې له پلوه هر ډول ټولنیز مسایل مطرح کیدای شي او دغه ژانر په ځانګړي ډول شاعرانه خیالات، احساسات، عواطف او د لیکونکي ذهني او فکري انځور په خوږه ژبه او مناسبو ښکلو ترکیبونو کې څرګندوي. د ادبي ټوټو موضوعات او جوړښت اپیک او لیریک کېدلای هم شي.

ښایي ځینو لیکوالو ته دا پوښتنه پیدا شي، چې ادبي ټوټه د دومره ځانګړنو په لرلو سره د لنډې کیسې یوه برخه ده او یا هم خپله لنډه کیسه ده، خو حقیقت دا دی، چې دغه دواړه ژانرونه سره جلا او بېلې لارې تعقیبوي او که وخت یې راغی دا موضوع به هم په تفصیل سره وڅېړم.

د ادبي ټوټې نثر ته د بې قافیې نثر نوم هم ورکړل شوی او کله بیا ورته مسجع نثر ویل شوی دی، خو تر کومه چې زه معلومات لرم ادبي ټوټه د نورو هنري نثرونو او ژانرونو په څېر هر اړخیزې ځانګړنې نه په ګوته کوي. د لنډې کیسې په ډول نه وي

چې د پیل، اوج او پای برخه ولري. ادبي ټوټه اکثراً حکایوي وي او په خوږه ژبه د واقیعت انعکاس وړاندې کوي. (۳)

په پښتو ادب کې د ادبي ټوټې پیل په شلمه پیړۍ کې ګڼل کېږي او په افغانستان کې د دې ادبي ژانر وده د ویښ زلمیانو د غورځنګ پر مهال زیاته ترسترګو کیږي.

ادیپوهان په پښتو ادب کې د ادبي ټوټې پنځګر سید رحت الله راحت زاخیلی بولي او تر هغه پسې وروسته د ګل پاچا الفت غوره نثرونه، حمزه شینواري، اجمل خټک، قلندر مومند، محمداجان فنا، محمدالدین ژواک نومونه د ادبي ټوټو په سرلاړو کې شماري، چې په دې برخه کې یې ښې تجربې کړي دي. (۴)

پوهان په دې نظر دي چې ادبي ټوټې د بل هر هنري ادبي ژانر او صنف په پرتله یو په زړه پورې ژبنی هنر دی چې لیکوال یې ښکلایي اړخ ته خاصه او ځانګړې پاملرنه کوي. کلمات یې ښکلي او رنګین، ژبه یې ساده وي. (۵)

پور ته آرونو ته په کتلو سره ویلای شو، چې یادې شوې ځانګړنې ډېر ځله د فنا په ادبې ټوټو کې لیدلای شو؛ ځکه د فنا په ادبي ټو ټوکې د مینې خبرې راغلي او د مینې خبرې یې په تغزلي او شاعرانه جملو کې نغښتې دي، زما په نظر د فنا ادبي ټوټې د یو عاشقانه فلم لنډې صحنې ته ورته دي، چې د ډېرې رنګینۍ په وجه د انسان په زړه خوله لګوي، د نوموړي په هره ادبې ټوټه کې د یو مین تلوسه، ارمان او د مینې تنده نغښتې وي. کله کله د مینې دا شوخي دومره غالبه شي، چې بې اختیاره خپله معشوقه په غیږ کې ونیسي. لکه په دې ادبي ټوټه کې :

## رباب

زه کېناستم او ته مې په غېږ کې ونیولې. زما ګوتې غوږونو، ستا د پښتنې غاړې، ستا د طلایي وېښتانو، د تارو د ټېر کلاباتو او وریښمینو ځوندېو سره لوبې کولې، چې تا رانه پوښتنه وکړه: ولې مې غوږونه کشوې، د زلفو تارونه مې شمېرې او له غاړې نه مې ګوتې تاووې او کله چې پوه شوې، چې ته زما د شعر رباب یې نو زما د سندرو په غېږ کې ویده شوې.

**«مات بنګړی» د ادبي ټوټې ناچاپ اثر**:

د فنا د ادبي ټوټو یوه خوبي دا ده، چې لنډې دي او بله خوبي یې دا ده، چې مفاهیم په لنډو جملو کې رانغاړي او ژبه یې کومه پیچلتیا نه لري او په ادب او په ټوله کې په ټولو علومو کې مهمه خبره دا ده، که چېرې غواړئ، چې لوستونکی مو په اسانۍ سره په مطلب پوه شي، نو جملې لنډې او ساده لیکئ.

## ژوندی شعر

هر چېرې چې د ژوند نوم اخیستل کېږي، نو د انسان په ذهن کې د خوځښت او حرکت مفهوم تداعي کوي، ځکه چې ژوند سرور دی او مرګ یو مړ روکود، د فنا په طبیعت کې رومان غځونې کړي او د دې ټوټې په بند یې ژوندی شعر ویلی دی:

«کله چې ته پوه شوې، چې زه شاعریم نو که څه هم نه قلم و او نه کاغذ، ما نه دې وغوښتل چې په خپلو ګوتو ستا پر سپین ټټر باندې یو څه ولیکم، سم چې ما ستا پر سینه ګوته کېښوده ستا د وجود د حرارت او د زړه د نڅا موسیقي زما د شعر په رګونو او غوږونو کې وځغلیده او دا دی هغه ژوندی شعر، چې اوس به ستا په غوږونو کې زما د زړه د ترانو رازونه ووایي»

په پورته ټوټه کې د فنا ژبه له هر راز بې ځایه پیچلتیا څخه پاکه او روانه ده او د دې ترڅنګه یې یوه ښکنه دا ده، چې په یوه جمله کې دوه تصویرونه وړاندې کوي. کله چې ته پوه شوې چې زه شاعریم که څه هم نه قلم او نه کاغذ و، خو له مانه دې وغوښتل چې پرخپلو ګوتو ستا پرسپین ټټر باندې یو څه ولیکم، دلته لیکوال د خپلې سیمې د یو شاعر بې وسې او ناداري هم انځوروي او په ډاګه کوي، چې د یو قلم او کاغذ د پیداکولو توان نه لري له بله پلوه د خپلې معشوقې په ټټر د ګوتو ایښودلو لپاره دقلم او کاغذ نه موجودیت له امله یو ښه دلیل هم پیدا کوي او خپلې ادبي ټوټې ته یوه داسې رنګینې وربښي چې تر اخره ربښتیا هم د یو ژوندی شعر روح ښیي.

## رڼا

لکه څرنګه چې بریښنا د سیمونو په تارونو کې ځي راځي ستا مینه زما د وجود په ټولو رګونو کې ځغلي، نو که زه شعر وایم دا ستا هغه مینه ده، چې زما له خولې نه راوځي او خامخا به په یو وخت ټول جهان روښانه کړي.

د مینې وجود رښتیا هم یواځې له بریښنا سره تشبیه کیدای شي، مینه هغه وړمې ته ورته ده، چې احساس یې ډېر غالب او وجود یې غایب وي، تاسو د ګلو یوه وړمه احساسولی شئ، خو لیدلی یې نه شئ، کله چې په شلمه پیړۍ کې د بریښنا راتګ نوې تخنیکي پدیده ده، نوې تشبیه ده، نو مینه د انسان په رګونو کې راغلې او بریښنا د سیم په تارونو کې، خو بیا هم فنا دلته د معنویت ابدي مسایلو او د مادیت فنا کیدونکي مفهوم ته ګوته نیولې ده. (فنا) وایي: چې د سیم په لوټ ځغلیدونکې بریښنا یواځې یو کوټ وایي

دا ستا مینه ده چې زما له خولې نه راوځي او یوه ورځ به ټول جهان روښانه کړي، نو تعبیر همدا دی چې مینه هم هغه روښانه مفهوم دی چې رڼا ګانې ویشي خو همیشه معنویت دی، ټوله نړۍ روښانه کوي. مینه یوه داسې غریضه ده چې هیڅ ابهام او ستم نه مني، په مینه کې د ژوند ټولې ارزو ګانې په هینداره کې لیدل کیږي.

## د ستورو امیل

زه به نو د سرو زرو او جواهرو دانې له کومه راوړم، چې تا ته ورنه امیل جوړ کړم. دا پاس په اسمان کې ځلانده ستوري ډیر ارزانه دي، زه به دا ستوري د خپل شعر په تارونو کې ونیسم او ځکه چې ته زما د شعرونو ناوې یې ستا په غاړه کې به یې دړ واچوم. خو د ستورو امیل به یې د ورځې ستا د مخ په پلوشو کې او د شپې به ستا د اوښکو په وړانګو کې نه معلومیږي.

د ستورو امیل ناچاپه مجموعه کې هم زموږ له یو بل ټولنیز غربت څخه پرده پورته کوي او وایي چې زه به سره زر له کومه کړم د جواهرو دانې به له کومه راوړم، چې تا ته ترې امیل جوړ کړم، دا پاس په اسمان کې ځلانده ستوري ډیر ارزانه دي زه به دا ستوري د خپل شعر په تارونو کې و نیسم؛ ځکه چې ته زما د شعرونو ناوې یې؛ ځکه زموږ په ټولنه کې داسې روایتونه شته چې وایي ځمکه د غربت کټ دی، خپله ځنګل یې بالښت او شین اسمان یې بړستن. معنا دا چې هیڅ نه لري نه کټ نه بړستن نه بالښت. فنا هم خپل محبوب ته وایي چې د طلا او جواهرو غمي خو په پیسو کیږي او زه خوار شاعر به پیسې له کومه کړم، خو د فن مظاهره بیا دومره زوروره را پیژني چې د خپل سیم په تارونو کې د خاموشه شین اسمان ځلانده ستوري هم پیېلی

شي او بیرته د خپل محبوب بې وسۍ او غریبۍ شپې پر مهال د هغه په او ښکو کې د لوستونکي په ذهن کې تصویروي.

## هینداره

په دې ټوټه کې محمداجان فنا خپل شعر له هغې هیندارې سره تشبیه کوي، چې معشوقه یې خپل ځان په کې سینګاروي او تشبیه د ده د سینګار ننداره کوي، نو دی وایي:

تا هینداره واخیسته چې خپل مخ په کې وګورې، د سترګو رانجه د شونډو رنګ او ده وریځو خط او زنې خال په کې تازه کړې، خو په همدغه هینداره کې ما درته کتل، چې ته په خندا شوې، هو دا د شعر هینداره ده، چې ته هر وخت ما په کې لیدلی شې.

## د شعر شراب

د شعر شراب د هر شراب څخه ښه دی؛ ځکه هغه نیشه چې زما د شعر په شرابو کې شته هغه په نورکې نه شته ځکه د شعر شراب تل د یار د سرو شونډو د حسن او ښکلا څخه جوړ وي او هر څوک نیشه کوي، نو څه ښه وایي:

د هغه سره شراب څښل چې څو سرې ګل پاڼې په کې نڅیدلي ستا د شرابو نیشه به زر تمامه شي، خو زما د شعر د شرابو نیشه چې زه په کې ستا شونډې ستایم ټوله زمانه نیشه کړې. (ادبي ټوټې ناچاپه مجموع)

**اخځونه**:

۱ – هاشمي، محقق سیدمحی الدین: د لیکوالۍ فن، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۱ لمریز کال، ۹۷ مخ.

۲- سیدي، سیدنظیم: پښتو لنډه کیسه او ادبي تړه، صمیم ادبي ټولنه، ۱۳۸۷ لمریز کال، ۹۳ مخ.
۳- دژبپوهنې بنسټونه، ۹۲- ۹۳ مخونه.
۴- دژبپوهنې بنسټونه، ۹۱-۹۲ مخونه.
۵- نیازی، شهسوار سنګروال: د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، میهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ؟ کال، ۴۱۰ مخ.

پوهنمله صحرا عليزی

# د منشي احمد جان د هنري نثر ارزونه

سریزه:

کـه ادبیـات پـه دوو (نظم او نثر) برخـو وویشـو، نـو دادبیـاتو دا هـره برخـه بیلابیـل ډولونه لري، زه دلته د ادبیاتو د نورو برخو او ډولونو په هکله څه نه وایـم، د منشي احمد جان د هنري نثر په ارزونه او د هغه په لنډه پېژنه رڼا اچوم:

هر لیکوال د خپلې پوهې او استعداد پـه درلودلو او د لیکـوالی لـه اصولو سره سـم لیکنه کوي خو هنري نثر لیکل ځانګړي استعداد ته اړتیا لري، هنري نثر لیکـل بایـد د ادبي فنونو په ګاڼه رنګین او پسوللي وی، منشي احمد جان هغه لیکوال تېر شوی دی، چې په هنري نثر لیکلو کې له پوره پوهې او ځیرکتیا برخمن دی.

مخکې تر دې، چې د منشي احمد جان د هنري نثرونو پـه ارزونـه څـه ووایـم، ښـه بولم، چې لوستونکو ته د منشي احمد جان لنډه پېژندنه وړاندې کړم:

منشي احمد جان د قاضي عبدالرحمان زوی په (۱۸۸۲م) کال دسمبر میاشت د بنو په کلي کې زېږېدلی، چې پلار یې اصلاً د افغانستان د غزني ولایت د حضرت کلا اوسېدونکی و.

منشي احمد جان د خپل وخت مروج علوم لوستي او ډېر وخت یې د برتانیې فوځي افسرانو ته پښتو ژبه ور زده کوله، د درس او تدریس تر څنګ یې په پښتو ژبه کیسې، حکایتونه او نور مختلف هنري نثري آثار او مضامین لیکلي او پنځولي، چې د ځو مشهورو آثارو نومونه یې:

۱ – د ښو ښو کیسو لومړنۍ نثري مجموعه (ګنج پښتو) ۲ – هغه دغه، ۳ – د قصه خوانۍ ګپ، ۴ – د افغانستان تاریخ (پښتو ژباړه)، ۵ – د سلطان محمود تاریخ، ۶ – انګریزي ګرامر، ۷ – اردو ګرامر، ۸ – متلونه دي، زموږ د غوره نثري ادبي لیکنو د بڼ دغه بڼوال په (۱۹۵۱م) کال د ډېرو تنباکو د کارولو له امله د (۶۹) کالو په عمر ومړ، اروا دې یې ښاده وي. (۱ : ۲۳۵ مخ)

نوموړي خپل ټول هنري نثرونه دومره په ښکلي انداز سره کښلي او دومره یې د هنریت په ګاڼه پسوللي، چې په لوستلو سره یې هر لوستونکي ته دا اند او فکر پیدا کیږي، چې ده په خپله لکینه کې له څومره دقت او خلاقیت څخه کار اخیستی دی، هر لوستونکی ځان ته مجذوبوي، د احمد جان د هنري نثر همدې مجذوبیت دې ته وهڅولم چې زه (د منشي احمد جان د هنري نثر) په ارزونه باندې یوه مقاله ولیکم، ځکه چې دده په ټولو نثرونو کې له یوې خوا ډېر په زړه پورې فکرونه، اندونه او پیغامونه پراته دي او له بلې خوا د پښتني ټولنې او چاپېریال په روزنه کې هم مهم رول لوبوي او ددې تر څنګ یې خپل نثرونه په ډېرو لنډو او قریب الفهمه الفاظو سره لیکلي، چې د لوستلو پر مهال ترې ډېر ژر مطلب اخیستل کیږي. او بله مهمه خبره

داده، چې نوموړي خپل ټول نثرونه دومره په ښکلي سبک او اسلوب سره ليکلي، چې د لوستلو پر مهال يې داسې فکر کيږي، چې سړی هر څه په خپلو سترګو ويني.

لنډه دا چې د منشي احمد جان ټول هنري نثرونه هم خوندلري او هم له پندونو نه ډک دي، دا ټول شهکارونه د يوه با استعداده او ادبي هنري ليکوال نخښه ده، چې منشي احمد جان له دې څخه برخمن دی.

ډاکټر زېورالدين زېور په خپل اثر د (پښتو ادبياتو اوسنۍ دوره) کې د منشي احمد جان د نثر په اړه ليکي : د منشي احمد جان د نثر مهم خصوصيت دا دی، چې هغه په خپل نثر کې خواږه او ښکلي عبارات را وړي او لنډې لنډې جملې يې ښه ادا، سلاست او رواني، د لغاتو سوچه والی، متلونه، اصطلاحات چې ګڼې محاورې ته نږدې دي، راوړي، چې د منشي احمد جان ليکنې د ښکلي فورم او پښتو محاورو ته په نږدې کولو کې لوی لاس درلود او داسې آثار يې ليکلي، چې په پښتو نثر کې شهکار بلل کيږي. (۱ : ۵۰مخ)

مخکې له دې، چې د منشي احمد جان په هنري نثر خبرې وکړو، د نثر پېژندنه اړينه ده :

نثر په لغت کې پاشلو او شيندلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه وينا يا ليکنه چې د وزن او قافيې له بند او قيد څخه ازاده وي، په بله وينا : دژبې هغه غير نظمي برخه چې د عادي خبرو اترو څخه لوړ او د فصاحت او بلاغت څخه ډکه وي نثر بلل کيږي.

که چېرې په هنري نثر بحث وشي؛ نو بيا هنري نثر داسې پېژنو : هغه ليکنې ويناوې، چې ادبي ارزښت ولري هنري نثر بلل کيږي.

هنريت يا هنري ارزښت هغه ځانګړنه د، چې په ليکنو کې د عادي نثر او هنري ادبي نثر توپير را مينځ ته کوي او يو له بله يې سره بېلوي، د هنري يا

ادبي نثر په لیکنه کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایل د یو مطلب یا واقعیت د افادې له پاره بنسټیز ارزښت او اهمیت لري، لیکوال؛ هغه څه چې لیدلي، اوریدلي یا احساس کړي وي او یا یې په ذهن او خیال کې را وګرځي بیانوي، په ادبي یا هنري نثر لیکنه کې تخیل ستر رول لوبوي، دغه تخیل د ځواک په مرسته په خپله لیکنه کې داسې جذب او ځواک مومي، چې زړونو ته په اسانۍ او ژر لار پیدا کوي. (۶ : ۳۹مخ)

هغه څه چې د منشي احمد جان نثري لیکنو ته یې ښکلا وربخښلې هغه د هنري – ادبي نثر په جوړښت کې د اساسي توکه کارونه او پاملرنه ده، چې د نوموړي هنري نثر ته یې ځانګړی خوند او رنګ ورکړی دی. هغه اساسي توکي چې د هنري – ادبي نثر په فصاحت، بلاغت، سلاست او روانۍ کې رول لري عبارت دي له:

- تخیل، چې د هنریت یا هنري ارزښت اساسي برخه ده او په هنري نثر لیکنه کې لومړنۍ ځانګړنه هم بلل کیږي.

- سلاست او رواني: دا هم د هنري نثر بله مهمه ځانګړنه ده، چې په لیکنه کې جملې له کرکیچ څخه ژغوري او لیکنۍ جملې داسې محاورې ته یې نژدې کوي، چې له عادي ویناوو یې خیال او فکر لوړ او د حقایقو د سپړنې او موندنې لار په کې د هنریت په ځواک رڼه شوې وي.

- جذابیت او زړه راښکون د هنري نثر بله ځانګړنه ده، چې د دې ډول نثر لیکوونکي د وینا اصلي مطلب، فکر او عواطف په ډېره چټکۍ سره لوستونکي او اوریدونکي باندې اثر ښیندي

- د لفظ او معنا برابري، د هنري نثر بله مهمه ځانګړنه ده، چې د هنري نثر په لوستنه کې لوستونکي او اورېدونکي ته د مطلب معنا ژر په لاس ورکوي او د لوستلو پر مهال یې د پاملرنې جاذبه پیاوړې کوي.

په لنډه توګه ویلی شو، چې د هنري نثر لیکنی سبک له نورو عادي نثرونو سره جوت توپیر لري، دا ځکه، چې په هنري نثر کې له تخیل، منظر کښنی، جذابیت او زړه راښکون، د لفظ او معنا برابري، سلاست، فصاحت او بلاغت په پام کې نیول کیږي او په ډېر ژور فکر سره وړاندې کیږي او همدغه یې د جوړښت اساسي توکي دي. (۷ : ۴۱ مخ)

که د منشي احمد جان هنري نثر ته د ژبې، منځپانګې او فورم له مخې کتنه وکړو، ویلی شو، چې د ژبني جوړښت له پلوه د نوموړي هنري نثر د ژبې د ګرامر په اصولو برابر، جملې او عبارتونه یې لنډ، ساده او روان دي، د نورو ژبو سخت او درانده لغاتونه په کې ډېر کم راوړل شوي، د کلمو جوړښت او کارونه یې عالي او عام فهمه ده، لوستونکي ته ذهني ستړیانه را منځ ته کوي، د لا لوستلو او مطالعه کولو شوق او علاقه را مینځ ته کوي.

که د نوموړي هنري نثر ته د منځپانګې له پلوه پام وکړو، دې پایلې ته رسېږو، چې منشي احمد جان د نثر لیکنې په دې برخه کې هم ډېر قدردان دی، تعلیمي موضوعات، کمیډي، ټوکې، اصطلاحات، طنزونه، حکایتونه، لنډکۍ او لنډې کیسې یې په پند او خوند سره لیکلې او وړاندې کړې دي، د لوستلو پر مهال لوستونکی جذبوي تر څو مطلب تر پایه ولولي.

که د منشي احمد جان هنري نثر ته د فورم له مخې نظر واچوو، د هنریت په ټولو مزایاوو او ارزښتونو ښکلی دی، هغه اساسي توکي چې د هنري –

ادبي نثر په لیکنه کې ضروري دي، ده په ترتیب سره کارولي او د خپلو هنري لیکنو جذابیت او هنریت یې پرې رنګین کړی دی.

دلته غواړم، چې د منشي احمد جان د هنري نثر ځانګړنو ته هم نغوته وکړم، چې په لاندې ډول دي:

## د منشي احمد جان د نثر ځانګړنې:

- د نوموړي په نثر کې؛ ټوکې، طنزونه، حکایتونه، لنډکۍ او لنډې کیسې په ډېره ښه توګه سره وړاندې شوې دي.
- په نثر کې یې د موضوع په لحاظ؛ سیاسي – ټولنیز، کلتوري، انتقادي، اقتصادي او نور ګڼ شمېر حقایق او واقعیتونه وړاندې شوي دي.
- د پېچلو ترکیبونو او سختو لغاتو له کارولو یې ډډه کړې، که یې کارولي هم دي ډېر کم او په وضاحت سره راوړل شوي دي.
- له بدیعي صنعتونو یې ډېر ښه او پر ځای کار اخیستی.
- د نورو ژبو له ویپونو (لغاتو) یې د اړتیا له مخې کار اخیستی.
- په لیکنو کې یې په زړه پوره پندونه او پیغامونه پراته دي.
- د وخت حالاتو او اړتیاوو ته په کتو سره یې سمې لیکنې کړې دي.
- ډېر لوی لوی مطالب یې په لنډو الفاظو کې ځای کړي او ټولنې ته یې وړاندې کړي دي.
- د لیکنو اکثره موضوعات یې پند او نصیحت جوړوي.
- د نثر منځپانګه یې قصې، تعلیمي موضوعات، حکایتونه او کمیډي تشکیلوي. (۵ : ۱۹ مخ)

پورتني درې ګوني تحلیل او د نوموړي د هنري نثر ځانګړنو ته په کتو سره ویلی شو، چې منشي احمد جان د هنري او ادبي نثري لیکنو په اوډنه کې نامتو او د لوړ

استعداد خاوند دی، د ځانګړنو له مخې دده د نثري ليکنو مثبت ارزولو علت دا دی، چې په لوستلو کې پېچلتيا نه لري، عام فهمه او روان مطالب يې په ذهنونو کې ژر ځای نيسي او موخې په اسانۍ سره ترې اخيستل کيږي.

نوموړي شعر هم ويلی خو د شعر په نسبت يې نثر ته ډېره پاملرنه کړې ده، شعر يې هم له پوره خوند او پند برخمن دی، چې حکايوي او نصيحتي جنبه لري.

دلته به د بېلګې په توګه د مولوی احمد جان د نثري کيسو يوه پارچه را واخلو:

**د سلطان او غلام حکايت:**

خلک وايي؛ چې د محمود غزنوي (پادشاه) خپل غلام (اياز) ډېر خوښ و، ځکه به د ټولو وزيرانو او درباريانو هغه سره کينه او بغض و، يوه ورځ دوی ورته ووې؛ چې اياز هره ورځ جواهر خانې ته ځي او څه پټوي، پادشاه ووې، څو پورې مې چې په خپلو سترګو نه وي ليدلی، زه باور نه کوم.

بله ورځ يې بادشاه بيا خبر کړ، چې اياز جواهر خانې ته تللی دی، بادشاه په سوري کې ورته کتل، څه ګوري، چې اياز يو صندوق (سندوق) لرې کړ، خيرنې او شلېدلې جامې يې ترې را وويستلې او وايې غوستلې، چې بادشاه دا وليدل، د ننه ورغی او تپوس يې وکړ، چې اې ايازه! داسې خيرنې جامې دې ولې واغوستې؟

هغه ځواب ورکړ؛ چې قربان دې شم زه چې ستاسو نوکر نه وم، نو زما دا جامې وې اوس نو ستا په مهربانۍ مې چې پاکيزه جامه بيا مونده؛ نو خپلې زړې جامې واغوندم او ورته وګورم، چې هغه خپل پخوانی حال را نه هېر نه شي او ستا په نعمتونو شکر وباسم، کله چې هغه دا خبره واورېده ؛ نو ډېر صفت يې وکړ او ور تر غاړې ووت او د هغه مرتبه يې لوړه کړه. (۴ : ۴۹ مخ)

لکه څنګه چې ليدل کيږي، د پورتني حکايت الفاظ لنډ، ساده او روان مفهوم لرونکي دي او کومه پېچلتيا نه لري او ددې حکايت تر څنګ د تشبه ګانو، استعارو،

کنایو، مجازونو، سوال او ځواب او نورو ادبي فنونو په واسطه ښکلي شوي او ښکلي پیغامونه یې هم د یو پند په توګه ټولنې ته وړاندې کړي.

شکر ادا کول د الله ج په ورکړل شویو نعمتونو، شکر کول د مال او د نعمتونو زیاتېدو سبب ګرځي.

حضرت رسول کریم، فرمايي: څو شیان چې چا ته ورکړل شي، هغه ته د دنیا او اخرت خیر ورکول کیږي:

۱-د ذکر کوونکي ژبه، ۲-د شکر کوونکي زړه، ۳-د صبر کوونکي بدن. (۲ : ۱۴۴مخ)

**پایله**:

هنري نثر هغو لیکنو ته ویل کیږي، چې په هغو کې د هنري ارزښت ځانګړنه پرته وي، واقعیتونه په رنګینو او خوندورو الفاظو کې را نغاړي، د لوستوونکو پام ځان ته جلبوي، د لوستلو پرمهال ذهني ستړیا او پېچلتیا نه را مینځ ته کوي، مطالب یې روان او له سلاست ډک وي، د نورو ژبو لغات او سخت اصطلاحات پرته له ډېرې اړتیا نه په کې کارول کیږي.

پورتنۍ اشارې ته په کتو سره د منشي احمد جان هنري نثرونه هم له پوره فصاحت او بلاغت برخمن دي، تر ټولو ښه ځانګړتیا یې داده، چې اوږده اوږده مطالب یې په لنډو، عام فهمو او روانو جملو کې راوړي او ترسیم کړي دي. همدغه سلاست یې نثرونو ته د هنریت ارزښت وربخښلی، حکایتونه، پندونه او نصیحتونه یې له پوره لارښوونو برخمن دي، هر لوستونکی ځان ته جلبوي، پند ترې اخلي او خوند ترې اخلي، دده د نثر په لوستلو کې د ذهني ستړیا احساس نه کیږي، څه یې چې لیکلي د اوسنی محاورې سره همغږي لري، چې دا هم د نوموړي د هنري -ادبي نثر مهمه ځانګړنه ګڼل کیږي. د لیکنو بل ښه والی یې دا دی، چې د معلوماتو د ورکړې جنبه

لري، يعنې د هر ژور مطلب نه يې لوستونکی ډېر معلومات تر لاسه کوي او هم يې له لوستلو خوند اخلي.

**اخځليکونه**:


۱ – روهي محمد صديق: پښتو ادبياتو تاريخ، دويم ټوک، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۷۸ ل.

۲ – زېور، زېورالدين: پښتو ادبياتو تاريخ اوسنی دوره، کابل، د ساپي د پښتو خپرونو د پراختيا مرکز، ۱۳۸۶ ل.

۳ – سنگروال، شهسوار: داستاني او هنري ادبيات، پېښور، د پيغام خپرندوی مرکز، ۱۹۸۳ م.

۴ – منشي احمد جان: پېښور، قصه خواني گپ، ۱۹۸۶ م.

۵ – خليل، هميش: پښتانه ليکوال، پېښور، يونيورستي بک پبليشرز، ۱۴۲۸ ق.

۶ – هاشمي، سيدمحي الدين: د نثري ادب ډولونه، کابل، وحدت خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ ل.

۷ – يزال، يارمحمد: د دريمې ادبي دورې منثور متون درسي کتاب، کابل، پوهنتون نشرات، ۱۳۸۶ ل.